## په روغتون کې

ډاکټر سورج د ناروغ د الټرا سوند (ټلويزيوني معاينې) رپوټ پر مېز وويشت. د مخ تور رنګ يې له غوسې شين شو. په غټو سترګو کې يې چې تور يې تر سپينو کوچني ښکارېدل، سرې ليکې وځغلېدې. د تور بخونو شونډو په کونجونو کې يې سپين ځګونه ښکاره شول. په هندي ژبه لګيا و، خبرې يې بادولې.

لينا د هغه خبرې ډاکټر حميد ته ترجمه کړې: دی وايي ناروغ بيخي درد نه لري او تا ورته په تريخي کې ډېرې تشخيص کړې.

ډاکټر حميد سورج تر لاس ونيو، ناروغ ته يې وويل: راځه.

له دويم پوړه لاندې تکاوي ته ورکوز شول. په لاره کې چا خبرې نه کولې، د ډاکټر سورج د ستمي آواز اورېدل کېده. د تکاوي د دهليز بر سر ته ورسېدل، د الټرا سوند کوټې ته ورننوتل. ډاکټر حميد ناروغ ته وويل: وروره! ته يو ځل بيا ځمله چې زه تيرې وروښيم.

ماشين يې چالان کړ. د ټلويزيوني معاينې پروب يې د ناروغ پر نس کېښود، ويې ويل: نس دې وپړسوه.

د ماشين پر سکرين يې تصوير ودراوه. په تصوير کې د هګۍ په اندازه د ځاځکي په څېر توره کځوړه ښکارېده. د کځوړې سپين دېوالونه د پوکڼۍ په شان نري وو. په منځ کې يې درې داني سپينې هلال شکله نيم دايرې پرتې وې، دغو شکلونو سرې ته د اوو شپو سپږمې، ويالې له [illegible] تر تورو [illegible] ری غځېدلي و.

حميد په ګوته باندې سورج ته سپين هلالونه وروښيل، په انګريزي يې ورته وويل: وګوره، دا يوه، دا يې بله، دا يې بله. ودې ليدل؟

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکتر سورج تصوير ته سترګې ښخې کړې وې، ناروغ ته يې وويل: ته د باندې ووځه.
هغه چې ووت، د ډاکتر خوله جينګه شوه، حميد ته يې کړه: هو، هو، بيخي سمه ده، ډېرې شته؛ خووو...
زنه يې وګروله.
حميد ورته وچې سترګې نيولې وې.
سورج وويل: اممم، نو درد ولې نه لري؟
حميد ورته کړه: ډاکتر صاحب! ته خو پوهېږې چې څو پورې تريخی ګزک نه وي کړی يا دا چې ډېرې د صفرا لاره نه وي بنده کړې، مريض ته درد نه پيدا کېږي.
هغه په تصوير کې د تريخي پر دېوال ګوته کېښوده، ويې ويل: هه دا وګوره. د تريخي دېوالونه بيخي نارمل دي، وينې! بيخي نري دي. ګزک نه لري. که ګزک وکړي؛ نو بيا خو پړسېږي کنه.
ډاکتر سورج هغه پر اوږه وټپاوه، په موسکا يې وويل: ډېر ښه، ما ويل وګورم چې همکاران مې څنګه دي؟
دا يې وويل او له خپلې ترجمانې سره ووت.
حميد له ځانه سره وبونګېد: احمقه! پخپله په هېڅ نه پوهېږې، بيا په ما باندې ببرېږې.
لينا چې له کوټې څخه وتله او ور يې په ځان پسې پورې کاوه، شا ته يې وکتل. حميد ته يې په ګلابي شونډو کې وموسل، پر ټېک باندې يې د ښې لاس نرۍ ګوته تاوه را تاوه کړه، مانا دا چې سورج ليونی دی، ګوزاره ورسره وکړه.
حميد له کوټې ووت، مخامخ د اکسرې کوټې ته ورننوت. جميل ته يې حال ووايه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمیل وویل: دا ارامونی چې هر یو راشي، اول په موږ باندې خپل سیاست کوي. زما په فکر دوی موږ مالوموي چې په څه پوهېږو که نه پوهېږو؟
حمید لویه ساه واخیسته: نه داسې نه ده. خدایزده چې دوی هلته نرسان دي که څه بلا دي؛ خو دلته د ډاکترانو په نامه راځي. ته دغه بده بلا وګوره، ما ته خو بیخي بېسواده ښکاري.
د مېز پر سر پراته کاغذونه یې سم کړل، بیا یې وویل: ګوره! د اتم صنف یو استاد مې رایاد شو. موږ ورته ((چنګېز)) وایه. زه کپتان وم. استاد چې صنف ته راننوت، ما ولاړ سئ وویل. ټول شاګردان ودرېدل. استاد د چوکیو په منځ کې د صنف تر اخره پورې لاړ. ټول ټولګیوال لکه عسکر درېدلي وو. د استاد د ګامونو اواز مې اورېده چې وار په وار سره لرې کېده، بیا کرار کرار رانژدې شو. ما ته چې راورسېد، مخامخ راته ودرېد، د روسي کلونیا تېز بوی ځنې لتېده. ما یې نکټایي ته سترګې ښخې کړې وې چې بې پوښتنې یې داسې کلکه څپېړه راکړه چې سترګې مې ورسره وبرېښېدې. ویې ویل: سړی همداسې ((ولاړ سئ)) وایي؟
خبره یې په دومره زوره وکړه لکه پنځوس متره لرې چې ولاړ وي. بیا یې خپله کتابچه راکړه چې: هه، دا درواخله، شاګردانو ته نوټ ووایه.
دی د صنف اخر سر ته لاړ، په چوکۍ باندې کرار کېناست. نور نو هره ورځ یې دغه کار و، ما به نوټ ورکاوه، دی به د صنف په اخر کې ناست و. د هغه په ساعت کې به هېچا شیطاني نه شوه کولای. ډېر بدقاره و. تا به ویل چې دی به شا ته ناست وي؛ خو یو وخت به دې لیدل چې سر ته دې ولاړ دی. هره ورځ به یې نوټ په ما باندې لوسته. موږ بیا وروسته خبر شو چې غریب په هېڅ نه پوهېږي. نوټ یې له نورو استادانو اخیستی و. موږ یې په اوله ورځ ځکه وېرولو چې بیا ورنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه ونه کو. زه چې دا هندوان ګورم، دوی هم خپله ناپوهي په لانجو کې پټوي.

***

بله ورځ مازدیګر سورج جمیل وروغوښت. د مریض په مخ کې یې په ملنډو ورته وویل: څو ورځې کېږي چې اکسرې دې زده کړې؟

جمیل وویل: دا مې لسم کال دی. ولې، خبره څه ده؟

سورج د اکسرې یو عکس مخې ته ورواچاوه چې دا وګوره.

جمیل عکس پورته کړ، د کړکۍ رڼا ته یې ونیو. یوه شېبه یې په ځیر ورته وکتل، بیا یې سورج ته وویل: سمه اکسرې ده. څه وربانديې شوي؟

سورج وخندل، د التراسوند رپوټ یې ورته ونیو: دا وګوره! دلته ډېره شته؛ خو ستا په عکس کې نشته.

د جمیل پر تندي ګونځې راغلې، عکس یې بیا له نظره تېر کړ، د التراسوند رپوټ یې ولوست، بیا یې وویل: تا د راډیولوسنت نوم لا اورېدلی؟

د سورج شونډې سره ورغلې، مېز یې په سوک وډباوه، اوچت پاڅېد، د جمیل خوا ته روان شو.

جمیل موټی کړې لاسونه پورته کړل، لکه بوکسر چې په رینګ کې د حریف مخې ته ودرېږي، لاسونه یې مخ ته نژدې ونیول، دفاع ته یې ځان تیار کړ؛ خو سورج یې له څنګه ښوی تېر شو، ور یې خلاص کړ، له کوټې څخه ووت.

جمیل لینا ته وویل: ته څنګه له دغه لیوني سره ترجماني کوې؟

ـ څه وکو، مجبوري ده نو.

ـ ډېر احمق سړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ لکه چې بیا رییس ته لاړ، بیا به شکایت وکي. رښتیا په عکس کې خو به کوم عیب نه وي؟ هسې وایم چې رییس درته په قار نه شي.

ـ نه بابا. ځینې تیرېږ داسې وي چې شعاع ورنه تېرېږي، هغه بیا په عکس کې نه ښکارېږي. په طب کې ورته راډیولوسنت وایي.

ور خلاص شو. کارګرو، ویې ویل: رییس صاحب غوښتی یې.

جمیل په مرمرینو زینو پنځم پوړ ته وخوت. سورج د رییس په دفتر کې پر کوچ باندې ناست و. مخې ته یې پر مېز باندې چیني پیاله ایښې وه، د پیالې په منځ کې د چایو پوړۍ کوړۍ وه خو لا د اوبو رنګ نه و اوښتی. د پیالې تر څنګ په څلورګوټې رکابي کې د قند دوه دانې خښتې پرتې وې. رییس بې له دې چې د جمیل سلام ته علیک ووایي، وویل: وه هلکه! دا څه حال دی؟ ټکنیشن سړی وګوره او دومره غټې خبرې. هغه هم بیا هندي ډاکتر سره. ته پوهېږې چې ده څومره تعلیم کړی؟ پروفیسر دی پروفیسر.

جمیل وویل: رییس صاحب! زه نو کله له کوڅې راغلی یم، ما هم سبق ویلی.

ـ نو دی ولې شکایت کوي؟

ـ څه ووایم، رییس صاحب! ته خو مسلکي نه یې. نورو ډاکترانو نه پوښتنه وکه، که زه ملامت وم، همدغه سات مې منفک که.

رییس د زنګ پر تنۍ باندې ګوته ټینګه کړه. د سترګو په رپ کې نرۍ دنګې ښایستوکې نجلۍ ور پرانیست، لکه عسکر هسکه غاړه خو موسکا پر شونډو غلې ودرېده او د رییس په سترګو کې یې سترګې ښخې کړې. رییس ورته وویل: ټول ډاکتران راوغواړه.

نجلۍ چې وتله، رییس ورباندې غږ وکړ: واوره!

هغې مخ راوګرځاوه. رییس وویل: لینا ته ووایه چې د مریض کاغذونه دې راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور ډاکتران چې راورسېدل، رییس سورج او جمیل ته وویل: تاسې د باندې ووځئ.
جمیل د پنځم پوړ د دهلېز له کړکۍ څخه د کابل دوړنې هوا ته کتل، دوړه لکه لړه پر کورونو او بازار خوره وه. لاندې په پارکینګ کې ولاړ موټرونه ټول په دوړو او ختو سپېره وو. د چوک د پورې غاړې سړکونه وچ وو، خو د روغتون مخې ته د سړک کندې لا د تېرې ورځې د باران په اوبو ډکې وې. یو کورولا موټر له یوې کندې تېرېده، موټر د دروازو تر نیمایي پورې په اوبو کې ډوب شو او هماغلته بند پاتې شو. بل موټر یې له څنګه تېرېده، یوه خوا یې ټیټه شوه بله خوا جګه، د سړک د غاړې لښتي ته ولوېد. د لښتي او سړک توپیر نه کېده، دواړه یو شان ښکارېدل، هر چېرته یو زنګون اوبه ولاړې وې.
د ریاست ور خلاص شو، ډاکتران یو یو له دفتره راووتل، ځینو یې خپل څنګ ته روان سړي سره په ټيټ آواز خبرې کولې او څنګلوري ورته سر ښوراوه. ډاکتر حمید جمیل ته ورنژدې شو، په کراره یې ورته وویل: غم مه کوه، ټولو ستا خبره سمه وګڼله.
د ریاست د وره له څنګه سکرټرې په جمیل باندې غږ وکړ: راځئ د ننه.
سورج مخکې شو، جمیل ورپسې.
رییس، جمیل ته مخ واړاوه: ډاکتر سورج نه معذرت وغواړه.
جمیل وویل: ولې؟
ـ بس نو زه درته وایم.
ـ رییس صاحب! ملامت دی دی، زه ولې...
رییس وغرېد: ووځه کم عقله.
جمیل په ځړېدلو شونډو کښېناست شو. مخامخ ډاکتر حمید ته ورغی، ویې ویل: عجب سړی دی. غلطي د چا ده، معذرت په چا باندې غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمید وپوښت: څنګه؟
جمیل وویل: هغه بل ښییم، راته لګیا دی چې سورج نه به معذرت غواړې.
حمید وویل: پروا نه کوي، رییس خو نو تا ته مالوم دی. بېسواده شی دی. اوس چې خدای پیسې ورکړې؛ نو ورکړې یې دي.
ـ پوهېږې چې ما ته څه وایي؟ وایي سورج پروفیسر دی.
دواړو په زوره وخندل.
حمید وویل: داسې بېسواده پروفیسران خو په روپۍ باندې سل پیدا کېږي.
ـ غني ګی خو په میاشت کې څلور زره ډالره ورکوي.
ـ هغه خو خپل بېزنس ورباندې کوي.
ـ ښه شو چې را یاد دې کړ، د بېزنس کیسه یې درته وکم، ها بله ورځ سورج یوې حاملې ښځې ته اکسرې لیکلې وه.
ـ دا څه وایې؟
ـ کسم دی.
ـ وایم شپه دې ودرېږه سورج ګله.
ـ یو ځل نه، څو ځله یې داسې کړي، اول خو ده ته ورغلم چې ولې داسې کوې؟ ویې ویل، «ستا یې په کې کار نشته، څه چې ما لیکلي، هماغه به کوې.»
ـ ښه، بیا تا څه وکو؟ اکسرې دې واخیسته؟
ـ مجبور وم؛ نو څه به مې کړي وو؟
حمید ورته نبغ وکتل: ګوره ملګریه! زه و ته خو باید غاړې بندې نه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ما غاړه خلاصه کړې، ښځې ته مې لس وارې وویل چې وه خورې دا اکسرې خو دې ماشوم ته تاوان لري. ویل یې «پروا نه کوي چې زه خپله ښه شم، ماشوم ته خیر دی.»

ـ یاره څه کم عقله خلک مو دي.

ـ زیاتي ورغلم غني ګي ته مې وویل چې ډاکتر سورج داسې کارونه کوي. پوهېږې چې څه یې راته وویل؟ وایي «د ما یې پیسې پکار دي، زه بېزنس کوم بېزنس.»

حمید پر شونډو ګوته کېښوده، ویې ویل: ایششششش، لږ ورو غږېږه چې څوک یې وانه وري، جاسوسان یې ډېر دي.

شك

میوند جمیل ته کتل چې ناست له ده سره؛ خو چورت یې بل ځای و. د جمیل سترګې د شیریخ په تالي کې ښخې وې. بې خوده یې کاشوغه په کې لړله.

میوند د هغه د سترګو مخې ته لاس وښوراوه.

جمیل سترګې پورته کړې، میوند ته یې وکتل.

هغه ورته وموسېد: څنګه چل دی؟ لکه چې له سره مین شوی یې؟

جمیل په خندا وویل: نه بابا، زموږ د عاشقۍ وختونه تېر دي.

ـ نو بیا؟

ـ هسې، پرون مې بیا له رییس سره لانجه وشوه.

ـ ولې؟

ـ د هغه هندي ډاکتر په سر.

ـ خبره څه وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ یاره، بېخي ورسره په عذاب یو. بېخي بېسواده شی دی. والله که په شی لا خبر وي. ګناه یې خپله وي؛ خو ریيس ته بیا زموږه شیطاني کوي. زه خو د ده په ډاکترۍ کې لا شک لرم.
ـ یاره چې خپه نه شې، یو ډمان سره نه جوړېږي، بل ډاکتران؟
ـ داسې نه ده، ګوره ما تر اوسه د بل ډاکتر بد درته ویلي دي؟
میوند وویل: چې رښتیا شي، نه.
جمیل ورته کړه: خلاص نو، پوره خو یو خدای دی، بنده به خامخا نیمګړی وي، خو دی داسې سړی دی چې وایم بېخي د طب په لاره نه دی تللی.
میوند د شیریخ په پیاله کې کاشوغه ووهله، ټنګ ټنګ یې شو، شونډه یې وځېښله بیا یې وویل: ګوره انډیواله! ته داسې وکه چې یو څو ورځې د سورج سره روابط بېرته ښه که. زه په بل حساب وربانديې شکي شوم.
ـ څنګه؟
ـ چې ایجنټ به وي.
ـ یاره ستا خو د شیطان مسلک دی، هسې په هر چا باندې شک کوې.
ـ ګوره چې کیسه درته وکم. ما چې په شوروي کې د استخباراتو درسونه ویل، یوه ورځ په صنف کې د ایجنټوري استاد راته د سروبي د بند کیسه وکړه. موږ پوښتنه وکړه: استاده تا د سروبي بند څه لیدلی؟
هغه وویل: زه هلته انجینیر وم.
موږ پوښتنه وکړه: دا نو څنګه؟ ته خو انجینیر نه یې، ته خو د استخباراتو استاد یې.
استاد وویل: دا استخباراتي تکتیک دی. موږ نورو ملکونو ته د انجینیر، ډاکتر، معلم او نورو په نومونو خپل ایجنټان ورلېږو. که

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرورت وي، رسمي ډيپلومونه ورته جوړوو، د هماغه مسلک کارت، جواز، هر څه ورته برابروو.
نو زه چې ستا خبرو ته ګورم، ګومان کوم چې دغه سړی به هم جاسوس وي. که نه هندي ډاکتران خو تکړه وي. دا نو څنګه کېدای شي چې سورج دې ډاکتر وي؛ خو په طب دې نه وي خبر؟
په شيريخ فروشۍ کې هندي سندره په لوړ اواز چالانه شوه. جميل د دوکان شاګرد ته په ګوته د راتلو اشاره وکړه. هغه د جميل خولې ته غوږ ورنژدې کړ. جميل چيغې ته په ورته غږ ورته وويل: لږ يې ټيټ که، بل کسټ نه لرئ؟
شاګرد د دخلچي مېز ته لاړ، بله سندره شروع شوه؛ خو دا هم قديمي هندي سندره وه.
جميل تر شونډو لاندې وغرېد: شپه دې ودربږه له دې هندي سندرو سره. د شيريخ دوه درې اخري کاشوغې يې هم تر ستوني تېر کړل. ميوند ته يې په سترګو کې اشاره وکړه. دواړو حرکت وکړ. د دوکان له وره سره قره قولۍ پر سر برېتور سړی د کم سوري لوړ مېز شاته ناست و. مخې ته يې د حساب ماشين پروت و. جميل جيب ته لاس کړ؛ خو ميوند يې لاس ټينګ کړ، ويې ويل: کسم دی، والله که يې ورکړې.
جميل وويل: زوروره ! دا څه کوې، هر وارې ته پيسې پرې کوې، يو وار خو ما ورته پرېږده.
ميوند وموسل: په دې خبرو پسې مه ګرځه.
له دوکانه ووتل، له پل باغ عمومي څخه د شاه دوشمشېره زيارت خوا ته روان شول. مازديګر نژدې و؛ خو لا هم لارويانو هڅه کوله د دېوالـه سيوري ته پناه يوسي، يوه نيمه نجلۍ په سر باندې چترۍ نيولې وه. ميوند غلی روان و، ځمکې ته يې کتل خو ژر يې سر پورته کړ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورمېږ ښتې يې وسولاوه، جميل ته يې مخ واړاوه: راځه چې سيوري ته شو، نن خو بېخي بده ګرمي ده.

جميل د کابل سين ته وکتل. د سين په تل کې د لښتي په اندازه اوبه داسې په کراره روانې وې لکه د اوړي غرمنۍ شېبې يا لکه ماشوم چې له لوبې يې پاڅوې او درس ويلو ته يې ولېږې.

جميل په سين کې د اوبو د غاړې ډېران ته اشاره وکړه، ويې ويل: ياره زموږ د وطن هر څه دغسې دي.

ميوند هېڅ ونه ويل. دوی په تنګ پياده رو کې چې ځای ځای تبنګونه او کراچۍ پکې ولاړې وې، هڅه کوله د ښي لاس دوه پوړېزو دوکانونو ته ځانونه جوخت کړي چې له لمره بچ شي.

ميوند وويل: په ياد دي چې د ډاکتر نجيب په وخت کې دلته د پوست دوزانو دوکانونه څومره ډېر وو، څه ښه قره قولي خولۍ به يې ګنډلې، اوس وګوره ټول د موبايلونو دوکانونه دي.

جميل وويل: دله حکومت مو دی، خپل خلک کار ته نه پرېږدي، بې سواده خارجيانو ته کارونه ورکوي.

زيارت ته چې نژدې شول، ميوند وويل: ته غر مه کوه، زه به ورشم، ځان به ورته دوکاندار معرفي کړم. خپل نوم به ورته فريد وښيېم. چې يو وار يې وګورم، بيا به يې حساب رامالوم کړم. رښتيا ته داسې وکړه چې د معدې د تکليف يو څو نښې نښانې راته ووايه چې زه بيا هماغسې ورته ښکاره کړم چې ګوندې د معدې تکليف مې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندېوالي
میوند د سورج د کوټې ور وټکاوه. له هغې خوا یو درونده غږ وویل: کم اېن (come in)
میوند ورننوت. ډاکتر له چوکۍ پورته شو، میوند ته یې لاس ورکړ، د مېز مخې ته اینښې چوکۍ ته یې اشاره وکړه، په موسکو شونډو یې وویل: مهرباني.
لینا پوښتنه وکړه: وروره، څه تکلیف لرې چې ډاکتر صاحب ته یې ووایم.
میوند وویل: زه په اردو پوهېږم، پخپله به ورسره وغږېږم. ډاکتر صاحب، مېرا نام فرید هې.
بیا یې ورته وویل: ما د تا ډېر صفتونه اورېدلي.
ـ رښتیا؟
ـ کسم دی، څو کسانو راته ویلي. ځکه خو درته راغلم. زما د معدې تکلیف دی.
هندي ډاکتر یو څو پوښتنې ځنې وکړې. بیا یې فشار وکوت. لس دوولس رنګه لابراتواري ټسټونه یې ورته ولیکل.
د معاینات پیسې لس زره افغانۍ کېدې. جمیل لابراتوار ته لاړ، ویې ویل: د ده معاینات مه کوئ، یوه هفته مخکې یې ټول معاینات کړي دي، هر څه یې نارمل وو. ته داسې وکه چې نارمل راپورنه ورته ورکه خلاص.
مازدیګر فرید (میوند ) د معایناتو نتیجې ډاکتر ته یوړې. هغه ورته نسخه ولیکه. د پرهېزونو د لیست په سر کې یې لیکلي وو: د غوایي غوښه، ورپسې مرچ، آچار...
میوند چې له روغتونه ووت، مخامخ د یوه ملګري ډاکتر معاینه خانې ورغی، خپله نسخه یې ورښکاره کړه: ته خو دا راته وګوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وويل: ملګريه ! چېرته درملتون جوړوې؟
ميوند وويل: درملتون نه جوړوم.
ــ نو په دې ليست باندې څه کوې؟
ــ کوم ليست؟
ډاکتر کاغذ مخې ته ورواچاوه: دغه چې تا راکړ.
ــ زوروره ! دا ليست نه دی، دا مې نسخه ده؟
ــ ټوکې مه کوه.
ــ د زړه نه درته وايم. هندي ډاکتر راته ليکلې.
ډاکتر د مېز له سره نسخه بېرته واخيسته، لاندې باندې يې وکتل. په زوره يې وخندل بيا يې وويل: کوم هندي ډاکتر؟
ــ يو دی. څه يې کوې، دا راته ووايه چې دوا يې څنګه ده؟
ــ لکه د کلي په واده کې چې د هر کور واړه او زاړه، بللي نابللي ټول له يوه سره ورځي، ستا نسخه هم دغسې ده. دې ته وګوره، اومېپرازول، پانټوپرازول، ايسموپرازول. له هره کوره درې څلور رقمه دوا ، وايم دومره ډېره دوا يې درته ليکلې ده چې که فيل ته يې ورکې؛ نو راچپه به يې کي. اوولس قلمه دوا ، دا خو سوچ کفر دی.
د ميوند تندی تريو شو ، نسخه يې ورنه واخيسته، ويې خيرله، د مېز لاندې خځل دانۍ ته يې خطا کړه.
ډاکتر وويل: ته دې شکايت راته ووايه، زه به دوا درکړم.
ميوند وويل: چې رښتيا شي، رک روغ يم. يو چا راته ويلي وو چې دغه هندي ډاکتر په څه نه پوهېږي، ما وې رښتيا درواغ به يې رامالوم کړم.
ډاکتر وويل: دا نسخه خو يې والله که د ډاکتر وي.
په نسخه کې د اوو ورځو دوا ليکل شوې وه، يوه اوونۍ چې تېره شوه، فريد (ميوند ) بيا ډاکتر سورج ته ورغی. ورته ويې ويل: ياره منم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې. داسې دوا دې راکړې وه چې له اسمان نه يې مځکې ته راکښته کړم.

سورج موسک شو: دا څه وايې؟

ـ کسم دی، وايم بلا يې بلا.

ـ چې بيا ونه وايې. ته پوهېږې چې ما په هند کې درې کاله د يوه لوی پروفيسر سره کار کړی. هغه ته ان د امريکا نه مريضان راتلل. پوه شوې که نه؟ هلته خو همداسې طبابت دی، هسې خوشې خبره خو نه ده.

ـ ښه، زه خو دې د پرهېز د لاسه مړ کړم. مور خو په غوښو روږدي يو، اوس دا راته وايه چې پرهېز مې مات کم که نه؟

ـ بس يوازې د غوايي غوښه مه خوره، نور شيان چندان پروا نه لري.

فريد (ميوند ) خپل تش لاس خولې ته داسې يوور لکه ګيلاس چې يې په لاس کې وي، ويې ويل: دغه بل شی څنګه؟

سورج وخندل: لږ لږ؛ خو چې ما هېر نه کې.

ـ ولې نه. بس ته همدومره وکه چې د ټيليفون نمبر دې راکه، نور يې په ما.

ډيلي دربار

د ډاکتر سورج وروستی مريض له کوټې ووت، په دې وخت کې د ټيلفون شرنګا پورته شوه. فريد و، ويې ويل: نن ماښام د ډرېنک پروګرام دی، راځې ورته که نه؟

ـ چېرته؟

ـ ستاسې خپل ځای دی، ډيلي دربار.

ـ ښېشکه دې، وايم څومره ښکلی بار يې دی. څو بجې؟

ـ بس هر وخت چې ته راتلای شې.

ـ اووه بجې به څنګه وي؟

ـ بيخي سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرید (میوند ) په شپږ نیمو بجو ډیلي دربار ته ورننوت. د شیشه یي مېزونو په منځ کې ښه وړاندې لاړ، د سالون په بر سر ته تېر شو. هلته لرګین نسواري رنګه نیم ګرد مېز ولاړ و. د مېز شا ته په دېوالونو پورې لګېدلې الماری له رنګ رنګ غټو او وړو بوتلونو او د بیر، پیپسي، مېرینډا او سوون اپ له قوتیو ډکې وې. د مېز شا ته وچ کلک په رنګ تور سرې د پان په جوړولو لګیا و. د ده تورې شونډې په پانو سرې وې. پر مېز رنګ رنګ ښکلي اوږده کریستالي ګېلاسونه ایښي وو، په یوه کریستال لوښي کې د یخیو مکعبي ټوټې پرتې وې.

میوند بار ته نژدې یوه مېز ته ودرېد، نسواري رنګه لرګینه چوکۍ یې شا ته کش کړه، پرې کېناست، د مېز پر سر د وړوکې ګلدانۍ په څنګ کې درې ځایه قات شوی کاغذ نېغ ایښی و. میوند کاغذ راواخیست، د رستوران د خوړو لیست یې تر نظر تېر کړ، بېرته یې کېښود. د مربع شکله مېز سر له لس ملي ښیښې جوړ و، څلور خوا اووته یې څلور چوکۍ ایښې وې. میوند د مېز سر په ګوتو وترنګاوه او د سالون له اوږده دېوال سره جوخت لګېدلي تخت ته یې وکتل. تخت د زنګانه په اندازه لوړ و، سرې ماشیني غالۍ ورباندې وېړې وې. له چته نسواري رنګه لرګین امېلونه راځړېدل چې تخت یې په څو برخو سره وېشلی و.

ګارسون راغی، د میوند مخې ته یې مینو کېښوده، پخپله یو ګام شا ته ودرېد. میوند په اردو ورته وویل: زه مې ملګرو ته منتظر یم چې هغوی راشي بیا به یو څه راوغواړم.

ګارسون په موسکا سره ((اوکې سر)) وویل او د بل مېز خوا ته لاړ.

میوند ساعت ته وکتل، پینځه ویشت دقیقې اوو ته پاتې وې. ځان یې د هوټل په کتلو بوخت کړ. د تخت مخې ته لرګینې نسواري کټارې تر چته پورې غځېدلې وې چې لرګي یې د چلیپا په بڼه سره تېر و بېر وو. تخت ته د ورختلو لپاره په هره برخه کې د دوو پټو زینې جوړې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه په هندي فلمونو کې چې ناویو ته حجلې جوړوي، تخت هماغسې ډولي سینګار شوی و. د تخت په بر ګوټ کې دوه کسان ناست وو، شین شیشه یې چیلم یې مخې ته ایښی و. په ټېپ کې د «انوپ جلوټا» شرابي غزلې په تت اواز چالانې وې، د چیلم خړې لوخړې د رنګه ځراغونو په تته رڼا کې داسې تاوېدې راتاوېدې او پورته د چت په لوري تلې، لکه ښکلې رقاصه چې د ارام موزیک اواز ته په مکېزونو وناځي. د چیلم له لوګیو سره د مڼو خوندور وږم په هوټل کې خپور شو. لا اووه بجې نه وې شوې چې بار ته د خلکو راتګ پیل شو. په هرو څو شېبو کې دوه دوه، درې درې کسان بار ته راننوتل.

لس باندې اووه بجې په وره کې د سورج سر ښکاره شو. یو بل سړی هم ورسره و. په دوی پسې په برګو دریشیو کې دوه وسله وال راننوتل. د سورج ملګري وسله والو ته اشاره وکړه چې د باندې دې ودرېږي.

فرید (میوند ) په خپل ځای ودرېد ، سورج ته یې لاس وښوراوه چې ده ته یې پام شي. سورج او ملګری یې د ده خواته راغلل.

سورج وویل: فرید بایي ! ما خو خپل انډیوال هم راوستی.

میوند وویل: وایم ډېر ښه دې کړي. چې ستا انډیوال دی نو زموږ یار دی.

(فرید ) میوند دغه بل سړي ته لاس وراوږد کړ، په فارسي یې ځان معرفي کړ: ما فرید استیم.

جنرال یې لاس ټینګ کړ. هغه چې په هسکه غاړه ولاړ و، مخې ته راوتلی ټټر یې په سپینو جامو کې کندهارۍ خامک دوزي غاړه ښه ښکاروله، په ډډ غږ یې وویل: جنرال امین اعتماد. ځوانه، ولې پښتو راسره نه وایې، زه درته فارسیوان ښکاره شوم که څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سورج وویل: جنرال صاحب په دفاع وزارت کې لوی سړی دی. زما ټینګ ملګری دی. که په وزارت کې دې کوم کار وي، دی به یې درته خلاص کي.
فرید (میوند ) وویل: کاشکې په وزارت تجارت کې وای، زموږ ټول کارونه هلته وي.
بیا یې ښنګ چوکۍ شا ته کش کړه، مېلمنو ته یې د کېناستو بلنه ورکړه. سورج میوند ته مخامخ کېناست او جنرال یې څنګ ته. میوند له کېناستو سره سم ګارسون ته د راتلو اشاره وکړه. سورج ته یې وویل: څه شی څښئ؟
- څه چې د تاسو خوښه وي.
- ته مېلمه یې.
جنرال وویل: ماته یې ذوق مالوم دی، رډ لېبل یې خوښېږي.
میوند ګارسون ته وویل: یو بوتل رډ لېبل ویسکي.
سورج ته یې مخ واړاوه: پیپسي ورسره ګډوې که بل څه؟
سورج وخندل: یاره لکه چې تازه کار یې. سړی رډ لېبل همداسې وهي، یوازې یخی په کې اچوي.
میوند جنرال ته وکتل: تاسې څنګه؟
ــ بس ډاکتر مې پېر دی، څه چې دی وایي.
میوند ګارسون ته وویل: د چرګ کباب، دوه دانې پیپسي، یخی، چپس، سلاډ، اممم
سورج ورغږ کړل: یو قوتی مارلبورو سګرېټ او د سخوندر کالباس.
میوند جنرال ته کړه: جنرال صاحب، باډیګارډان دې څو تنه دي؟
ــپسې ګرځه مه، هغوی به خپل غم وکړي.
ــنه، داسې نه کېږي.
ــدوه دوی دي، له موټروان سره درې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میوند ګارسون ته وویل: حویلۍ کې د جنرال صاحب باډیګارډان ناست دي، هر څه چې غواړي، ورته یې یوسه، حساب یې په ما پسې ولیکه.

فرید که میوند؟

بازار نوی خلاص شوی و چې میوند د قوای مرکز په کابل مارکیټ کې «فرید نوید» تجارتي شرکت ته ورغی.
د شرکت رییس ته یې وویل: ګوره فرید جانه! ما یو چا ته ستا د دوکان ادرس ورکړی، ورته ویلي مې دي چې زه د شرکت مالک یمه.
فرید ورته سترګه ووهله، ویې ویل: لکه چې زما په شرکت باندې خېټه اچوې که څنګه؟
میوند وخندل: نه بابا، سترګې یې ړندې کړې چې د یار مال ته به کږه وګوري؟
ـ ښه وایه، بیا دې څه پلان دی؟
میوند د شرکت مزدورانو ته چې دروازې ته نژدې ناست وو، وکتل. بیا یې فرید ته مخ واړاوه، ویې ویل: هسې د بېزنیس خبره ده.
فرید سر وښوراوه: پوه شوم. څوک دی.
ـ یو هندي ډاکتر دی.
خپل موبایل کې یې ګوتې ووهلې، یو عکس یې په کې راوست، بیا یې فرید ته وربنکاره کړ: دغه سړی دی، سورج نومېږي. چې راغی ورته ووایه چې دی د باندې تللی، بیا راته یو زنګ ووهه. هغه ته مې خپل نوم فرید ښییلی.
فرید وخندل: سمه ده ارباب. وایم نوم مې درنه ځار شه، دا ټول شرکت مې درنه ځار.
□□□

(c) ketabton.com: The Digital Library



میوند په ده افغانانو کې و. سورج ورته زنګ وواهه. میوند وویل: راځه، په دوکان کې یم.
موټر یې د قوای مرکز په لوري ګړندی روان کړ. دی د فرید په دوکان کې ناست و چې سورج راورسېد.
سورج خپل کورولا موټر ته دوه جوړې کوریایي ټایرونه واخیستل. د بیې پوښتنه یې وکړه.
فرید (میوند ) وویل: زوروره ! خپل یار نه چا پیسې اخیستي، او بیا ته خو زمونږ مېلمه یې کنه.
سورج ورته غبرګ ورکړه: یاره ! ته خو بیخي لوی سړی یې.
د دوکان الماریو ته یې سترګې ونیوې.
میوند وویل: نور څه خو به دې نه وي په کار؟
سورج وویل: زړه مې و چې د موټر موبلایل مې بدل کم.
میوند پوښتنه وکړه: څه رقم موبلایل درکم.
ـ پخپله ښه پوهېږې.
میوند یوه کارګر ته وکتل: هغه پینځه لیټره ایل ټکس ورته راکښته که. ډاکتر صاحب، خپل موټر کې همدغه موبلایل اچوم. د موټر کیلي دې ورکه چې ټولبکس کې یې درته کېږدي.
سورج کارګر ته کیلي ورکړه او سترګې یې په جک ښخې کړې.
میوند کارګر ته کړه: یو دانه جک هم درسره واخله، دا نه هغه دونیم ټنه.
سورج بیا میوند سره تر غاړې ووت. په غبرګ کې یې ټینګ کړ، له ځمکې یې لږ پورته کړ او بېرته یې کښته کړ. بیا یې لاس وراوږد کړ، وېې ویل: اوس نو اجازه راکه.
هغه چې لاړ، میوند فرید ته وویل: پیسې یې په ما پسې ولیکه.
فرید وویل: پروا نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ځنګه پروا نه کوي؟ لږې پيسې خو نه دي.
ـ د تا تنخواه بيا څومره ده چې دا سې خرابا تونه کوې؟
ـ د ما غم مه کوه، خدای مهربان دی.
□□□ د مخابراتو وزارت مخې ته بسونو مامورين کښته کړل. وزارت ته مخامخ ميوند د يوې سوالګرې مخې ته ودرېد: له جيبه يې لسی راوکيښ، د هغې په ښوی سپين ورغوي کې يې کېښود ، کرار يې ورته وويل: څه نوې زړې؟
ـ نور څه نشته، خو حاجي يوسف بيا سکينې ته ويلي دي چې ورشي.
ـ حاجي يوسف يې لا څوک دی؟
ـ هغه چې تا اخطار ورکړی و ، مشعل مارکيټ کې چې دوکان لري.
ـ دا څه وايې؟ هغه خو توبه ايستلې وه.
سوالګرې وويل: تا هسې په مفته خوشې کړ. جنابيي والا هر وخت سل، دوه سوه ډالره ځني اخلي. دا خلک په توبو نه دي خبر.
ميوند وويل: دا ځل به سمه جزا ورکم. حاجي شو خو سړی نه شو. سکينه کله ورځي؟
ـ همدا نن، نه بجې.
ميوند ساعت ته وکتل، اته نيمې بجې وې. کرار کرار د مشعل مارکيټ خوا ته وخوځېد. دريم پوړ ته وخوت. د حاجي يوسف دوکان ته مخاخ دوکان ته ورننوت. د پتلونونو او کميسونو په کتلو بوخت شو. ويې ليدل چې په چادرۍ کې يوه ښځه د حاجي دوکان ته ورننوته. ميوند د يوې ګوډۍ شا ته ودرېد چې د حاجي له دوکان يې څوک ونه ويني. چادرۍ والا د دوکان بر سره ته د مېز شا ته تېره شوه. حاجي يوسف هم ورپسې لاړ.
ميوند ورو ورو د دوکان تر بل سره پورې لاړ، بېرته راوګرځېد ، مخامخ د حاجي يوسف د ښځينه کاليو عمده فروشۍ ته ورننوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوکان به لس پینځه لس ګزه اوږد و. د دوکان په پای کې د ښځو لپاره د کالي اغوستلو لرګینه کوټنۍ وه. میوند د کوټبندونو او هغو انسان وزمه ګوډیو په منځ کې تېر شو چې د ننداريې لپاره رنګ رنګ کالي وراغوستل شوي وو. له چپ لاسه د شیشه يې مېز شا ته ولاړ سړي پرې ورغږ کړل: وروره د نارینه وو کالي نه لرو.
میوند وویل: زما ښځینه کالي په کار دي.
کوټنۍ ته ورنژدې شو. سړي چیغه کړه: وه وروره ! ها خوا ته مه ځه، سیاه سره په کې کالي اغوندي.
میوند دوه چټک ګامونه واخیستل. د کوټنۍ ور يې په یوه لغته مات کړ.
حاجي یوسف پرتوګ انښ په لاس کې نیولی او چت پاڅېد ، پرتوګ يې چابک راپورته کړ.
پر ځمکې پرتې لغړې ښځې پر ځان باندې خپله چادري خوره کړه.
حاجي چیغه کړه: دا کوم د سپي زوی دی؟
میوند داسې څپېړه ورکړه چې د حاجي له لاسه پرتوګ انښ خطا شو.
میوند له څپېړې سره وویل: چوپ شه بې ناموسه.
د کمیس له جیبه يې د کارت څنډه راپورته کړه، ویې ویل: هېر دې یم، زه جنايي پولیس یم.
حاجي په بېړه پرتوګ انښ وتاړه، په زارۍ يې پیل وکړ: خدای ته وګوره آمر صاحب، مه مې بې آبوه.
د میوند زنې ته يې لاس یووړ: ږیره دې نیسم، درته عذر کوم. مه مې بې عزته کوه.
میوند وویل: دا خبرې دې بیا په حوزه کې وکه.
ـ خیرات درنه غواړم، ورور مې يې.
ـ جالبه ده، نورو ته حاجیان خیرات ورکوي؛ خو ته يې د ما نه غواړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ آمر صاحب ! چې هر څه وغواړې درکوم یې، دا ټول دوکان مې درنه ځار دی.

میوند له کوټنۍ ووت، ویې ویل: تېر ځل مې معاف کړې، خو تا حیا ونه کړه.

ـ ګوره آمر صاحب، بد مې کړي دي. خیر دی مه مې رسوا کوه، وایم تر عمره نوکري به دې وکم. واخله دغه ټول دوکان مې واخله، مړ مې کړه، خو رسوا کوه مې مه.

میوند ورته وخندل: زموږ ججوري دومره نه دي غټ چې دغه لوی دوکان دې په کې ځای شي.

حاجي هم د باندې راووت، رنګ یې یو څه سم شو، ویې ویل: امر وکئ، څه خدمت وکم؟

میوند وویل: خوښه دې خپله، خپل عزت به په څو واخلې؟

ـ تاسې امر وکئ.

ـ زر ډالره.

حاجي وویل: په سترګو صاحب.

میوند ورته کړه: خو با خبر، دا دې اخر وار وي. که مې بل وار ګیر کړې، کسم دی که رانه خلاص شې. لږ خو شرم وکه، دا د حاجي نوم خو مه خرابوه.

سکینه له کوټنۍ راووته، میوند ته یې نبغ وکتل. میوند یې په مخ باندې ناړې ورتو کړې، ویې ویل: رنګ دې وکړه، کنچنۍ.

میوند له هغه ځایه د فرید دوکان ته ورغی. درې سوه ډالره یې پر مېز ورته کېښودل، ویې ویل: واخله انډیواله دا د ټیرونو او هغه نورو شیانو پیسې، کور دې ودان.

فرید وویل: دومره زر؟ بانک خو به دې نه وي وهلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



میوند په خندا ورته وویل: ژوندی بانک مې وهلی. بس، دا شوقي تاجران دې خدای راته ژوندي لري، هر یو یې یو بانک دی.

- پوهېږم چې د ځان غم درسره نشته. خدای دې کامیابه لره، د خدای بخښلي ډاکتر صاحب خبره «وطن یا کفن».

د میوند د موبایل زنګ وشرنګېد ، هماغه سوالګره وه، ویې ویل: آرین هوټل ته دوه مشکوک کسان ورننوتل.

میوند وویل: څنګه مشکوک؟

ـ لکه چې د پټو لاندې یې یو شی پټ کړی.

ـ سمه ده، ته ورپسې ورځه، هوټل ته د ننه لاړه شه. زه به یو څوک درولېږم.

میوند فرید ته مخ واړاوه: یو کار مې په مخ کې دی چې اوپراتیفي پیسې وربانديې نه شم لګولی خو کار مهم کار دی.

فرید وویل: بله به وکو، موږ خو هر کال د مال زکات باسو، چې داسې کارونه دې وو، ماته راشه.

- چې یې ما ته راکې بیا دې زکات کېږي؟

- ولې به نه کېږي، ته داسې کار کوې چې خیر یې ټول وطن ته رسېږي.

لـــــــــــــوړمـه

میوند وویل: پوهېږې، بیا مې د روسانو یو پخوانی تخنیک استعمال کړ.

جمیل پوښتنه وکړه: څنګه؟

ـ روسانو به مشکوک سړي ته دومره شراب ورکول چې پخپله به لکه بلبل په خبرو راغی، ټول رازونه به یې افشا کړل. دا یو چل دی. روسان وايي چې نېشه سړی درواغ نه وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ښه نو تا څه وکړل؟
ـ ها بله ورځ مې د سورج سره همدا چل وکړ. ځان ته مې خالي پیپسي اچوله او ده ته ویسکي. یو جنرال هم ورسره و. دواړه مې داسې غرق کړل چې ښه خره مې ورنه جوړ کړل.
ـ څه دې ورباندې وویل؟
ـ بیا به دې خبر کړم. اوس به درته همدومره ووایم چې هاغه شک چې مې کړی و، سم راوخوت.
جمیل وویل: بېشکه دې.
میوند وویل: خو پوښتنه دا ده چې جنرال د سورج سره څه اندېوالي لري؟ ما ته داسې ښکاري چې خپله جنرال به هم جاسوس وي. رښتیا سورج ډېره ښه روسي وایي. جنرال سره په روسي ګړېده. ما ځان ناګاره واچاوه چې ګنې زه په روسي بېخي نه پوهېږم.
جمیل وویل: ده خو په شوروي کې تحصیل کړی دی، طب یې هماغلته ویلی.
ـ دا څه وایې؟ د هند طب خو ډېر مخکې دی؛ نو ده په شوروي کې څه بلا غوښته؟
ـ پلار یې په ماسکو کې د هند نظامي اتشه و.
ـ ښه نو داسې؟
ـ زه چې یې ګورم، د ده لیاقت دومره نه دی چې په هند کې دې یې طب ویلي وای. په ماسکو کې به یې استادانو د پلار په خاطر کامیاب کړی وي. هسې خلک وایي چې نن سبا خو روسي استادان په یو بوتل ودکا باندې سړی کامیابوي.
ـ ښه نو دی چې داسې غلطې نسخې لیکي، دلیل به یې همدا وي؟
خبره مې درته کوله، د سورج یوه کمزوري راته جوته شوه، زوی مړی د ښځو ډېر شوقي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمیل یې خبره پرې کړه: هو ربښتیا ، ښه شو چې را یاده دې کړه. ها بله ورځ لینا سرې سترګې زموږ اتاق ته راغلې وه.

ـ کومه لینا؟

ـ هغه د سورج ترجمانه یادوم. خوارکۍ، ډېر یې وژړل. ویل یې چې یوه نجلۍ سورج ته راځي. دی ورسره د پردې شا ته تېرېږي. بس چې هر څه یې زړه غواړي، هماغه ورسره کوي.

ـ دا څه وایې؟ دا پدرنالته څوک ده؟

ـ لینا یې پېژني. وایي په کومه موسسه کې کار کوي.

ـ لینا نو څشته ژړل؟

ـ ژړل یې په دې چې سورج یې له ځانه سره په زوره په کوټه کې ساتي. ورته وایي «ته د باندې مه ووځه چې څوک را باندې پوه نه شي» دا سې یې وګڼه چې د نجلۍ سره د دې په مخ کې سات تېروي.

میوند اوف وکړ: نو دا ولې اداري ته شکایت نه کوي؟

ـشکایت به یې څوک واوري؟ غرېبه په دې ډارېږي چې له کاره یې و نه شړي.

ـ که دومره ځورېږي؛ نو ولې کار نه خوشې کوي؟

ـ ما ورته وویل چې وظیفه دې خوشې که؛ خو لینا وایي په کور کې بل څوک نه لري، ورونه ورنه بېل دي، یوازې زړه مور یې ده او دا. ورونه یې سخت بې غیرتان دي. دوی سره هېڅ کومک نه کوي. دا مجبوره ده چې کور پخپله وچلوي.

میوند لږ چورت وواهه، بیا یې وویل: ګوره ! یو ځل ما د لینا سره مخامخ که. که دا راسره همکاري وکي؛ نو کارونه به مو ډېر آسانه شي.

***

د اکسرې د کوټې ور وټکېد ، لینا وه.

جمیل ورته وویل: راځه، میوند مې ملګری دی. تا سره یې لږ کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لینا د پیکي وینښته تر پوړني لاندې پټ کړل، پوړنی یې په سر سم کړ.
میوند وویل: ګوره خورې! مه وارخطا کېږه. ها بله ورځ مې سورج ته ځان فرید معرفي کړ؛ خو اصلي نوم مې میوند دی. زه په جنایي پولیسو کې کار کوم. جمیل راته ستا په باره کې یو څه وویل. زه به د سورج چاره وکم؛ خو ستا همکاري په کې غواړمه.
لینا ځمکې ته سترګې نیولې وې. د ټیکري د څنډې اوبدل شوي تارونه یې په ګوتو تاوول. ویې ویل: زما د وسه به څه پوره وي؟
ــ ته به د سورج په ضد یو ثبوت په لاس راکړې.
ــ مورې غریب خلک یو. ما ته لانجه مه جوړوئ.
ــ زه داسې کار درباندې نه کوم چې تا ته په کې تاوان وي. بس یوه کوچنۍ کامره درکوم، په کوټه کې یې داسې ځای کې ولګوه چې سورج او هغه نجلۍ ورنه ښکاره شي. دا په ریموټ باندې کار کوي. چې څنګه دوی د پردې شا ته تېر شول، کامره چالانه که. وایم څوک به بیخي درباندې شک ونه کي.
لینا غلې وه.
جمیل وویل: ته خو پوهېږې چې مورې ټول د دې سورج د لاسه په عذاب یو. راځه دغه کار وکه، خپل وجدان خو به دې کرار شي.
میوند وویل: خورکۍ! ته بیخي بې غمه اوسه. سورج به دغه فلم ونه ګوري.
لینا سر پورته کړ: نو څوک به یې وګوري؟
ــ زه به یې له ځانه سره وساتم. چې یو څه نور ثبوتونه مو هم سره پیدا کړل، بیا به یې داسې وخت کې وروښییم چې دی به محکمې ته روان وي.
لینا بیا څه ونه ویل.
جمیل ترې پوښتنه وکړه: څنګه شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



لینا ځمکې ته کتل.
میوند وویل: خوښه دې خپله، زه دغه کار په زوره درباندې نه کرم. که دې وجدان کراروې؛ نو همدا یې لاره ده.
لینا لاس وراوږد کړ، ورغوی یې د میوند مخې ته ونیو. میوند مایکرو کامره په ورغوي کې ورکېښوده، ریموټ یې هم ورکړ بیا یې د لګولو او چالانولو چل وروښود.

بد نامونکي اسناد

نجلۍ له «کابل –ډیلي» روغتون څخه راووته، پر سړک ودرېده. ښي لاس ته یې وکتل. سپینه کرولا ورو ورو راروانه وه. د موټر څراغونو اشاره ورکړه. زبیدې ورته لاس ونیو. موټر ودرېد، موټروان د پورته کېدو اشاره ورته وکړه. دې هم بې پوښتنې د موټر شاتني سیټ ته وخته.
موټر روان شو. موټروان پوښتنه وکړه: جناب کومې خوا ته ځې؟
نجلۍ وویل: اوس خو میکرویانو ته ځم.
موټروان د موټر هینداره داسې برابره کړه چې نجلۍ په کې سمه ښکاره شي، ویې ویل: او بل وخت؟
نجلۍ په زوره وخندل بیا یې په ناز تندی تریو کړ: مخامخ وګوره چې ټکر ونه کې.
ـ په سترګو قوماندان صاحب.
موټروان موټر ورو کړ، د قوای مرکز د تلاشۍ له پوستې چې تېر شو، بیا یې په هینداره کې وروکتل: کور دې په میکرویانو کې دی؟
ـ هو.
ـکوم میکرویان؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلۍ د خولې له ژاولې ستره پوکڼۍ جوړه کړه، پوکڼۍ د مالتې په اندازه غټه شوه. بیا یې خوله خلاصه کړه، پوکڼۍ یې په خوله کې ننه ایسته، ټس یې ځنې وایست، ویې چووله. بیا یې پر شونډو ژبه تېره کړه، ویې ویل: دربیم.

ـ کوم بلاک؟

ـ اوس به یې وګورې.

ـ د ټېلفون نمره دې؟

ـ څه یې کوې؟

ـ هسې ما وې کله کله به سره وګورو.

نجلۍ په زوره وخندل، ویې ویل: داسې زر؟

ـ والله ستا ښکلا ته نو ځوک ټینګېدای شي.

نجلۍ بیا خندا ته زور ورکړ.

نجلۍ د موټروان د ټېلفون نمبر واخیست، مسکال یې ورکړ، ویې ویل: درسره سېف یې که.

موټر د صحت عامې له چوکه چپ لاس ته تاو شو، د سترې محکمې له مخې مخامخ د هوایي ډګر پر سړک روان شو.

موټروان وویل: نوم به دې زبیده وي؟

د نجلۍ خوله وازه پاتې شوه.

موټروان په هینداره کې ورته کتل.

زبیدې پوښتنه وکړه: ته ـ زما نوم دې څنګه زده دی؟

موټروان د دې پر ځای چې ښي لاس ته د میکرویانو خوا ته وګرځي، چپ لاس ته د بي بي مهرو چارنله کوځې ته تاو شو.

زبیدې چیغه کړه: څه کوې، اې د سپي زویه؟

موټروان په سړه سینه وویل: هېڅ، خپل کور به درو ښییم.

ـ بېرته وګرځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ اوس زه قوماندان یم، ته نه یې.
ـ وایم وګرځه که نه چیغې وهم.
میوند د دروازو او شیشو سنټر لاک سویچ بند کړ، ویې ویل: ستا غږ به څوک وانه وري.
له جیبه یې کارت راوکیښ. نجلۍ ته یې ونیو، ویې ویل: ډاریږه مه. زه په امنیت کې کار کوم، یو څه کار مې درسره دی، زر به دې رخصته کړم.
ـ زما سره دې څه کار دی؟
ـ بېړه مه کوه. دا دی ورسېدو. هر څه به درته ووایم.
موټروان چا ته ټېلفون وکړ، یوازې یوه کلمه یې ورته وویل: درورسېدو.
د کوټې په پای کې د یوې خونې ګراج خلاص شو، موټر ورننوت. ګراج بېرته ژر بند شو.
موټروان نجلۍ تر لاسه ونیوه، کوټې ته یې ننه ایسته.
زبیدې له دستکوله ټیلفون راوایست، ټیلفون یې په لاس کې رېږدېده، ویې ویل: زه به درنه شکایت وکم.
میوند سر وښوراوه: پښېمانه به شې.
- خبر یې که نه، زموږ یو خپلوان په امنیت کې لوی سړی دی. زه به ورته ووایم چې تا په زوره راسره زنا کړې ده.
- یوه شېبه صبر وکه، یو فلم به درته وښییم، فلم چې دې وکوت، بیا دې خپله خوښه چې هر چا ته زنګ وهې. ټېلفون به هم زه درکم چې کرېډت دې مصرف نه شي. زما نوم میوند دی، ورته ووایه چې میوند په زوره دغه کور ته راوستې یمه.
نجلۍ د میوند ملګري ته وکتل چې سي ډي یې په لپ ټاپ کمپیوټر کې اچوله، ویې ویل: زه ستا فلمونو ته وزګاره نه یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میوند ملګري ته اشاره وکړه. هغه فلم چالان کړ. په کمپیوټر کې زبیده ښکاره شوه. د معاینې پر مېز ناسته وه. دوو تورو لاسونو د هغې له سره ټیکری ایسته کړ. په توني کړیو طلايي ویښتو کې یې ګوتې تېرې کړې. د غوږونو پوځکي یې وسولول. زبیدې سر تاو کړ، د سړي پر لاس یې شونډې وموښلې. سړي د زبیدې ګرېوان ته لاس وغځاوه، یوه تڼۍ یې خلاصه کړه. زبیدې د کمیس لمن له پټلانه راوایسته، لاندنۍ تڼۍ یې خلاصه کړه. سړي یې لاس ټینګ کړ. بیا یې ټولې تڼۍ پخپله خلاصې کړې.

فلم چې تر دې ځایه ورسېد، زبیده په ګونډو شوه، موبایل یې له لاسه ولوېد، د سونګېدا آواز یې پورته شو.

میوند سې ډې بنده کړه، ویې ویل: دې کې ستا او د سورج ټولې کارنامې شته. زه کولای شم دغه فلم په یوه ورځ کې ټول بازار ته ورسوم. کېدای شي ستا ورونو ته هم ورسېږي، زه خبر یم چې د سې ډي ګانو کار و بار کوي. څنګه د داسې فلمونو شوقیان دي که نه دي؟

د زبیدې شونډې ولړزېدې، ژړا یې زور واخیست. د میوند پایڅه یې ټینګه کړه. په ژړا یې ورته وویل: خدای ته وګورئ. چې هرڅه راسره کوئ، ویې کئ؛ خو فلم چا ته مه ورکوئ.

میوند په ملنډو وویل: څنګه، بیا به دې خپلوان ته خو زنګ نه وهې؟

زبیدې هماغسې ژړل.

میوند وویل: خیر، موږ بې ناموسه نه یو، نور څه درنه نه غواړو. فقط دومره درنه غواړم چې ته به راسره همکاري کوې.

ـ څه رقم همکاري؟

ـ هغه به بیا وروسته درته ووایو. خو پام دې وي چې خپله اروا دې هم درباندې خبره نه شي. څه چې موږ درته وایو، هماغه به کوې.

میوند خپل ملګري ته وکتل: خیبر جانه! زه لاړم، ته دا نجلۍ پوه که.

(c) ketabton.com: The Digital Library



016 ریاست

میوند خپل مدیر ته وویل: مدیر صاحب! یو هندي ډاکتر دی، زه وربانديې مشکوک یم. وایم که ما ته اجازه راکې، زه به یې وڅارم.

مدیر شیرین آغا د لنډې ږیرې لاندې خپله زنه وګروله، شنې سترګې یې تنګې کړې، ویې ویل: جان بیادر! ته خو پوهېږې چې زموږ د توجه محراق ISI دی.

ــ نو دا نور به څنګه شي؟

ــ وه جان بیادر! نور خو مو ټول دوستان دي. ته پوهېږې چې دغه هند، ایران، پسې راتېر شه روسیه دا ټول زموږ دولت سره ډېر ښه روابط لري. ټول تاوان د آی اس آی له خوا رارسېږي.

میوند ولاړ شو، ویې ویل: سمه ده، څه چې ستاسو امر وي.

میوند له دفتره راووت، په دهلېز کې یې څوک په مخه رانه غی، له بلاکه ووت. په کانکرېټي نری لاره د مخامخ بلاک خوا ته روان شو. څو ګامه چې مخ ته لاړ شا ته یې وکتل. د بل بلاک دهلېز ته چې ورسېد، بیا یې مخ شا ته واړاوه. دریم پوړ ته وخوت، د رییس دفتر ته ورغی.

رییس پوښتنه وکړه: څه نوې زړې؟

ــ رییس صاحب! یو هندي ډاکتر مې انډیوال شوی.

ــ ښه شو چې رایاد دې کړ. زما یو خپلوان تور زېړی لري، د خوارکې وضع ډېره خرابه ده، موږ ویل هند ته به یې ولېږو؛ خو سفارت ویزه نه ورکوي. ته خو یو وار ورته ووایه که دا ویزه ورته واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ سفارت نو ولې ویزه نه ورکوي؟ هندوستان ته خو بیخي ډېر مریضان ځي، دوی د خپلې ګټې په خاطر ویزه ورکوي.
ـ ویلي یې دي چې دا خو خطرناکه ساري مریضي ده. په قانون کې اجازه نشته چې دا سې کسان دې هندوستان ته ورننوځي.
ـ خیر، تاسې یو ځل پاسپورټ او صحي اسناد یې ماته راکئ، خپل زور خو به پې ووهو.

***

میوند زبیدې ته زنګ وواهه: چېرته یې؟
ـ په دفتر کې.
ـ غرمه چېرته سره وګورو؟
ـ نه پوهېږم.
ـ دوولس بجې راوځه، دفتر نه دې یو سل ګامه لرې ودرېږه. زه به درشم.
دولس نیمې بجې میوند او زبیدې د نوي ښار پارک ته مخامخ، هرات رستوران سره له موټره کښته شول. د کبابي له څنګه تېر شول، نري شمال د کباب خوندور بوی په هوا کې خوراوه. د رستوران له وره څخه لا دوه ګامه شا ته وو چې د معیوبینو پر چوکۍ ناست سړي وره ته لاس وغځاوه، له خیرن شکېدلي لستوڼي راوتلي لاس کې یې سرچنګې اوږد او سپنیز سیخ و، سیخ یې د وره دستګیر ته واچاوه، ور یې پرانیست. میوند له جیبه لسګون راوایست، د معیوب سړي په لاس کې یې کېښود. د سړي پر له پسې دعاوو ته یې غوږ ونه نیول، رستوران ته ورننوتل. د لوی سالون چپ لاس ته بل نسبتاً وړوکي سالون ته ور دننه شول. هلته د څو مېزونو شاوخوا ته یو څو ښځې، ماشومان او سړي سره ناست وو. میوند دوی هم د یوه مېز شا ته مخامخ سره کېناستل. میوند پاسپورټ او نور کاغذونه د زبیدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې ته پر مېز باندې واچول، ویې ویل: سورج ته به وایې چې دا مې نژدې خپل دی، د هند ویزه ورته واخله.

***

میوند رییس ته ورغی. پاسپورټ یې د رییس مخې ته پر مېز باندې کېښود. پخپله مېز ته پر نژدې چوکۍ کېناست.

رییس د پاسپورټ پاڼې واړولې، څېره یې وغوړېده، ویې ویل: ته خو والله چې ډېر زورور وختې. دومره زر، په څلورو ورځو کې؟

ـ بس انډیوالي ده نو.

ـ کور دې ودان. وایم بیخي ناممکن کار دې راته وکو. پوهېږې چې ډېرې واسطې مې ورته وکړې، یوه یې ونه منله؛ نو ده څنګه ویزه واخیسته؟

ـ رییس صاحب! څه فکر کوې، څوک چې داسې ناممکن کار کولای شي، هغه به یوازې ډاکتر وي که نور څه هم؟

ـ آفرین، ښه شي ته دې پام شوی.

ـ رییس صاحب! زه مخکې هم پرې شکي وم؛ خو اوس مې ولیدل چې څنګه د هند سفیر د یوه عادي ډاکتر په خوله د خپل هېواد قانون ماتوي؛ نو له دې نه مالومېږي چې خامخا به تر کاسې لاندې نیم کاسه وي.

رییس پاسپورټ پر مېز کېښود، ویې ویل: نو څه ته ګورې؟ ورباندې کار وکه.

میوند پر چوکۍ نېغ شو، ویې ویل: رییس صاحب! زه نور دلیلونه هم ورته لرم چې دغه سړی به جاسوسي کوي؛ خو هغه بل مې نه پرېږدي چې تعقیب یې کړم. راته وایي چې موږ یوازې په ISI باندې کار کوو.

ـ شیرین آغا یادوې؟

ـ هو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ته خو پوهېږې چې د دوی مرض بل دی. دوی اوس هم په تنظیمي روابطو پسې ګرځي.

ـ ها بله ورځ چې تاسو ته راغلی وم، همدا خبره مې درته کوله؟

ـ زما د خوا درته اجازه ده. چې هرڅه دې په کار وو، د ما نه يې وغواړه. وايم شيرين آغا بيخي مه پې خبروه.

ـ ډېره مننه، رييس صاحب. خيبر هم راسره ملګری دی. موږ ورته ارتباطي منبع پيدا کړې ده. زه اوس پل موندونکي او د استراق سمع وسايلو ته ضرورت لرم. که له خپل مديريته يې واخلم، بيا رانه پوښتنه کوي چې څه پې کوې؟

رييس د مېز پر سر تڼۍ کېکښله، د زنګ شرنګا پورته شوه، د دفتر آمر کوټې ته راننوت، ويې ويل: صاحب ! امر وکئ؟

رييس وويل: د ميوند او خيبر چې هر څه په کار وي، ورته وريې کئ.

مـرستـه

جميل له حميد سره خبرې کولې. د دهلېز له بل سره د سورج سر ښکاره شو. سورج پوښتنه وکړه: جميل بايي ! ولې خفه يې؟ دا څو ورځې دې وينم چې غمجن غوندې يې.

جميل غلی و.

حميد په انګريزي ورته وويل: ورور يې په ايران کې بندي دی.

ـ ولې؟

ـ مالومه نه ده.

سورج د جميل پر اوږې لاس کېښود، ويې ويل: غم مه کوه.

بيا يې د اسمان خوا ته اشاره وکړه: هغه خو شته. هغه به درسره مدد وکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمیل د غرمې په ډوډۍ لګیا و چې لینا ورپسې راغله ویل یې چې سورج غوښتی یې.
جمیل ورسره روان شو. لینا په لاره کې وویل: میوند ویلي وو چې هغه بل به پسې اخلي، اوسه پورې خو یې څه نه دي کړي.
جمیل وویل: یو څه اسناد یې ورته برابر کړي دي.
ـ د هغې بې شرمې تګ راتګ خو لا ډېر شوي.
ـ ته یو څو ورځې نورې ورته ګوره، هر څه به سم شي.
دواړه د سورج کوټې ته ورننوتل.
سورج وویل: ما خو درته ویل چې خدای به یوه چاره وکي.
د جمیل رنګ وغوړېد، ویې ویل: څنګه؟
سورج وخندل: موږ خو هسې خوشې خلک نه یو، په هر ځای کې ملګري، یاران لرو. یو کس دی، د ایران سفیر سره پېژني.
یو ویزیت کارت یې له جیبه راوایست، جمیل ته یې ونیو: دا یې ادرس دی. مازدیګر یو چکر ورشه.
جمیل موسک شو، کارت یې راواخیست. په کې لیکلي وو:
سید علي اصغر توکلیان
مدیر کُل بنیاد امام (رح)
جمیل سورج ته لاس ورکړ، ویې ویل: ډېره مننه، کور دې ودان.
ـ دا څه وایې؟ چې هر خدمت وي، بنده ورته حاضر دی.

***

لمر د خیرخانې د غره څوکې ته نژدې شوی و، جمیل د تایمني پروژې په دریم سړک کې د یوه درې منزله کور مخې ته ولاړ وو. د کور دېوالونه د مرمر په سپینو ډبرو پوښل شوي وو. د کور ور دومره لوی او دومره لوړ و چې هر رنګه باري موټر ترې تېرېدای شو. جمیل د وره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر زنګ ګوته ټینګه کړه. د زنګ په سپیکر کې چا په فارسي ژبه وویل:
څوک؟
جمیل ورته خپل نوم وښود.
سپیکر وویل: یوه شېبه.
ور خلاص شو. ځوان هلکی راووت. ویې ویل: آغا جمیل، بفرمایین.
په اول پوړ کې یې د مخامخ کوټې ور ببرته کړ، ویې ویل: حاجي آغا د
ننه دی.
حاجي آغا وره ته مخامخ د یوه مېز شاته پر څرخي چوکۍ ناست و. شا
ته یې د کتابونو لویه الماري له پنډو کتابونو ډکه وه. د اکثرو کتابونو
پښتۍ ډبلې وې او عنوانونه یې په طلایي رنګه خطونو لیکل شوي
وو. د ځینو کتابونو د لس، پینځه لس جلدونو مکملې دورې هم
ایښې وې.
جمیل سلام واچاوه.
آغا پورته وکتل، د سر په اشاره یې علیک وویل. ببرته یې کتاب ته
سترګې وګنډلې. د کتاب پر پښتۍ توره لونګۍ پر سر په توره اوږده
چپنه کې د یوه سپین ږیري عکس ښکارېده.
جمیل حاجي آغا ته کتل چې اوس به ورته وګوري؛ خو آغا له کتابه
سترګې نه پورته کولې.
جمیل د کوټې چپ دېوال ته وکتل. یو په یونیم ګز غالیچه ورباندې
ځړېدله، د افغانستان داسې نقشه په کې جوړه شوې وه چې له غزني
رانیولې تر هراته او له بلخه رانیولې تر اروزګانه پورې په کې یو
ولایت و، ورباندې لیکل شوي وو: غرجستان
آغا په کتاب داسې بوخت و لکه ته چې د همدې ناول په لوستلو بوخت
یې. جمیل ښي لاس ته وکتل، کوټه هم مخامخ او هم ښي لاس ته
غځېدلې وه. چار چاپېره یې له نظره تېر کړل. پر کړکیو د دېوالونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ کريمي رنګه کټوري پردې راځړېدلې، له دېوالونو سره درې سيټه کريمي رنګه کوچونه او مخې ته يې شيشه يي مېزونه. دوه دانې دوولس متره د ورېښمو غالۍ په کوټه کې وېړې وې.

جميل د وره له پاسه دېوالي ساعت ته وکتل، پوره پينځه لس دقيقې کېدې چې ده د کوټې دېوالونو، الماريو او پردو ته کتل؛ خو آغا ورباندې چورت هم خراب نه کړ چې څنګه راغلی يې.

جميل د آغا مېز ته نژدې پر چوکۍ کېناست، دې وخت کې د حاجي آغا موبايل وشرنګېد. څو دقيقې يې په کې خبرې وکړې. موبايل يې بند کړ، جميل ته يې د ذره بيني عينکو له شا وکتل. عينکې يې لرې کړې، په کاغذي دسمال باندې يې پاکې کړې. د تورې پګړۍ لاندې د کيڼ غوږ څټ يې وګراوه. په ايراني وزمه فارسي يې وويل: ښه نو د دکتر سورج اشنا ته يې؟

ـ هو، آغا صاحب.

ـ ورور دې چېرته بندي دی؟

ـ په اصفهان کې.

ـ څه يې کړي دي؟

ـ خبر نه يم. همدومره يې راته وويل چې د اعدام خطر يې شته.

ـ قاچاقبر و؟

ـ نه آغا صاحب، دا څه وايې؟ بېچاره غريبکاره سړی و.

آغا موبايل راواخيست. پوښتنه يې وکړه: ورور دې څه نومېږي؟

ـ اجمل.

آغا چا ته زنګ وواهه. د اجمل نوم يې ورته ياد کړ.

وروسته يې جميل ته وويل: له درې کيلو کريستال سره نيول شوی، شل ورځې وروسته اعدامېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اعدام خبره يې په داسې ساړه انداز وکړه لکه اعدامېدل چې د توتانو خوړل وي. خو د جميل په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې، ويې ويل: آغا صاحب، باور وکه، په خدای قسم چې ورور مې داسې سړی نه دی.

ـ والله نو زه څه ووايم؟ مسافري سړی بدلوي.

جميل په ژړغوني غږ وويل: آغا صاحب ! يوه لاره خو به لري؟

ـ ته خو پوهېږې، د ايران قانون ډېر سخت دی، د قاچاقبرو خو بيخي مراعات نه کوي.

جميل په چو په خوله اوښکې تويولې. حاجي آغا تر سترګو لاندې ورته کتل.

جميل سر راپورته کړ، په غريو نيولی غږ يې وويل: سورج ويل چې... تاسې... د ايران سفير پېژنئ.

آغا وخندل: دا د سفير مفير د وس خبره نه ده. د رهبر امر غواړي. پوه شوې که نه؟

جميل له جيبه دسمال راوايست، اوښکې يې وربان دې پاکې کړې.

آغا وويل: ژړا ته لا وخت شته. زه به سبا سفير وګورم. ته بيا ماښام يو چکر راشه.

ـ خير يوسې آغا صاحب ! څه مهال درشم.

ـ همدا وخت.

***

تر سبا ماښامه پورې اجمل څو وارې جميل ته زنګ وواهه. هر ځل يې ورته ويل چې که دی ورته يوه چاره ونه کړي؛ نو ايرانيان به يې اعدام کړي.

سبا ماښام قضا جميل ميوند ته زنګ وواهه.

نيم ساعت وروسته دواړه په موټر کې ناست وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمیل خبره پیل کړه: دا سې شرط یې راته ایښی چې پوره کول یې د هېچا په وس کې نه دي. ویل یې چې باید یو انتحاري ورته پیدا کړم، که نه نو ورور به مې اعدام شي.
ـ ښه نو دا سې؟
ـ بیخي یې لاره رانه ورکه کړې. نه پوهېږم چې څه وکم.
ـ تا ورته څه وویل؟
ـ هېڅ، ورته مې وویل چې زه یې نه شم پیدا کولی.
همدې وخت کې جمیل ته زنګ راغی. میوند وپوښت: څوک دی؟
جمیل د موبایل سکرین ته وکتل، ویې ویل: نمره یې نه ده راغلې، اجمل به وي.
دا ځل اجمل په ټېلفون کې ډېر وژړل. ویل یې چې که دی یې غم ونه کي؛ نو نولس ورځې وروسته به خامخا اعدام شي.
د جمیل سترګې سرې اوښتې وې. ستونی یې ډک و، خبرې یې نه شوې کولای؛ خو بیا یې هم اجمل دلاسا کړ چې خامخا به یوه لاره ورته وګوري.
میوند وویل: سبا ورشه، سړي ته ووایه چې زه درته نفر پیدا کوم.
ـ زه بیا نفر ورته له کومه پیدا کم؟
ـ ته همدومره ورته ووایه، نور یې په ما. هو رښتیا، دا خبره هم ورته وکه چې ته څه ثبوت لرې چې ورور مې خوشې کولی شې.
سبا سهار جمیل بیا د آغا کور ته ورغی. د ثبوت خبره یې ورته وکړه.
آغا په خندا وویل: غواړې چې اجمل همدا اوس ووینې؟
ـ همدا اوس؟
آغا خپل ساعت ته وکتل، ویې ویل: اته بجې دي، که یې په لسو بجو درباندې وګورم؛ نو وبه یې منې؟
جمیل وویل: آغا صاحب په ما ملنډې مه وهئ. دا خو امکان نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ته نو هر شي ته په خپلو ورو سترګو مه ګوره. ته یې څه کوې، وایه چې درباندې ویې ګورم که نه؟
ـ که امکان ولري، ولې نه.
آغا توره اوږده چپنه واغوسته. ویې ویل: درځه.
په انګړ کې د تورو ښیښو کروزینګ موټر ته وختل. موټروان تیار پر جلو ناست و. څلور وسله کسان بل لنډ کروزر ته پورته شول.
موټرونه د هوایي ډګر پر اویا متره سړک سیخ شول. آغا چا ته زنګ وواهه، ویې ویل: څلور سیټه بېزنس کلاس.
سړي ورته څه وویل.
آغا وویل: نه، نه ځنډېږو. فقط پینځه دقیقې پس ته دررسېږو.
بیا یې بل چا ته زنګ وواهه، ورته ویې ویل: شل باندې نه بجې هرات ته دررسېږو. هلیکوپټر راولېږئ. مطلوب کس ته کلي ځای ته راولئ.
په پنځو دقیقو کې هوایي ډګر ته ورسېدل. د دوی موټر چا تلاشي نه کړ.
څنګه چې الوتکې ته وروختل، د الوتکې وربند شو. آغا او یو بل ملګری یې مختـه کېناستل، جمیل د آغا له بل سړي سره شاته کېناست. الوتکه په هوا شوه.
الوتکه پاو باندې نه بجې د هرات پر هوایي ډګر راکوزه شوه.
هلته دوه کروزینګ موټرونه ورته راغلي وو. موټرونه په چټکۍ سره غرب خوا ته روان شول. ښایسته لرې په یوه دښته کې تم شول. چورلکه ورته راغله. د چورلکې پر وزرو د ایران دولتي نښان رسم شوی و. آغا او جمیل وروختل.
پوره لس بجې چورلکه پر یوه کانکریټي میدانګي کېناسته. دوی کښته شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمیل یې یوې کوټې ته بوت، که ګوري چې د ایراني عسکرو په منځ کې اجمل پر چوکۍ ناست دی.
وار له واره یې اجمل ته غېږه ورکړه.
آغا عسکرو ته وویل: راځئ، موږ تاسې به د باندې ووځو چې دوی سره خبرې وکي.
جمیل له ورور څخه پوښتنه وکړه: څه کیسه ده، ته خو مې په خبره پوه که.
اجمل په ژړا شو، د جمیل پر اوږه یې سر کېښود. بیا یې وویل: لالا څنګه یې درته ووایم. ګناهکار یمه. شرمېږم، لویه ګناه مې کړې ده.
ـ نو څه درپېښه وه چې د قاچاق کار دې کاوه.
ـ د قاچاق خبره نه ده. لالا، شرمېږمه، څنګه یې درته ووایم.
جمیل یې پر اوږه لاس ورکېښود، ویې ویل: اوس خو راپېښه ده چې هره خبره وي، سپینه راته وکړه.
ـ یوې ایرانۍ سره مې انډیوالي وه. مېړه یې تریاکي و، باري موټر یې درلود. هر وخت به په سفر کې و. زه په هفته کې دوه - درې وارې ورتلم. شپه مې ورسره تېروله. یو ماز دیګر یې راته زنګ وواهه چې ورشم. زه چې ورغلم، د کور مخې ته یې ټیکسي ودرېده. دا ورنه کوزه شوه. ما ته یې وویل چې له ټولبکسه یې بېګ ورسره یوسم. بېګ مې راپورته کړ، سپک و. د بېګ زنځیر ته قلف لوېدلی و. ښځې ویل چې مېړه یې سوغات وراستولی. کور ته یې ورننوتو. هغې سپین نرې د سکشونه له لاسونو وکښل، د خوب پر تخت یې واچول، خپله پخلنځي ته لاړه. د شپې ډوډۍ مو سره خوړلې وه چې یو ناڅاپه د کوټې ور په شدت سره خلاص شو. پینځه شپږ تنه پولیسان کوټې ته راننوتل. د اسنادو پوښتنه یې رانه وکړه. ما د اقامت سند ورښکاره کړ. ویې پوښتم چې هلته څه کوم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې ورته وويل: دا مې د مېړه ملګرى دى.
پوليسو وويل چې موږ به د كور تلاشي وكړو. څو دقيقې دې خوا ها خوا وګرځېدل، بېګ يې ولېد ، ويې ويل: دا د چا دى؟
ښځې ژر د ما خوا ته اشاره وكړه، ويې ويل: د ده.
ما چې څومره وويل بېګ زما نه دى، ويې نه منل. د سكشونه يې وا غوستل، د بېګ قلف يې مات كړ. په منځ كې يې كريستال و.
زه يې بوتلم. په لابراتوار كې جوته شوه چې په بېګ باندې د بل چا د ګوتې نښې نشته، يوازې زما د ګوتې نښه په كې وه.
ــ جميل سوړ اسويلى وكيښ، ويې ويل: دا څه بې ناموسه خلك دي؟
اجمل بيا په ژړا شو ، ويې ويل: ما به اعدام كړي.
جميل وويل: غم مه كوه ، زه به دې را خلاص كم.
ــ څنګه؟
ــ فكر وكه، تر دې ځايه راتګ هغه هم په ايراني طياره كې څه اسانه خبره ده؟
ــ هو رښتيا زما خو هېر شو چې درنه پوښتنه وكم. ته څنګه دلته راغلې؟
ــ بس دوى رانه يو څه غوښتي دي. يوه معامله ده، سره كوو به يې.
ــ څنګه معامله؟
ــ بس ته يې څه كوې؟ دا زما كار دى. خو ګوره پام دې وي چې هېڅوك به نه خبروې.
ــ دا څه وايې؟ ما ته يې يوازې له تا سره د خبرو اجازه راكړې وه، ها تا ته مې چې ټېلفونونه كول، ټېلفون د دوى و. زه هلته بيخي كوټه قلفي يم. رښتيا دوى د مدرسو د طالبانو پوښتنه كوله چې څوك په كې پېژنم كه نه.
ــ تا بيا ورته څه وويل: هېڅ، هغه د جنت ګل زوى مې وروښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آغا کوټې ته راننوت. ویې ویل: ځو به.

په وتو کې یې جمیل ته وویل: یوه خبره په یاد لره، زما زور خو به دې لیدلی وي. که دې چا ته څه ویلي وو؛ نو ورور به دې دلته اعدام شي او ته هلته.

جنرال طالبانو ته وسله لېږدوي

زبیدې سورج ته د اورلګیت د ډبلي په اندازه یو او سپینیز سګرېټ لایټر ورکړ. سورج د لایټر د اخیستو پر وخت د زبیدې ګوتې لمس کړې. لایټر یې په شونډو پورې وموښه، ویې ویل: دا به تل را سره ساتم.

میوند په لایټر کې د استراق سمع او پل موندونکې اله پټه کړې وه.

اوس نو هغه کولی شول چې سورج په هر ځای کې وڅاري او له پینځه سوه متره لرې څخه د هغه خبرې اترې واوري.

ماښام پل موندنکي سورج په تایمني کې ښوده. هغه د آغا په کور کې و. میوند سل یو نیم سل متره لرې د سړک پر غاړه خپل موټر درولی و.

د دوی خبرې یې اورېدلې.

ټولو په روسي ژبه خبرې کولې.

د سورج غږ یې واورېد: څنګه شو، سړی دې راضي کړ؟

بل غږ وویل: مالومه نه ده، لس ورځې وخت یې غوښتی.

سورج پوښتنه وکړه: لس ورځې، ډېرې نه دي؟

- موږ نو څه ببړه لرو؟ وایي ماهي چې هر وخت له اوبو ونیسې، تازه به وي.

سورج بیا پوښتنه وکړه: څه یې ویل، چېرته به پسې وګرځي؟

ـ خپل کلي ته پسې ځي، زرمت ته. وایي هلته د مدرسې طالبان ډېر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ که سړی یې پیدا نه کړ؛ نو بیا ؟
په دې منځ کې د جنرال ډډ غږ را پورته شو: بله لاره نه لري. ورور خو هر چا ته شیرین وي. څنګه آغا صاحب د غسې نه ده.
آغا وویل: هغه خو به وشي، اوس د وسلو خبره وکه.
جنرال پوښتنه وکړه: راوړې یې دي؟
ـ نه، سبا به یې پخپله راوړم.
ـ چېرته دي؟
ـ په کلینیک کې، دا ځل یې د طبي وسایلو په منځ کې رالېږلې دي.
ـ څه شی دي په کې؟
ـ ډېر څه نه دي، یو څو داني ماینونه دي، یو دوه میله راکټونه دي.
ـ راکټونه څه رقم دي، آر پي جي؟
ـ نه بابا، طیاره ویشتونکي.
جنرال په خندا وویل: ځمکه خو مو ورته سور اور کړځولې اوس یې په هوا کې هم نه پرېږدئ.
د آغا د خندا اواز هم پورته شو، ویې ویل: لوی شیطان چې پسې وانه خلو کله یې پرېږدو.
جنرال وویل: زه بیا څه مهال درشم؟
ـ سبا ماسپښین.
میوند نیم ساعت نور هم په موټر کې ناست و؛ خو د دوی نورې خبرې هغه د سورج خبره، د شباب او د شراب خبرې وې.
سهار چې میوند دریس د کوټې ور په ګوته وواهه، هغه د وره شاته ولاړ و، کورتۍ یې په کوټ بند راځړوله، ورته ویې ویل: په دې شنه سهار کې؟ خیر خو به وي؟
میوند ور پورې کړ، ویې ویل: مهمه خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رييس چې د خپل مېز شا ته تېر شو او پر چوکۍ کېناست، میوند د مېز په څنګ کې پر کوچ کېناست، د جنرال کیسه یې ورته وکړه.
رییس دواړه لاسونه تر زنې لاندې ایښي وو، څنګلونه یې پر مېز تکیه کړي وو. مخامخ د بوال یې سترګې ښخې وې.
میوند پوښتنه وکړه: رییس صاحب، څنګه وکړو؟
رییس پر چوکۍ نېغ شو، د ډیجیټل ټیلفون غوږي یې پورته کړه، ویې ویل: یو ځل به د نظامي امنیت رییس ته خبر ورکړم.
رییس هماغه خبر چې میوند ورته راوړی و، د نظامي امنیت رییس ته ورکړ.
میوند وویل: که د دوی یو کس راسره ګډ کار وکي؛ نو کارونه به مو اسانه شي.
رییس وویل: ته د نظامي امنیت رییس ته ورشه، هلته چې ورسېدې ما ته زنګ ووهه.
د نظامي امنیت رییس، فهیم ته وظیفه ورکړه چې له میوند سره دې ګډ کار وکړي.
میوند ورسره خپل معلومات شریک کړل. له هغه یې وغوښتل چې جنرال دې کلک وڅاري.
جنرال نوی دفتر ته رسېدلی و چې د مېز په سر ټیلفون یې وشرنګېد، د تخنیک آمر و، ویې ویل: موټر دې ورکشاپ ته راولېږه چې چک یې کړو.
جنرال وویل: لا خو یې د چک کولو وخت نه دی، بله هفته یې میاشت پوره کېږي.
د تخنیک آمر وویل: بله هفته به راباندې کار زیات وي. ته خو مې یار یې، ستا موټر خو نو سم ګورم، وایم پرزه یې درته چک کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال په خندا وویل: یاره منم دي. خو زه ما سپښین لږ وختي غوندې وځم.
ـ پروا نه کوي، تر دولسو بجو پورې خلاصېږي.
فهیم خپل رېنجر د جنرال د موټر څنګ ته ودراوه. مستري ته یې د موټر کیلي ورکړه، ورته ویې ویل: ته د ما موټر ټراپي که چې څه خرابي خو به نه لري، داسې ښه منډه پې وکه چې کش یې سم دی که نه؟
مستري د ده موټر وایست. فهیم د جنرال د موټر د وره په رابړ کې پل موندونکی وټومبه، په ګوته باندې یې ښه ټینګ کړ، څو وارې یې لاس پرې ورتېر کړ. بیا یې د استراق سمع وسیله د وره تر کاک لاندې ولګوله.
له موټره کښته شو، مخامخ د تخنیک آمر ورروان و. ټینګه غېږه یې ورته ورکړه، ویې ویل: کور دې ودان اشنا.
□□□لمر د پغمان تر غرونو نوی پناه شوی و چې یو زېړ رینجر د چهلستون د باغ قبلې خوا ته په خامه سړک کې دوړې بادولې. شا ته یې موټر سایکل روان و. موټر سایکل والا خپل مخ په دسمال پټ کړی و چې له دوړو څخه ځان وساتي. رېنجر د حاجي افغان د باغ تر څنګ په خامه سړک پورته خوا روان و، له څو کږلېچونو تېر شو، د قندي جومات شاته د یوه کور مخې ته ودرېد.
فهیم سل ګامه لرې د غره په لمن کې هدیرې سره خپل موټر سایکل ودراوه. تر هغه ځایه چې یې سترګو کار کاوه، قبرونه وو، ته وا د دنیا ټول مړي همدلته ښخ دي. د هدیرې په منځ کې د توت یوه ونه یو ځای او دوې ونې بل ځای داسې ولاړې وې لکه د ګارډ پیره داران. د قبرونو په منځ کې پینځه شپږ قبرونه داسې وو چې شناختې یې د بني ادم د قد په اندازه لوړې وې. شناختې د غره له ډبرې وې چې منظمې نه وې تورېل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې. لکه نوکرانې چې خپل بادار ته لاس په نامه ولاړې وي، ډېرې هم همداسې غلې ولاړې وې. د کور ور خلاص شو، رېنجر وردننه شو.

فهيم په ښي غوږ کې يو شی وټومبه، د جنرال غږ يې سم وانه ورېد. د باد داسې شغها وه، لکه سړی چې د بوتل په خوله کې پوکی وکړي.

فهيم د يوه کور د ېوالـه ته پناه يوړه.

په غوږي کې يې د بل سړي اواز واورېد: ((بې غمه اوسه، ملابانګ حرکت کوم. وايم سترګه به نه وي نه راختلې چې ما به چاراسيا ته رسولي وي. رښتيا انجينير صاحب سلامونه ويل))

د جنرال غږ راغی: ((وعليکم سلام، وايم اصلي مجاهد انجينير صاحب دی، دې نورو خو هسې د جهاد نوم بد کړی.))

له هغې خوا يو بوډا لکړه په لاس کرار کرار رانژدې شو، فهيم ځنې پوښتنه وکړه: بابا د دې قبرونو شناختې ولې دومره جګې دي؟

بوډا په امسا باندې دوه لاسې تکيه وکړه، هڅه يې وکړه چې کړو په ملا يې سمه کړي، فهيم ته ځير شو، ويې ويل: نابلده غوندې ښکارې.

ـ هو، خيراباد ته روان يم.

ـ بچو، دا خو د سيدانو قبرونه دي. دوی دغسې لوړې شناختې جوړوي چې قبرونه يې د نورو خلکو غوندې نه وي. پخوا به چې يو سيد ومړ، نو زامنو به يې د لېچې په اندازه ډبره راواخيسته غونډارى به يې ځنې جوړ کړ، بيا به يې غونډارى لوړه په شناختې باندې کېښود. ويل يې هر وخت چې غونډارى ولوېږي، نو د سيدانو له خېلخانې به يو څوک مري. موږ چې ژني وو، شيطاني به مو کوله، د سهار لمانځه ته چې به روان شوو، يو دوه غونډاري به مو راخطا کړل. بيا به څو ورځې په سيدانو کې وير ګډ و، هر يو به يې ګومان کاوه چې د ده وار به وي. اوس يې دا رواج ختم وبوله، يوازې جګې شناختې دروي. په غونډارو پسې نه ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا اذان وکړ. بوډا بې خدای پامانې په مدار مدار د جومات خوا ته روان شو.

خلک د ماښام له جماعته راګرځېدلي وو چې د جنرال موټر ببرته راووت.

سهار په تیاره کې له هماغه کوره یو زیل موټر راووت. باډي یې له شګو ډکه وه. هدیرې سره یوه سړي ورته لاس ونیو.

لاري ودرېده.

سړي پوښتنه وکړه: پورته ځې؟

موټروان وویل: راوخېژه.

سړی موټر ته وخوت، د غوړو تش پلاستیکي سطل یې د خپلو پښو مخې ته کېښود. ویې ویل: تر دې لیلیې پورې ځم.

لاری د غره په نسبتاً هواره لمن کې چې خلک یې په‌وله دښته بولي، د خیراباد د غونډیو خوا ته روانه شوه.

موټروان پوښتنه وکړه: د خوشالخان په لیلیه کې کار کوې؟

سړي وویل: هو، آشپز یم.

سړي له جیبه تسبېح راوایستې، چپ لاس یې د تسبو اړولو ته له پټو نه راوایست، شونډې یې په خوځېدو شوې، په ذکر لګیا شو. موټروان بله پوښتنه ونه کړه.

څو شېبې وروسته لاري د لیلیې د دېوالـه پـر برابر ودرېده. فهیم ورنه کښته شو؛ خو د لاری تر سیټ لاندې یې پل موندونکی لګولی و.

لمر لا د چهلستون د غره له سره یو نیزه پورته شوی و چې لاري ببرته راغله. د خیراباد د غونډی په ببخ کې یوه سپینه کرولا ولاړه وه. د مخ بانټ یې پورته و. یوه سړي په کې ګوتې وهلې.

بل سړي لاری ته لاس ونیو، ویې ویل: استاده! ته خو یو وار دا موټر وګوره، سم دم روان و، ناڅاپه ګل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټروان په ملنډو وویل: تاسې ټول د شترنګ ډرېوران یئ.
له جلوه راکښته شو، د کرولا خوا ته روان شو. له شا څخه د ((ټق))
آواز راغی. شا ته یې مخ واړاوه. میوند ورته تمانچه نیولې وه. فهیم
ورته په څټ کې ټینګه لغته ورکړه. سړی پړمخې ولوېد. فهیم یې
لاسونه شاته وروتړل. سړي چیغه کړه. میوند یې خوله په پلن رابړ ټېپ
باندې بنده کړه. فهیم او میوند په دواړو موټروان له متو ونیو، د
کرولا شاتني سیټ کې یې څملاوه، پښې یې هم وروتړلې. میوند
کرولا چالانه کړه، فهیم له لارې څخه پل موندونکی راواخیست او په
منډه کرولا ته وخوت.

ز ه  یې  پېژنم

جنرال لاس تر زنې ناست و. څمکې ته یې کتل.
د آغا تندی ګونځې و. د مخ څېړدلی پوستکی یې په ښي لاس سولاوه.
سورج چوپتیا ماته کړه: پخوا داسې نه و شوی؟
جنرال په داسې غږ چې ته وا له ځانه سره غږېږي، وویل: دا یې اول وار
دی. ما څو وارې تر جایداده وسلې رسولې دي.
آغا وغرېد: نور کله خو به هسې عادي شیان وو، مهم همدا ځل و.
جنرال سر وښوراوه.
آغا وویل: پوهېږې چې په دې راکټونو باندې څومره کار شوی و. که
طالبانو ته رسېدلي وای او د امریکا طیارې یې پرې ویشتلې وای؛ نو
زموږ د ټولو ژوند به ورسره سم شوی و. پوهېږئ، ما ته یې د
ټرانسپورټ وزارت منلی و. جنرال ته مې که نور څه نه و؛ نو یوه رتبه
خو به مې ورته اخیستله.
جنرال آغا ته وکتل: آغا صاحب، موږ خو خپل کار کړی، دا خپله د
طالبانو ګناه ده، کار خو هغوی خراب کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سورج وویل: مهمه دا ده چې ارتباطي کس څنګه ونیول شو؟
جنرال وویل: زما ارتباطي کس طالبانو ته رسېدلی و، په چار اسیا کې یې وسلې ورسپارلې وې، بېرته چې راته ټېلفون یې راته وکو چې دا دی ما خپل کار وکو. په لاره کې یو دم تری تم شو. ته وا ځمکه چاوده شوه، دی په کې غیب شو.
آغا وویل: مهمه دا ده چې سړی له دې خوا تعقیب شوی که له هغې خوا؟
جنرال ځواب ورکړ: زه مطمین یم چې له هغې خوا تعقیب شوی.
آغا وغرېد: دومره اطمینان څنګه لرې؟
سورج وویل: زه خو په دې ډاربږم چې څوک مو ونه څاري. په دې ډاډه یئ چې دغه کور امن دی؟
آغا د خپل کور امنیتي مسوول راوغوښت. ورته ویې ویل چې امنیتي کامرې دې په ځیر وګوري.
هغه وویل: نور څه نشته؛ خو دوه درې سوه متره لرې یوه سپینه کرولا ولاړه ده، یو یونیم ساعت کېږي چې هماغلته ولاړه ده.
آغا وویل: ته پخپله ورشه، ویې ګوره چې څوک دي، څه کوي؟
میوند د موټر په هینداره کې سرف موټر ولید چې د آغا له کوره راووت او د ده خوا ته روان شو.
خیبر ته یې زنګ وواهه.
سرف د کرولا څنګ ته ودرېد. د آغا سړي له موټره کښته شول.
میوند د موټر شیشه کښته کړې وه، په ټېلفون کې یې په پارسي وویل: وروره زه خو ستا نوکر نه یم، یو ساعت کېږي چې درته ولاړ یم، ولې نه راځې؟
یوه شېبه یې د بل لوري خبرو ته غوږ ونیو، بیا یې وویل: ته عجب سړی یې، پیسې زما درباندې دي او نخرې ته کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې د هغې خوا خبرو ته غوږ ونیو.
ویې ویل: زه نور درته نه شم درېدلی، زه لاړم، بیا به ګورو سره.
ټېلفون یې بند کړ. د آغا سړي په ایراني ډوله پارسي وپوښت: آغا ! خیریت خو به وي؟ موټر دې ولې دلته درولی؟
میوند دې خوا ها خوا وکتل، ویې ویل: دلته خو د منع پارکینګ علامه نشته.
ـ د خلکو کورونه خو شته.
ـ نو څه؟ زه خو د سړک په غاړه ولاړ یم.
دې وخت کې سورج راورسېد ، خپل موټر یې ودراوه. ویې ویل: اوهو فرید جانه ! دلته څه کوې؟
ـ هېڅ، یو معامله دار ته مې ولاړ وم. ویلې یې وو چې پیسې درته راوړم. یو ساعت کېږي چې ولاړ یم، درک یې نشته. اوس نو ځم د کور خوا ته. ته چېرته روان یې؟
ـ زه دغسې په لاره تېرېدم چې ته مې ولېدې. دا خلک څوک دي؟ خیریت خو به وي؟
میوند وویل: نه یې پېژنم، وایي موټر دې ولې دلته درولی. د چا باډیګارډان به وي.
د سرف له منځه چا غږ وکړ: راځئ چې لاړ شو.
د آغا کسان موټر ته وختل.
میوند له سورج سره مخه ښه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړی

منصور ته عجیبه غم جوړ و. په ورځ کې به یې درې ساعته د تجوید درسونه ویل؛ خو نه د کوچنیوالي د وختونو په شان چې ملا صاحب به په هرې غلطۍ په لښته واهه. اوس چا نه واهه؛ خو د ح، ع، ص او د نورو عربي تورو سم تلفظ یې کولمې خولې ته راوستلې. چې په مدرسو کې ویل کېږي، د هغو کتابونو نومونه یې په یو شواخون زده کړل.

دی به پخوا هم اکثره وخت د وظیفې لپاره له خیبر سره د کابل شاوخوا ولسوالیو ته ته؛ نو مونتې رېره یې له پخوا وه. په دې څو هفتو کې یې بیا بیخي ګوتې په کې ونه وهلې، سمه دمه طالبي رېره یې شوې وه. د سترګو تورول یې بیا په کور کې له خپلې ادې زده کول، لا به یې سلایي سترګو ته نه وه رسېدلې چې ده به سترګې داسې بندې کړې چې ته وا ایلفي سرېښ دې پرې وهلې دي. ایله یې اوس سر خلاص شو چې ښځې هم ډېر کمالونه لري. په څو جوماتونو کې وګرځېد؛ خو ملایانو یې عصري شوي وو، مسواک یې نه وهل، ټولو د غاښو برسونه کارول. چا ورته د یکه توت جومات وښود. دوه مازدیګري هلته لاړ او مسواک وهل یې زده کړل. د مسواک سر نو لکه خطاطان چې په تېرې چړې د نی سر جوړوي، دا هم هماغسې په هنر سره سپینول او ریښکی ریښکی کول غواړي.

منصور د وزیر اکبر خان د لین په موټر کې سپور و او مسواک یې واهه چې څنګ ته یې ناست سړي ورته وویل: وروره، مسواک خو ډېر ښه شی دی. ته پوهېږې اوس په عربستان کې وربانديې تحقیق شوی دی، وايي په مسواک کې فلورین ډېر دی، دا فلورین چې دی د غاښونو مینا ته ډېره ګټه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



منصور سړي ته ورو کتل چې پولادي رنګه دريشي يې اغوستې او نيکټايي يې هم تړلې ده. پوښتنه يې وکړه: ته ډاکتر يې؟
سړي وويل: نه زه په اسلامياتو کې له الازهره دکتورا لرم.
منصور ښه په شد و مد وويل: ماشأالله ماشأالله.
سړي وويل: خو يوه خبره درته کوم. دا سمه ده چې مسواک ښه شی دی، خو دا زمونږ طريقه د استعمال يې سمه نه ده.
منصور وويل: څنګه؟
ـ ته وګوره مسواک دې په غاښونو وهې بيا يې په جيب کې اچوې. په جيب کې دې سل نور شيان پراته وي، سل رقمه ميکروب په کې وي. دغه دوړې وګوره، دا خو ټول ميکروب دي، دا په مسواک باندې کينې او ته يې بېرته په خوله کې وهې.
منصور وويل: نو چاره يې څه ده؟
سړي لنډه خندا وکړه، ويې ويل: زوروره، اسانه ده، په يو پلاستيک کې يې کېږده، يو پوښ ـ موښ ورته پيدا کړه، بس له جراثيمه يې وساته.
د منصور بل غم د نومونو زده کول وو. ده بايد د جميل د ټولې خېلخانې نومونه زده کړي وای. د هغه د ورونو، ترونو، ماماګانو او د هغو د زامنو عکسونه يې څو څو واري وکتل. د هر چا په عکس باندې يې نوم ليکلی و. د هر يوه په باره کې يې معلومات ياد کړل چې څه کار کوي؟ چېرې اوسي؟
په دې پلان کې جنت ګل د ده پلار و، هغه په حزب اسلامي کې سرګروپ و، پر زرمت باندې د شورويانو په حمله کې شهيد شوی و. منصور هاغه مهال لا د دوو کالو و. وروسته د ده نيکه وانې ته تللی و، هغه همدا يو زوی درلود، څو کاله وروسته پخپله په ملاريا باندې ساه ورکړه. د منصور مور بيا محرقې ووژله. دی په وړوکتوب کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





مدرسې ته لاړ، مدرسه یې ختمه کړې وه، خو لا هم هماغلته اوسېده، له منتظم سره یې په کارونو کې مرسته کوله. جمیل ورپسې ورغی او د جهاد بلنه یې ورکړه. دا هغه پلان و چې خیبر او میوند جوړ کړی و.
منصور لوی امتحان په مخ کې لاره، د آغا صاحب امتحان.
هفته چې پوره شوه، له جمیل سره د آغا کور ته لاړ. جمیل آغا ته وویل: دا سړی منصور نومېږي، راغلی چې جهاد وکي.
آغا له منصور څخه پوښتنه وکړه: ته ولې جهاد کوې؟
منصور داسې رډ رډ ورته وکتل چې ته وا د هغه په خبرو یې بیخي سر نه خلاصېږي.
آغا خپله خبره بیا وکړه. منصور بیا څه ونه ویل.
جمیل د آغا خبره ورته په پښتو وکړه.
منصور وویل: مړه، جهاد را باندې خدای فرض کړی. زه د یهود و نصارا ختمول غواړم.
آغا جمیل ته وکتل: په فارسي نه پوهېږي؟
جمیل سر وښوراوه.
آغا وویل: ورته ووایه چې جهاد خو قرباني غواړي.
منصور ځواب ورکړ: جي، زه د خپل سر نه تېر یم.
آغا د منصور تورو کړیو سترګو ته نېغ وکتل، ویې ویل: که ستا مرګ په کې حتمي وي، نو بیا؟
ـ مړه ورته ووایه چې دنیا لکه بازار دی. سړی چې بازار ته ځي، خپله سودا په کې کوي، بیا ترې ځي. زه دې بازار ته په شهادت پسې راغلی یم. زموږ اصلي کور اخرت دی، ما سره د اخرت غم دی. د ژوند پروا مې نشته.
آغا خپلې عینکې پر پوزې سمې کړې، ویې ویل: شهادت خو مېړانه غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نه جي، اسلامي جذبه غواړي. پلار مې په روسانو باندې ځان شهيد کړی، زه خو هم د هغه زوی يم.
آغا وموسل: آفرين.
هغه يې بلې کوټې ته واستاوه. جميل يې وپوښت: سړی دې له کومه پيدا کړ؟
ـ زموږ تربور دی، پلار يې په جهاد کې شهيد شوی، د موره يو زوی دی. په پاکستان کې يې مدرسه ويله. زه هلته پسې ولاړم. قسمت مې ښه و، دی پخپله تيار جهاد ته ناست و. بس همدې ته معطل و چې يو څوک ورته لاره وښيي.
ـ پښېمانېږي خو به نه؟
ـ نه بابا، ما يې غوږونه داسې پړسولي، د حکومت دومره بد مې ورته ويلي چې اوس هرڅه ورباندې کولای شو.
ـ تا ويل چې د پلار يوازينی زوی دی؟
ـ هو، آغا صاحب! د ده په مرګ کې زما ګټه هم ده. دوی ډېر جايداد لري، که مړ شي؛ نو ټولې ځمکې به يې موږ ته راپاتې شي.
آغا وخندل: ښه نو داسې، ته په جهاد کې هم خپله ګټه غواړې؟
آغا له ترجمان سره منصور ته راغی. لپ ټاپ کمپيوټر يې خلاص کړ. له منصور څخه يې د کورنۍ په باب پوښتنې وکړې. د منصور هر ځواب چې به يې اورېده، بيا به څو شيبې په کمپيوټر کې سترګې ښخې کړې. سوال ځواب چې خلاص شو، آغا ورته وويل: سبا به دې هرات ته واستوم، د جهاد درسونه به هلته درباندې وو ايو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرب علي ضربه وركوي

فريد په دوكان كې ناست و چې يو سړی ورغی. سړي وويل: د فريد دوكان همدا دی؟

فريد ځواب وركړ: امر وكه.

ـ له فريد سره مې كار دی.

ـ زه پخپله فريد يم، څه خدمت وكړم؟

سړي په دوكان كې ټول ناست كسان له نظره تېر كړل، بيا يې وويل: نه هغه بل فريد ، د ډاكتر سورج ملګری، زه ډاكتر سورج رالېږلی يم.

د دوكان منشي خبرو ته خوله جوړوله چې فريد ژر وويل: ښه، ښه، موږ دوه فريدان يو. شريک مې هم فريد نومېږي. اوس د باندې تللی. زه به يې راوغواړم.

په دوكان كې ناستو كسانو فريد ته وكتل، بيا يې يو بل ته سره وكتل خو چا غږ ونه كړ.

فريد ميوند ته زنګ وواهه. سړي د چايو دويم ګېلاس نيم كړی و چې ميوند راورسېد. څنګه چې د ميوند سترګې په هغه باندې ولګېدې، غېږه يې ورته خلاصه كړه، په لوړ آواز يې وويل: اندېوال، ته !

اوږده شېبه يې يو بل سره په غېږ كې ونيول.

ميوند فريد ته وويل: دی ضرب علي نومېږي. موږ پخوا سره همكار وو. څه ښه وختونه وو، هزاره و پښتون و تاجک راكې نه وو، ټول لكه ورونه وو.

فريد وويل: د ډاكتر نجيب وختونه يادوې؟

ـ هو، زه او ضرب علي دواړه په لسم رياست كې وو. د ده تخلص دوستدار دی خو ټولو ملګرو اندېوال باله. دی د دوشي، زه د مشرقي، يوازې زه نه وم، وايم دی د ټولو اندېوال و.

(c) ketabton.com: The Digital Library


فرید وویل: نو ستا نوم یې څنګه نه دی زده؟ ده خو ویل چې له فرید سره یې کار دی.
میوند ضرب علي ته وکتل.
ضرب علي په سترګو کې ورته اشاره وکړه، ویې ویل: کیسه اوږده ده، زه و ته به سره د باندې ووځو.
ضرب علي خپله کیسه ورته وکړه. دی د تنظیمي جګړو په سر کې کراچۍ ته او بیا ایران ته تللی و. په موقته اداره کې بېرته له فامیل سره کابل ته راغلی و. د ملي امنیت ریاست ته تللی و چې بېرته مقرر شي، خو چا نه و مقرر کړی. دوه درې کاله یې په یوه دوکان کې منشي توب کړی و. وروسته په بنیاد امام کې د لوژستیک امر مقرر شوی و. وروسته چې حاجي آغا ته د ده صداقت ښکاره شوی و، د سابقې پوښتنه یې کړې وه. چا ورته ویلي وو، دی پخوانی نظامي دی. بیا نو حاجي آغا د موسسې امنیتي چارې ورسپارلې وې.
هاغه ورځ چې میوند د حاجي آغا کور ته نژدې په موټر کې ناست و او بیا یو څو کسان ورغلل چې ولې یې موټر هلته درولی، ضرب علي هم د آغا له کسانو سره په سرف موټر کې و. میوند یې لیدلی او پېژندلی و خو غږ یې نه و کړی. وروسته سورج ده ته د میوند ادرس ورکړی و چې په قوای مرکز کې یې دوکان دی او فرید نومېږي.
ضرب علي خپله کیسه خلاصه کړه او میوند ته یې وویل: اوس نو ته وو ایه، تا هلته څه کول او ولې دې سورج ته خپل نوم فرید ښیيلی دی؟
میوند وویل: ته خو مې زوړ یار یې، نه پوهېږم په دې جنګونو کې به ستا مفکوره بدله شوې وي او که اوس هم هماغه پخوانی سړی یې؟
ضرب علي وویل: زه هماغه اندیوال یم او هماغه مفکوره.
میوند ترخه موسکا وکړه، ویې ویل: پوهېږې، یوه ورځ مې هغه خالد ولید، ستا به په یاد وي چې پخوا به یې په کارمل باندې سر ورکاوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دوآتشه پرچمي چې یې بولي، پخوا هغسې و خو اوس یې د موټر په ښیښه باندې د پکول خېلو عکسونه لګولي دي. اوس هره ګړۍ «آمر صاحب» یادوي.

خالد غوندې کسان ډېر دي چې وروسته یې تنظیمي سابقې راوایستې، اوس هر یو د څوارلس کلن جهاد دعوې کوي. نور یې څه کوې چې هغه ستا یو وطندار نه و، هغه شاعر چې و.

ـ ښه، ښه، ته ودرې دا سې ښه نوم یې و. جهش، مرتضی جهش یادوې. یاره عجب انقلابي شعرونه به یې ویل، ها د برېژنیف په ویر چې یې اورېده قصیده ویلې وه.

ـ پوهېږې، هغه بیا وروسته د یوه تنظیم ویاند شو. خاص د تنظیم له مشر سره یې ناسته ولاړه وه. د تنظیمي جګړو پر مهال به یې له بي بي سي سره مرکې کولې چې نن مو دا ځای ونیو، د پلانکي تنظیم دومره کسان مو ووژل.

ضرب علي د میوند خبره ورپرې کړه: نه بابا ! دا څه وایې؟

میوند ورته وموسېد: ما چې تا نه پوښتنه وکړه چې اوس هم په هماغه مفکوره یې که نه، خو همدا یې وجه وه. اوس داسې کسان ډېر دي چې ځان ته روشنفکر وایي خو په متعصبو قومي تنظیمونو پسې منډې وهي.

ضرب علي وویل: ما خو پخوا هم ویل چې زه نور هېڅوک نه یم، یوازې افغان یم، اوس یې هم درته وایم چې څو پورې ژوندی یم، افغان به یم.

میوند ورته غېږه ورکړه، ویې ویل: افسوس چې تا غوندې وطنپال خلک اوس ډېر کم پیدا کېږي. اوس ملک له جاسوسانو ډک دی. په ډاکتر سورج باندې مې شک و، ځکه مې ځان ورته د دې دوکان مالک ښودلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرب علي وويل: څه اسناد دې پيدا کړي که يوازې شک دی.
ميوند په ښی، پښه باندې پر ځمکه کرښې وايستلې ويې ويل: شک مې ځکهورباندې راغی چې ډېره بيکاره نسخه يې راته ليکلې وه، خالي د معدې تکليف ته اوولس قلمه دوا، بل ډاکتر ته مې چې ښکاره کړه، هغه وويل چې ډاکتر خو داسې نسخه نه ليکي.
- ډاکتران خو هسې له يو بل سره رخه لري.
- نه، يوازې دا خبره نه ده. يو وخيم ناروغ يې نه دی رغولی، ټول ځنې مړه شوي دي. په دولتي روغتون کې يې ډېرې دوسيې ساتل شوي خو حکومت حکومت نه دی. نو زه په دې شکي يم چې هسې به د ډاکتر په نوم راغلی وي خو په اصل کې به جاسوس وي.
ضرب علي اسويلی وکيښ، ويې ويل: چې رښتيا شي زه هم د حاجي آغا او د «بنياد امام» په ځينو کارونو يو څه شکي شوی وم. خيريه موسسه او دومره کش وفش سره نه جوړېږي. پوهېږې، دومره لوی سلاحکوټ لري چې ته وا دا خيريه موسسه نه ده، عسکري فرقه ده. ډاکتر سورج ژر ژر حاجي آغا ته راځي، اکثره وختونه يو جنرال هم ورسره وي. دوی چې راشي بيا هيڅ څوک کوټې ته نه ورپرېږدي. د راز سړی يې د کور ساتونکی دی.
- ته يې هر وخت په کور کې يې؟
- نه، زه خو د بنياد د امنيت مسوول يم، سورج او جنرال هم ورته راځي. د کلينيک يوه ډيپو ده، کيلي يې يوازې له آغا سره ده. څو ورځې مخکې يې د جنرال رينجر موټر د ډيپو له وره سره ودراوه، زه يې له څنګه تېرېدم چې آغا راباندې چيغه کړه «دلته څه کوې، ورشه پيره داران دې وڅاره» آغا هېڅکله په دې لهجه راسره نه و غږېدلی. هماغلته راته شک پيدا شو چې کوم پټ کار کوي.
ميوند وويل: چې داسې ده نو ما ته غوږ شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سورج، جنرال او آغا کیسه یې ورته وکړه. بیا یې وویل: ملګریه، زه ستا همکارۍ ته ضرورت لرم. که غواړې چې رسمي کار وکړې نو زه به خپل رییس ته ووایم چې په مخفي کارمندانو کې دې ونیسي.

ضرب علي وویل: حاجي آغا نن ستا عکس په موبایل کې راکړ، ویې ویل چې «فرید نوید شرکت ته ورشه، وګوره چې د شرکت مالک همدغه سړی دی که نه؟» آغا ویل چې «موږ ورسره د موبلایلو او بېټریو قرارداد کوو.»

میوند وویل: څنګه؟ اوس دوکاندار یم که نه یم؟

ضرب علي له میوند سره جوړه وخندل، ویې ویل: دوکانداري خو دې په هماغه ورځ راته معلومه شوه چې د حاجي آغا له کور سره دې په موټر کې دوکانداري کوله، خو ګوره، احتیاط کوه، ممکن بل څوک هم راولېږي.

د روسیې په سفارت کې

د شپې نه بجې جنرال په خپل شخصي موټر کې د روسیې سفارت ته ورسېد. د آغا کروزینګ او د سورج کورولا موټر په پارکینګ کې ولاړ وو.

دې چې سالون ته ورننوت، آغا خپله توره پګړۍ د تروې ټنډې له پاسه کېښوده. دا وار یې پګړۍ د نور کله غوندې په ګوتو سمه نه کړه. قلم، تسبیح، د یادښت کتابچه او د پیسو بکسه یې د مېز له سره پورته کړل او د تورې اوږدې چېنې په جېبونو کې یې تخته کړل.

جنرال سفیر ته وکتل، مخ یې سور اوښتی و، خولې پرې راماتې وې.

جنرال په روسي ژبه په ټوکو وویل: اوس نو لکه چې په موږ اعتبار نه لرئ چې آغا صاحب مو تلاشۍ ته درولی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفیر وغرېد: د تلاشۍ خبره نه ده. هغه راکټونه چې مو له لاسه ووتل، عادي شیان نه وو. پوره دوه کاله مو په دې پلان باندې کار کړی و.
سورج وویل: اورېدلي مې دي چې دا تر ستنګر هم ښه وو؟
سفیر چیغه کړه: ستنګر مه رایادوه، د سپي زو! ستنګر، ستنګر، زموږ ماته د همدې ستنګر د لاسه وه. دا لعنتي شی مه رایادوه.
جنرال په جینګه خوله وویل: سفیر صاحب! ستاسو خپله مقوله ده، د لېنین وینا ده که نه، وايي: څوک چې کار کوي، تېروتنه به هم کوي.
سفیر بیا چیغه کړه: یوازې زموږ متلونه مه زده کوئ، نور څه هم شته چې باید زده یې کړئ.
جنرال په موسکا وویل: صاحب! رینښتیا خبره کوئ. که تاسو پر راکټونو د چین مارک نه وای وهلی، اوس به مو بیا د امریکا دښمني ګټلې وه.
سفیر لکه د جنرال خبره چې یې بیخي اورېدلې نه وي، په تونده لهجه یې وویل: موږ یقین لرو چې څوک مو څاري. د هند او ایران سفیران هم راسره یوه خوله دي. موږ به ستاسو موټرې او بدنونه وپلټو چې د استراق سمع کومه دستګاه خو به په کې نه وي؟
د ډاکتر سورج وار راورسېد. جېبونه یې پر مېز تش کړل. خپله دی له مېزه یو ګام شا ته ودرېد. یوه سور مخي د تلاشۍ د ډنډې په څېر ماشین د ده له سره تر پښو پورې له مخ، څټ او دواړو خواوو تېر کړ. بیا یې هماغه شی پر مېز د پرتو شیانو پر سر ورتېر کړ. د ماشین سور څراغ ولګېد. سورج وویل: دا امکان نه لري.
سفیر وویل: په استخباراتو کې نا ممکن نشته، احمقه!
تلاشۍ والا د مېز له سره یو یو شی د ماشین له مخې تېر کړ، لایټر چې یې تېراوه، بیا سور څراغ ولګېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېچکش یې را واخیست، لایتر یې خلاص کړ، د استراق سمع او پل موندونکې دستګاه یې ورنه را وایسته.
سورج په زوته وویل: د سپي لورې. هېڅ مې ګومان نه کاوه.
جنرال وپوښت: چا درکړی و؟
سورج په رېږدېدلي غږ وویل: زبیدې.
سفیر پوښتنه وکړه: زبیده لا څوک ده؟
سورج بې له دې چې سفیر ته وروګوري، لکه له ځانه سره چې وګړېږي، وویل: انډیواله مې ده.
سفیر په ملنډو وویل: ارامونیه! چې داسې کارونو ته دې شوق کېږي؛ نو ولې ما ته نه وایې؟ په دې مردارخورو افغانانو کې دې څه لیدلي دي. دلته راشه چې ماسکویچې دربانديٍ ووهم، د سپي زو.
جنرال یې تر سورج لا سخت وپلټه؛ خو هېڅ یې ونه موندل.
په موټرو کې هم څه نه وو.
سفیر جنرال ته وویل: عسکري موټر دې چېرې دی؟
جنرال وویل: هغه خو د شپې د وزارت په پارک کې دروي.
ـ سبا مازدیګر به سړی له ماشین سره کور ته درولېږم. موټر به دې تر ماښامه نه لېږي. سړی به دې یونیفورم هم وپلټي.
جنرال وویل: بې غمه اوسه، زه داسې سست سړی نه یم. که د نورو سترګې دوې وي، زما څلور دي.
سفیر وویل: ستا د څلورو سترګو برکت و چې راکټونه یې درنه ونیول. سترګې یې څلور دي!؟
آغا وغرېد: ټول پلان مو د دې فاحشې له لاسه خراب شوی.
***
سبا سورج د زبیدې ټېلفون ته زنګ وواهه. ټېلفون یې بند و. د موسسې دفتر ته یې ورغی. چا ورته وویل چې سهار وختي یې ټېلفون

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی و، مور یې مریضه ده، پاکستان ته یې بیایي. د یوې هفتې رخصتي یې اخیستې ده.
روغتون ته چې ورغی، جمیل یې وروغوښت. لینا ته یې وویل: ته یوه شېبه د باندې ووځه.
جمیل نه یې پوښتنه وکړه: د ورور کار دې څنګه شو؟
ـ یو څه تمه ورته شته، ګوندې را خلاص به شي.
ـ څنګه؟
ـ نه پوهېږم، هغه ستا ملګري د ایران له سفیر سره غږېدلی، وایي راخوشې به یې کي.
ـ په بدل کې یې درنه څه غواړي؟
ـ هېڅ، ما ته یې همدومره وویل چې ډاکتر سورج مې ملګری دی، د هغه په مخ به دا کار وکړم.
د سورج رنګ وغوړېد. ویې ویل: ګوره چې بل چا ته د آغا خبره ونه کړې. خدای دې ورسره ښه وکړي، له تا سره احسان کوي؛ خو که نور خلک خبر شي، بیا سل خبرې نورې په کې راباسي.
جمیل وویل: دا څه وایې ډاکتر صاحب؟ زه خو ستا او د آغا د احسان پوروړی یم. وایم بې غمه اوسه.
هغه چې ووت، سورج آغا ته زنګ وواهه، ورته ویې ویل: چورت مه وهه، سړی خورا پوخ دی. ان ما ته یې حال ونه وایه. بې غمه اوسه چې ما ته یې ونه ویل، هېچا ته به یې نه وایي.
سورج پر اتمه ورځ بیا زبیدې ته ټېلفون وکړ، موبایل یې بند و. د موسسې دفتر ته یې ورغی. زبیدې دفتر ته خبر ورکړی و چې د مور مریضي یې اوږده شوې، میاشت به تېروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


شیرین آغا شك كوي

دوه ورځې مخکې د کابل په ښهرنو کې د هندیانو په مېلمستون باندې ځانمرګی او وسله وال برید شوی و. اوه تنه په کې وژل شوي او لس دوولس تنه ټپیان وو. شیرین آغا ته د هند سفیر شکایت کړی و چې هسې زموږ ډاکتران ځارئ؛ خو ترهګر مو پرې ایښي دي چې پر موږ باندې حملې وکړي. د سورج خبره یې ورته کړې وه چې په لاپته کې یې پل موندونکی پیدا شوی دی.

ده د کشفي وسایلو مسوول ورغوښتی و. له هغه یې پوښتنه کړې وه چې چا خو به د ده له اجازې پرته پل موندونکی یا د استراق سمع شیان ورنه نه وي اخیستي. هغه لنډ ورته ویلي وو چې نه.

د شیرین آغا چورت خراب و. پر میوند یې شک و. میوند دوه درې میاشتې پخوا لا ورته ویلي وو چې پر یوه هندي ډاکتر باندې مشکوک دی. خو بیا یې په دې اړه څه نه وو ویلي. که دا کار د میوند وي؛ نو پل موندونکی به یې له چا اخیستی وي؟ هغه خو له مدیریته پل موندونکی نه دی اخیستی؛ نو دا به څوک وي چې سورج ته یې لومه ایښې وه؟

له نورو ادارو یې هم معلومات وکړل، د زبیدې په نامه ایجنټ په هېڅ اداره کې چا نه پېژندله. نو هغې به پل موندونکی او د استراق سمع دستګاه له چا څخه اخیستې وي؟

دا کار به د چا وي؟ بیا یې میوند وروغوښت. ویې ویل: وه جان بیادر، ته لکه چې اوس هم په روسانو پسې یې؟

ـ نه، دا خبره دې څنګه وکړه؟

ـ بېګاه نه بجې مې د روسیې له سفارت سره ولیدې.

ـ چېرته؟

- د روسیې سفارت ته نږدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ګوره مدير صاحب ! هلته خو يوازې د روسيې سفارت نه دی. لږ وړاندې قبلې خوا ته استقلال روغتون دی. هلته مې مريضان لرل. بيا که کوم څه وای؛ نو ګزارش خو به مې تا ته درکاوه.
ـ ګزارشونه دې هم چندان دقيق نه وي. وړمه ورځ د هندیانو په مېلمستون باندې حمله وشوه. هېڅ يې راپور نه و راکړی.
ـ ولې، ما خو وار په وار ګزارشونه درکړي دي. دا خو د منبع غلط راپور و چې ټول يې وغولولو. موږ ته يې ويلي وو چې د امريکا په سفارت به حمله کوي. زموږ ټوله توجه هغې خوا ته وه؛ خو دوی راغلل شهرنو ته په مېلمستون يې بريد وکړ.
ـ جان بيادر، نو تا څنګه د داسې منبع په راپور باندې اعتماد کاوه؟
ـ بلهلاره نه لرو. ته وايې چې طالبان به استخبارات نه لري؟ دوی په اول سر کې خپلو کسانو ته هره خبره رښتيا رښتيا کوي؛ نو موږ ته هم ټول راپورونه هماغسې دقيق رارسېږي؛ خو د حملې وخت چې رانژدې شي بيا خپلو نژدې ملګرو ته هم غلطه وينا کوي. دوی په هېڅا اعتبار نه کوي. خپله ځانمرګي ته ايله هغه وخت پته لګېږي چې د حملې وخت رارسېدلی چې د نشې پيچکارۍ ورته لګوي. لا د حملې ځای هم نه وي ورمالوم.
شيرين آغا سور اوښتی و، ويې ويل: زه کراچي وان نه يم.
ميوند په سړه سينه وويل: ما نه دي ويلي چې ته مسلکي نه يې. هسې مې ستا د پوښتنې ځواب درکړ.
ښه شېبه دواړه غلي وو، بيا شيرين آغا په پسته ژبه وويل: رښتيا يو وختې تا ويلي وو چې په کوم هندي ډاکتر باندې دې شک دی.
ـ څه يې کوې؟ هسې يو شک و. بيا خو تا راته وويل چې زموږ د کار ساحه نه ده. نن مې زړه وربانديې بد شو. بېچاره ګان دلته د خدمت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاره راغلي دي. ته وګوره په دې مېلمستون کې دا ټول ډاکتران وو چې تباه شول.
د ميوند خبرو شيرين آغا لا چورتي کړ، له ځانه سره يې وويل: اوس به سفير ته څه ځواب ورکړم. ورته څه ووايم چې چا د ډاکتر سورج په لايټر کې پل موندونکی ابېنی و؟ دا څوک دی چې هغه څاري؟

***

ترجنرال خو ته ښه يې

په «کابل ډيلي» روغتون کې ډاکتران په لوی دهلېز کې پر چوکيو ناست وو، چا ټلويزيون ته کتل، هندي ډاکترانو د شيدو چای سرېپول، ډاکتر حميد له جميل سره له نورو لرې ګوښه کې ناست وو.
جميل وويل: اعلانونو هم فايده ونه کړه.
له کړکۍ يې د باندې وکتل، په پارکينګ کې يوازې اوه اته موټرونه ولاړ وو چې دوه يې امبولانس وو. ويې ويل: پخوا به په پارکينګ کې ځای نه و، اوس يوازې د پرسونل موټرونه په کې ولاړ دي. نن مې ايله دوه ايکسرې ګانې اخيستې.
حميد وويل: داسې پروفيسران چې راسره وي نو همدا به مو د روغتون حال وي. دا دې دغه معاشت هم په پوره کېدو دی، لا مو د تېرې معاش نه دی اخيستی.
د رييس سکرتېره راغله، ويې ويل: رييس صاحب غوښتي يئ.
ډاکتر سورج چابک پاڅېد خو نور شواړ شواړ روان شول. رييس پوښتنه وکړه: څه وکړو چې کار و بار مو ببرته ښه شي؟
ډاکتر سورج وويل: بايد صحي کمپونه جوړ کړو، يوه ورځ يو ځای بله ورځ به بل ځای خلک وړيا تداوي کړو چې داسې وکړو نو خلک به راسره اشنا شي او نور به پخپله راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده دعوا کوله چې دغه تجربه یې د هند په لویو روغتونونو کې زده کړې ده.

رییس ورسره ومنل چې هره جمعه دې صحي ټیم یوې خوا ته ولېږي. اوله جمعه د بګرام وار و. سهار وختي دوه هندي او درې وطني ډاکتران، دوه ترجمانان، درملتون والا او ځو نور د رسیپشن او اداري کارکوونکي له یوه امبولانس او دوه ټونس موټرونو سره روان شول. د غلام علي په بازار کې یې د ډکې ویالې تر څنګ د خپړولو (پنجه چنار) تر سیوري لاندې واړول. مېزونه او چوکۍ یې واوښلې، د معاینې د مېزونو شاوخوا یې سپینې درپردې ودرولې، اداري کسانو د کمپ شا وخوا ته لوی لوی بېنرونه ولګول:

وړیا درملنه د هندي پروفیسرانو له خوا

ستاسو روغتیا زموږ هیله

کابل ډیلي روغتون د وطنوالو ریښتینی خدمتګار

تر غرمې پورې جوپه جوپه مریضان راتلل. ډاکترانو به څینو ته دوا او ډېرو ته د روغتون کارتونه ورکول چې تاسې بیا کابل ته راشئ چې معاینات درته وکړو. په کارتونو باندې د ((شل فیصده تخفیف)) عبارت په سره لیکه لیکل شوی و.

غرمې مهال د روغتون رییس په لکسیس موټر کې ورپسې د باډیګاردانو دوه لنډ کروزرونه او د پولیسو دوه شنه رېنجرونه راورسېدل. وسله وال باډیګارډان د سترګو په رپ کې ګوټې پر ماشې شاوخوا ته تیت شول. د رییس له موټره یو بل پکول په سر اوتو کړی سړی هم راکښته شو. رییس ډاکترانو ته وویل: دی د بګرام ولسوال دی.

ولسوال له ډاکترانو مننه وکړه چې د غریبانو مرستې ته ورغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رییس ساعت ته وکتل، ویې ویل: غرمه ده، بار و بستره مو ټوله کړئ چې ډوډۍ ته لاړه شو.
مېزونه او چوکۍ په موټرو کې بار شول. ټولو موټرونو د صیاد په لوري کش ورکړ. رییس د صیاد د پله ښي لاس ته د سیند په غاړه کې لوی تخت کرایه کړ. هوټلي ته یې وویل چې د نفر په سر دې یو یو کیلو ماهي تیار کړي.
افغان پرسونل له رییس او باډیګارډانو پرته نور ټول سم له واره اوبو ته ورخوشې شول. هندي ډاکتران بډ وهلې پایڅې او لوڅې پښې د سیند په څنډو کې د ګردو ډبرو پر سر په ګرځېدو شول. یو د بل لاس یې سره نیولی په ډېر احتیاط سره یې ګامونه اخیستل چې پر ډبرو ونه ښویېږي. تر زنګانه پورې رنې یخې اوبه، په اوبو کې واړه واړه کبان چې د ډبرو تر منځ کله یوې او کله بلې خوا ته چابک چابک روان وو. هندیانو کمیسونه راوایستل.
ډاکتر حمید له شا څخه کرار کرار هندیانو ته ورنږدې شو، یو دم یې په سورج باندې اوبه وشیندې. سورج پورته ټوپ کړ، لوړه چیغه یې کړه: اوه.
رییس د تخت له پاسه نارې کړې: ډاکتر حمیده! پام چې زاره یې ونه چوي.
افغان پرسونل ښه ډېر ورته وخندل.
سورج رییس ته وکتل، په لوړ اواز یې ورغږ کړل: په خدای قسم چې جنت دی جنت.
ولسوال رییس ته وویل: د استاد رباني په حکومت کې یو څو تنه عربان پغمان ته تللي وو، د استاد سیاف مېلمانه وو، هلته یې چې سمسور باغونه لیدلي وو، روانې رنې اوبه او قسم قسم مېوې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدلي وې، هغوی هم دا خبره کړې وه چې یاره په قران کې چې جنت یاد شوی، بالاتشبیه همدا به وي.

د رییس په کړسه خندا د ولسوال پام هندي ډاکترانو ته واړاوه. یوه یې پر ښویو تېږو ښویېدلی و، بل له پاسه پرې اوبه شیندلې. هغه چې لویدلی و، د ولاړ سرې پښې ته یې لاس واچاوه، هغه په ځټ مخ په اوبو کې ولوېد.

رییس ورباندې غږ وکړ: ماهیان تیار دي، راځئ.

ټول د تخت خوا ته روان شول، د هندیانو له پتلونو څخه اوبه څڅېدې او دوی په ارتو ګامونو په لاره تلل.

د دسترخوان په سر رییس ولسوال ته ټونګه ورکړه چې دوی ته وګوره.

هندي ډاکتران د ماهیانو په لېشو پسې ګرځېدل. نورو خپلې نیمایې برخې خوړلې وې؛ خو دوی لا په یوه ماهي کې نښتي وو.

رییس ورته کړه: دا ماهیان داسې خوړل کېږي. ما ته وګورئ. بیا یې یو ماهي راواخیست، په ډوډۍ کې یې تاو کړ، غټه ګوله یې ترې جوړه کړه، کړس کړس یې وژدویه او تېره یې کړه.

ولسوال وویل: دا ماهیان تنکي دي، لېښې مېښې یې ټول په سره کولو کې پخېږي. بس خولې ته یې کړه او ویې ژدویه.

سورج وېرېدلی یوه ګوله همداسې خولې ته کړه. کرار کرار یې وژدویه چې تېره یې کړه، لکه لویه توره چې یې کړې وي، سوکونه یې په هوا کې ورپول او د ((یس، یس)) نارې یې وکړې، وروسته یې وویل: په خدای قسم چې د جنت ماهیان دي، د جنت.

شنبه په روغتون کې له سلو نه زیات مریضان وکتل شول. اکثر مریضان د بګرام او د هغه د شاوخوا د کلیو خلک وو.

بله جمعه د چاراسیا وار و. سورج رییس ته ویلي وو چې امبولانس دې په ده پسې کور ته یې ورولېږي. سورج له خپل کوره د یو متر په اندازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوږد او سپنیز صندوق په امبولانس کې بار کړ. په صندوق باندې په سره رنګ د سره صلیب علامه وه.

د امبولانس موټروان وویل: زوی یې مړ کې، څه دې په کې ایښي دي چې دومره دروند دی؟

سورج وویل: ته خو یو قوتی «مارلبورو» سګرېټ راته واخله.

موټروان خپل جېبونه ولټول، ویې ویل: والله پیسې مې په کور کې رانه پاتې دي.

سورج یو شل ګون له جېبه راوایست. ویې ویل: هه دا واخله.

موټروان وویل: په دې باندې خو نه کېږي. په شپېته روپۍ یې قوتی دی.

سورج وویل: «پن» راوړه.

موټروان موسک شو او دوکان خوا ته روان شو.

په چاراسیا کې د دوی کمپ د ولسوالۍ په کلینیک کې و. دا وار دوی د مېلې اجازه نه لرله. چارواکو ورته ویلي وو چې لرې دې نه ځي. پولیسو کلینیک کلابند کړی و. ناروغان به یې اول پلټل او بیا به یې دوی ته ورپرېښودل. لس نیمې بجې د سورج موبایل وشرنګېد. دی له کوټې ووت. په کرار غږ یې وویل: زه نه شم دروتلای. شا وخوا پولیس ولاړ دي.... کوم دوکان ته؟.... کلینیک ته مخامخ؟ له کړکۍ یې سر راپورته کړ. بیا یې وویل: هو ومې لیدل.... نه زه نه شم درتلی. ګوره د موټروان په لاس به یې درولېږم.

څو شېبې وروسته امبولانس له کلینیکه سل ګامه لرې، د یوه دوکان مخې ته ولاړ و. د موټر شا دوکان ته وه، مخه یې سړک ته. دوو کسانو دوه کارټنه د امو جوس موټر ته پورته کړل. له دې خوا یې او سپنیز صندوق ورسره کوز کړ. موټروان ته یې یو زرګون ورکړ. امبولانس

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرته کلینیک ته راستون شو. ډاکتر سورج پر خپلو ټولو همکارانو او پولیسو باندې د امو جوس وویشه.

د امبولانس موټروان یې څنګ ته ورغی. پوښتنه یې وکړه: په صندوق کې څه شی و؟ ډېر دروند و.

سورج یې لاس په لاس کې ونیو د دهلېز څنډې ته یې کړ. ویې ویل: جراحي سامان و په کې.

دې سره یې موټروان ته د سلو ډالرو نوټ ورکړ.

سورج وویل: د صندوق خبره به چا ته نه کوې. په درې سوه مې خرڅ کړ، سل یې ستا، دوه سوه یې زما.

د موټروان خوله جینګه شوه، ویې ویل: بې غمه اوسه، وایم د نارینه وو راز پوشیده وي. ډالر یې مچ کړ او د واسکټ په بغل جېب کې یې امانت کېښود. د جېب زنځیر یې کش کړ. د واسکټ له پاسه یې لاس پرې ورتېر کړ. ډکه خوله نسوار یې واچاوه او د امبولانس خوا ته روان شو. سورج لا دوه ناروغان نه وو کتلي چې موټروان ورته دوه قوتي مارلبورو سګرېټ راوړل، ویې ویل: هه باداره تا سره «پن ـ من» ښه نه ښکاري.

لسمه ورځ سورج د کابل ټایمز اخبار په لاس د آغا کور ته لاړ. غبرګه یې ورته خلاصه کړه. آغا یې په غېږ کې ټینګ کړ. پورته یې کړ، بېرته یې په ځمکه ودراوه.

آغا وویل: څه دې اورېدلي چې دومره خوشحاله یې؟

سورج د کابل ټایمز اول مخ ورښکاره کړ. په یوه لوی عکس کې د چورلکې ټوټې ښکارېدې چې لمبې او لوګي ترې لتېدل. لاندې یې په انګلیسي لیکلي وو: طالبان د امریکایي چورلکې د ویشتلو ادعا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سورج وویل: وګوره د نر بچو ته. دغه تېره جمعه مې راکټونه وررورسول، پرون يې په چار اسيا کې هليکاپټر راوغورځاوه. وايم ډېر تکړه خلک دي.

دا وار آغا سورج په غېږ کې ټينګ کړ: مبارک دې وي، وايم د تا بلا دې په جنرال وګرځي. تر جنرال خو ته لا ښه يې.

زبيده په کور کې

دا دويمه مياشت وه چې زبيده په کور کې بنديوانه وه. اوله مياشت يې د رخصتۍ په پلمه تېره کړه؛ خو اوس ورونو تنګه کړې وه. هره ورځ به يې ورنه پوښتنه کوله چې ولې وظيفې ته نه ځې؟

سيم کارت يې د موبايل د کمپنۍ له خوا بند شوی و. ميوند ورته ويلي وو چې ځو پورې ده ورته نه وي ويلي، دا دې نه له کوره وځي او نه دې چا ته زنګ ووهي. کور زبيدې ته د زندان غوندی و. دا ازاده روزل شوې وه، ځو پورې چې مکتب و، خو مکتب ته به تله، د تنظيمي جګړو پر مهال کراچۍ ته کډه شوي وو، هلته هم ازاده ګرځېده. انګليش کورسونه وو، کلفټن و، سپاري پارک، د طارق روډ لوکسې مغازې وې او دا وه. د طالبانو بنديزونه يې هم نه وو ليدلي. د کرزي په وخت کې چې ځنګه له کراچۍ راغلل، په موسسه کې يې کار وموند. تر مازديګره په دفتر کې او بيا چې به کور ته راغله، د ميکرويانو ماښامنۍ چکر به يې نه و قضا. خو اوس په کور کې بنديوانه وه. د سورج او شيرين آغا له وېرې يوه شېبه هم له کوره د باندې نه شواى وتلې. په کور کې يې انټرنټ نه درلود، د ټلويزيون کنټل هم ورباندې غمېدلي وو؛ نو ورځ به يې د خاطراتو د کتابچو په لوستلو او د پخوانو البمونو په کتلو تېروله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اوړي اوږدې ورځې داسې وې چې څو مره سترګې غړوې، لمر لا هماغسې لوړ ولاړ وي. په زبیدې باندې هره ورځ داسې وه، لکه سړی چې د اوړي ټوله ورځ د چا په انتظار تېره کړي. د اندېښنې له لاسه خوب نه ورته. زړه تنګی یوې خوا ته او د ورونو پوښتنې ګرو بړنې بلې خوا ته.

زبیدې یو مازدیګر میوند ته ټېلفون وکړ چې له دې غمه یې خلاصه کړي. میوند ورته کیسه وکړه چې شیرین آغا تر اوسه پورې درې وارې د هغوی دفتر ته تللی دی؛ خو څه یې لاس ته نه دي ورغلي. په همکارانو کې هېچا د زبیدې کور نه و لیدلی. د موسسې موټروان همدومره ویلي وو چې کله به د دربیم میکرویانو له مارکېټ سره ولاړه وه، کله پاس له پله سره. کله بیا ان له شینوزاده کلینیکه موټر ته راختله. ما ته یې هېڅ درک نه شو مالوم چې کور به یې په کوم ځای کې وي؟

شیرین آغا د دې ټېلفون ته هم ډېر زنګونه وهلي وو؛ خو میوند د وخته په کمپنۍ کې د هغې سیم کارت بند کړی و. د دفتر په اسنادو کې د زبیدې د ورونو نومونه، د کور ادرس او نور معلومات هم نه وو ثبت. د موسسې آمر ویلي وو چې د دوی اصول داسې نه دي چې د کارکوونکو شخصي معلومات دې وپوښتي.

شیرین آغا د دې پوښتنه هم کړې وه چې زبیدې له پاکستانه له کوم نمبره دفتر ته زنګ وهلی و؛ خو د موسسې امر ویلي و چې زموږ ډیجیټل ټېلفون ته یې زنګ وهلی و، نمبر یې نه و راغلی.

هغوی نه و خبر چې زبیدې دفتر ته د میوند له ټېلفونه زنګ وهلی و. د میوند داسې ټېلفون و چې نمبر یې چا ته نه ورځي.

میوند چې زبیدې ته دغه ټوله کیسه وکړه، بیا یې بله پلمه ورته وښییله: «ورونو ته دې ووایه چې زموږ موسسې د غوث زلمي د قران

(c) ketabton.com: The Digital Library



په چاپولو کې مرسته کړې وه، زموږ رییس یې نیولی. که موږ په ګوتو ورشو، نیسي به مو.»

دې سره یې د ورونو خولې پټې شوې؛ خو د کور زندان یې باید لا زغملای وای.

## میوند په بند کې

شیرین آغا بیا پر میوند شکي شوی و. میوند په دفتر کې نه و، د ریاست د ډیپو آمر ټېلفون کړی و چې میوند راولېږه. شیرین آغا پوښتنه کړې وه چې څه خبره ده. هغه ورته ویلي وو چې د پل موندونکي او د استراق سمع د وسیلې مصرف دې راته امضا کړي. شیرین آغا پوښتلي و چې کیسه څه ده. هغه ویلي وو چې له موږ نه یې دغه شیان اخیستي وو؛ خو منبع یې افشا شوې ده، وسایل هم ورک شوي دي. اوس دې مصرف راته تېر کړي چې زما له جمعې وایستل شي.

شیرین آغا پر هماغه ماز دیګر د هند سفیر ته زنګ وواهه د سورج پته یې ځنې واخیسته او بیا کابل ډیلي روغتون ته پسې ورغی.

سورج ته یې په روسي ژبه ځان ورمعرفي کړ: زه شیرین آغا یم.

سورج ورسره تر غاړې ووت، ویې ویل: سفیر صاحب راته زنګ وهلی و. ستا په باره کې یې راته وویل.

شیرین آغا ورته په خپل موبایل کې د میوند عکس ورښکاره کړ، پوښتنه یې ترې وکړه: دغه سړی پېژنې؟

سورج وویل: هو، دا خو مې اشنا دی. فرید نومېږي.

شیرین آغا وویل: بس همدغه سړي خراب کړی یې.

سورج پوښتنه وکړه: څنګه؟

ـ دی فرید نه دی، نوم یې میوند دی. ما سره په یوه دفتر کې کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ اوه خدایه ! زه نو څنګه داسې احمق شوم؟ دی زما مریض و ، ما ته یې وویل چې زه تاجر یم. زه یې خپل دوکان ته بوتلم. ما یې له دوکانه خپل موټر ته ټیرونه واخیستل.

شیرین آغا وویل: ده په روسیه کې د استخباراتو درسونه ویلي.

ـ په روسیه کې؟

ـ هو ، زه په کادرو پرسونل ریاست کې ملګري لرم، د ده ذاتیه دوسیه مې کتلې ده، د ډاکتر نجیب په وخت کې یې څو میډالونه اخیستي دي، په دوو کلونو کې یې دوه فوق العاده رتبې ګټلې دي.

ـ دغسې ده چې دا ارامونی دومره پوخ دی.

شیرین آغا وویل: ما ته یې ان درې میاشتې مخکې ویلي وو چې په یوه هندي ډاکتر باندې مشکوک یم؛ خو ما ورته وویل چې زموږ وظیفه دا ده چې په آی اس آی باندې کار وکو.

ـ نو زه یې بیا څنګه څارلم؟

ـ پورته له ریاسته یې کار جوړ کړی.

سورج په رپاندو شونډو وویل: اوس به څنګه شي؟

شیرین آغا ورته وموسل: زه به یې کار ورسم کړم، ته مازې ورته ګوره.

میوند دفتر ته ننوت، کورتۍ یې د چوکۍ پر تکیې وځړوله. نکټایي یې سسته کړه، تر نکټایي لاندې یې د کمیس اوله تنۍ خلاصه کړه.

شیرین آغا ته یې وویل: دا څه حال دی؟ ما وې پروني باران به هوا ماته کړې وي؛ خو ګرمي لا هغسې په زور کې ده.

شیرین آغا په خندا سره وویل: جان بیادر ، له میکاییل نه تقویم ورک شوی. په عربي ملکونو کې په تاریخ کې چا واوره نه وه لیدلې، اوس په کې ورېږي. دلته چې پخوا به دوه متره واوره کېده، اوس نه کېږي. اوس د کابل ژمی د جلال اباد ژمی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میوند لستوڼي راونغاړل، د تشناب خوا ته روان شو، ویې ویل: زه به مخ لاس تازه کړم.
شیرین آغا کرار پاڅېد، د کوټې ور یې بند کړ. د میوند له جېبه یې دوه کارتونه راوکښل، په بیړه یې خپل جېب ته واچول. ور یې بېرته پرانیست. د خپل مېز شا ته پر چوکۍ کېناست.
میوند مازدیگر د بگرامیو خوا ته روان و. د اتمې حوزې مخې ته تلاشۍ والا ودراوه. ده وویل: د امنیت موټر دی. عسکر په وویل: کارت دې راوښییه.
میوند په جېبونو کې په کارت پسې وگرځېد؛ خو پیدا یې نه کړ.
عسکر ورته وموسل: ((از زېر ریش ما خر سوار تېر میشي؟))
میوند خپله تمانچه ورښکاره کړه: دا دی وگوره، دا مې تمانچه ده.
عسکر ورنه د تمانچې کارت وغوښت؛ خو دغه کارت هم ورسره نه و.
عسکر خپل مشر ته ورغږ کړ: قوماندان صاحب! دلته راشه.
قوماندان موټر ته ځان راورساوه، عسکر ته یې وویل: سمه تلاشي به یې کړې.
میوند ته یې مخ واړاوه: تمانچه دې راکه.
میوند له موټره کوز شو، ویې ویل: قوماندان صاحب، گوره مورږ او تاسې سره هم مسلکان یو. زه په ۰۱۲ ریاست کې یم.
پولیس وویل: وروره بې اسنادو نه کېږي. هر څوک داسې دعوې کوي.
میوند خپل موبایل راوایست: دا دی زنگ ورته ووهه.
پولیس موبایل ځنې واخیست، جېب ته یې کړ.
نورو عسکرو ته یې وویل: موټر ته یې پورته کړئ. خپله د شنه رېنجر په مخکینې سیټ کې کېناست. د میوند موټر بل پولیس رهي کړ.
دواړه موټرونه حوزې ته ننوتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه ورځې د حوزې آمر ورک و، په دربيمه چې راغی، هغه استعلام يې امضا کړ چې ۰۱۲ رياست ته ليکل شوی و. ماسپښين يې ځواب راغی چې هو ميوند زموږ سړی دی، د موټر نمبر پليټ او د تمانچې نمبر يې هم ورته ليکلي وو. ميوند خوشې شو. د حوزې امر ځنې بخښنه وغوښته، ويې ويل چې دی په حوزه کې نه و، که نه نو وختي به يې خوشی کړی و.

ميوند چې سبا وظيفې ته لاړ، رييس وروغوښت، د کارتونو پوښتنه يې ځنې وکړه. ده وويل: نه پوهېږم چې چېرته رانه ورک شوي دي. په هغه ورځ هېڅ چېرې نه وم تللی، ټوله ورځ په دفتر کې وم.

رييس وويل: کارتونه دې چا د وزير اکبرخان په پارک کې موندلي وو، اوس له عمومي رييس صاحب سره دي.

د ميوند رنګ والوت. ده ته جوته وه چې که د امنيت والاو کارت ورک شي؛ نو لږ تر لږه تنزيل رتبه او شپږ مياشتې بند يې سزا ده، له وظيفې څخه د شړل کېدو خبره هم په کې وي. که يې کارت پيدا نه شي، تر هغو پورې به بند ګالي چې رياست مطمين شي چې بل چا يې له کارته غلطه استفاده نه ده کړې.

ميوند يې د تحقيق لپاره عمومي رياست ته يوووړ او دې سره د شيرين آغا څېره وغوړېده.

شيرين آغا سورج ته ټيلفون وکړ چې اوس نو سرې سترګې ګرځه، سړي ته مې داسې ضربه ورکړې ده چې بېرته به په سد نه شي، حاجي آغا ته هم اطمينان ورکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سورج غچ اخلي

سورج په دې باندې خورا ځورېده چې د زبیدې له لاسه یې رنګه بده شوې وه. هم خپل سفارت او هم روسانو ته بې پروا ښکاره شوی و. وروسته چې یې طیاره ویشتونکي راکټونه په چارا سیا کې طالبانو ته ورسول، وضع یې ښه شوه، پریمانه پیسې یې واخیستې، شاباسي هم ورسره؛ خو د روسیې د سفیر هغه له تحقیره ډک نظر یې نه هېرېده چې د ده په لایټر کې یې شیان پیدا کړي وو او ده ته یې برګ برګ کتلي وو. په زبیدې پسې ډېر وګرځېد چې په موسسه کې د زبیدې پته ونه لګېده؛ نو د میکرویانو په پلټلو یې پیل وکړ. هر مازدیګر به یې د دربیم میکرویان سړکونه ګز و پل کول. هسې یې هم کارونه سپک شوي وو، د دوی لوی هدف دا و چې طالبان د طیارو ضد راکټونه تر لاسه کړي او دا کار شوی و. سورج د څه مودې لپاره بې غمه و.

## د زبیدې یوه شپه

په دې څو هفتو کې زبیدې ته میوند زنګ نه و وهلی. دې څو وارې ورته زنګ وواهه؛ خو د هغه ټېلفون کار نه کاوه.
زبیده به هره ورځ کړکۍ ته درېدله، د میکرویانو پر سړکونو روانو خلکو ته به یې کتل. یو مازدیګر یې د ګاونډۍ مېرمنې چادري راواخیسته، په چادرۍ کې له کوره ووته. هر څو ګامه وروسته به یې یو ځل شاوخوا ته کتل، خو هېڅ مشکوک کس یې ونه لید. دا له چادرۍ سره نابلده وه، په لاره به داسې تلله لکه په تیاره کې چې هر سپین شی درته اوبه ښکاري او غوړې چې ورنه ټوپ ووهې، دې هم له وړو ژورغالو لوی ټوپونه وهل. کرار کرار مارکېټ ته ورسېده، په مارکېټ کې یې آیسکریم وخوړ. یو ساعت وروسته بېرته کور ته راغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله ورځ بیا ووته، دا ځل یې د لومړۍ ورځې هومره شاوخوا ته ډېر نه کتل. په دربیمه ورځ بیا روانه شوه. په مارکېټ کې یې مخ لوڅ کړ. شاوخوا یې وڅارل، هېڅ شی ورته مشکوک ښکاره نه شو. څلورمه او پینځمه ورځ یې بیا همدا کار وکړ، هېڅ نه شو ورپېښ.

بله اوونۍ بې چادري ووته. د الفتح لیسې له دېواله سره خرامانه روانه وه، هلکانو به پرزې ویشتلې او دا به موسېدله. چسپ کوبای پتلون او تر ملا پورې تنګ سپین بلوز یې د هلکانو نظر په ځان پسې څکاوه. څنګه ملا، غوښن پتونونه چې ناز هم ورسره ملګری شي؛ نو د هلکانو پلار به هم ورته ټینګ نه شي.

زبیده لا مارکېټ ته نه وه رسېدلې چې د بي بي مهرو له خوا یو سرف موټر کرار کرار ورنږدې شو. چې د دې څنګ ته ورسېد، د موټروان له وره پرته د موټر نورې دروازې یو ځای سره خلاصې شوې، په ملکي دریشیو کې درې کسان مخابرې په لاسونو کې کښېنسته شول، دې ته ورنږدې شول. یوه یې وویل: مور د میوند انډیوالان یو. ته یې غوښتې یې.

دې ته یې د فکر کولو موقع هم ورنه کړه، او چت یې موټر ته وخېژوله. زبیدې غوښتل چې څه ووايي، خو څنګ ته ناست سړي یې په خوله باندې پلن رابرټېپ ولګاوه. موټر د هوايي ډګر په لورې چابک روان شو. زبیدې رابرټېپ ته لاس وروړ چې راویې شکوي، خو سړیو ټینګه کړه او لاسونه یې هم وروتړل. موټر د هوايي ډګر له چوکه په اویا متره سړک د خیرخانې لارې ته ورسیخ شو. د سړک د غاړې کورونه په بېړه د موټر له څنګه تېرېدل. موټر د سترګو په رپ کې د پروژهٔ جدید په لارې برابر شو. موټر په یوه کوڅه کې وګرځېد، د یوه څلور منزله کور په وره چې مخې ته یې وسله وال پیره دار ناست و، ورننوت. له ګراج څخه لاندې تکاوۍ ته لاره تللې وه. یو سړی مخکې شو، دوو نورو د زبیدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له متهو نیولي دا یې د تکاوۍ خوا ته روانه کړه. د تعمیر لاندې لویه تکاوي وه؛ خو داسې تکاوي چې تر ډېرو کورونو ښکلې، ښه رنګ و روغن، ترکي ګلداره غالۍ پکې وېړې، په چت پورې درې دانې کریستالي قندیلونه په یوه لیکه ځړېدلې. زبیده یې د سالون په کونج کې وره ته مخامخ، په بخملي توشکې باندې کېنوله.

زبیده لا په چورت کې ډوبه وه چې د سورج تور مخ یې مخې ته ودرېد.

د زبیدې غونې وتښتېدې؛ خو ځان یې ناګاره واچاوه.

سورج د زبیدې له خولې څخه رابرېښېږ وشکاوه، د مور د صحت پوښتنه یې ځنې وکړه.

زبیدې هېڅ ونه ویل. د تکاوۍ نریو درېځو خوا ته یې وکتل چې د کوڅې خوا ته وې، د باندې هوا تیاره شوې وه.

زبیدې له بل سړي پوښتنه وکړه: ما سره مو څه کار دی؟

سورج د زبیدې لاسونه هم خلاص کړل. هغې خپل مړوندونه په ګوتو باندې وسولول.

هغه سړي چې دې ته یې ویلي وو چې میوند غوښتې یې، وویل: وار مه خطا کوه، میوند به راشي.

زبیدې کړکۍ ته وروکتل، ویې ویل: کوم میوند؟ زه خو میوند نه پېژنم.

کړس شو، سورج ټینګه څپېړه ورکړه، ویې ویل: هغه لاېتر چې یې درکړی و، هغه میوند یادوم.

د زبیدې له سترګو اوښکې روانې شوې.

سړي ورته وویل: ژړا به ګټه نه کوي، ګومان کوم چې شپه به دې همدلته وي.

زبیدې دې خوا ها خوا وکتل، د وره خوا ته یې منډه کړه. سورج او هغه بل سړی له ځایه ونه خوځېدل، له هماغه ځایه یې زبیدې ته یې کتل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیدې ور ټپله کړ، بند و. په دواړو لاسونو باندې یې د وره په ډبولو بنا وکړه؛ خو ګټه یې ونه کړه. د هغې زاریو کار ونه کړ، چا یې د ژړا پروا هم ونه کړه. ناچاره په یوه کونج کې غلې کېناسته. سر یې پر زنګانه کېښود او لاسونه یې تر زنګنو راچاپېر کړل، ښایسته ډېر یې وژړل، اخر یې ژړا کراره شوه، خو لا یې هم د سلګیو اواز اوربدل کېده.

ور خلاص شو. زبیدې پورته وکتل. سازیان وو. کاسیو او طبله یې له ځانه سره راوړي وو. ساز چې سور شو، پکول په سر خښتور سړی په سپین خت پرتوګ کې، څنګ ته یې شیرین آغا، ورپسې دوه باډیګارډان په دروازې راننوتل.

خښتور مخامخ زبیدې خوا ته ورغی. په دوو پښو ورته کېناست، په ویښتو کې یې ګوتې تېرې کړې. زبیدې سر یوې خوا ته کوږ کړ، په چپ لاس باندې یې د خښتور لاس پورې وواهه. خښتور په ګوتو باندې د زبیدې زنه ټینګه کړه، نېغ یې سترګو ته وروکتل، ویې ویل: دربغه چې دا ښکلې سترګې دې په ژړا خرابې کړې دي.

زبیدې بېرته سر پر زنګانه کېښود. خښتور یې بیا ویښتو ته لاس وغځاوه. زبیدې سر راپورته کړ، په سرو سترګو یې سورج ته وکتل. سورج خښتور ته د ((مه)) په مانا سر وښوراوه.

خښتور پاځېد، پینځه توشکې ها خوا د کوټې بل کونج ته تېر شو. سازیانو ته مخامخ کېناست. سندرغاړي یو څو سندرې وویلې. ډوډۍ راغله. سورج د خښتور څنګ ته کېناست او شیرین آغا د سورج خوا ته، نورو هم چا د دسترخوان یوې او چا بلې خوا ته پلتۍ ووهلې. زبیدې ته په جلا مجمع کې قابلي، سلاډ، فرني، سور کړی چرګ، په یوه قاب کې انګور او د پیپسي او سپنیز قوتی مخې ته کېښودل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خېټور د ویسکي د بوتل سر خلاص کړ، اته ګېلاسونه یې تر نیمایي لږ کم ډک کړل. سورج نهم ګېلاس زبیدې ته یوور، ویې ویل: راځه چې تېر یادونه سره تازه کړو.

زبیدې ورته وکتل، هېڅ یې ونه ویل.

سورج ګېلاس ورته کېښود، خپله بېرته د خېټور څنګ ته ورغی.

زبیدې غلې د توشکې څنډه پورته کړه، خپل ګېلاس یې د توشکې لاندې تش کړ. هغې ډېره لږه ډوډۍ وخوړه؛ خو پیپسي یې تر اخري څاڅکي پورې وڅښله. بیا یې هره ګړۍ پر مخامخ دېوال ځړېدلي ساعت ته کتل. پاو باندې یو ساعت تېر شو، ایله چې نورو خپله ډوډۍ خلاصه کړه.

خېټور له نورو سره دوه بوتله تش کړل. دسترخوان چې ټول شو، ساز چالان شو. په دویمه سندره کې خېټور خپل باډیګارډ ته وویل: پاڅه د سپي زویه، شراب خو دې وڅښل، اوس یې مجرا یې ورکه کنه. په سازي باندې یې غږ وکړ: ((پردهٔ اول ورته ونیسه))

زبیدې هره شېبه خپلې سترګې موښلې، سر یې دې خوا ها خوا کړېده؛ خو دې به بېرته تکیه کاوه.

باډیګارډ د سندرې تر پایه پورې وګډېد، هغه چې کېناست، بل باډیګارډ یې راپاڅاوه، هر یو چې به کېناست، خپل عوضي به یې جګاوه. شیرین آغا چې خپل وار تېر کړ، زبیده یې راپورته کړه. هغې نې و نو وکړه؛ خو خېټور پخپله ورسره پاڅېد. زبیده یې تر لاسه ونیوه، دې خوا ها خوا یې تاوه راتاوه کړه. زبیده دې خوا ها خوا کږه وږه شوه، لاسونه یې په هوا کې داسې خوځېدل، لکه بې ارادې چې پخپله حرکت وکړي. بیا لکه صوفي چې په سماع کې جذباتي شي، ځای پر ځای ولوېده؛ خو فرق یې دا و چې دا بې غږ و غوږه ولوېده، کړیکه یې ونه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په سد شوه، په هغه لوی سالون کې نه وه. درې په څلورو مترو کې کوټه وه، دا د کوټې په بر سر کې د خوب پر دوه نفري پالنګ پرته وه، مخې ته یې د سینګار مېز و. بدن یې خوږېده. پر ټېکونو یې درد و. کمپله یې له ځانه لرې کړه، که ګوري چې لوڅه پوڅه ده. په کالیو پسې یې سترګې وغړولې، څنګ ته یې پراته وو.

ور خلاص شو، شیرین آغا راښکاره شو. زبیدې ځان په کمپله کې پټ کړ.

شیرین آغا ورته وویل: کالي دې واغونده بیا د باندې راشه، زه به ټیکسي درته ونیسم.

دا یې وویل او له کوټې ووت.

زبیدې تندی وسولاوه، ورو ورو راپاڅېده، کالي یې واغوستل. بېرته پر تخت کېناسته، سر یې ټيټ شو، مخ یې په دواړو لاسونو کې ونیو.

شیرین آغا غږ وکړ: راووځه نو څه کوې؟

ووته، دا په لاره کراره روانه وه، داسې یې لنډ لنډ ګامونه اخیستل، لکه ملا او پښې چې یې وخوږېږي. له کوره چې ووتل، د وره مخې ته سپینه سراچه ولاړه وه. شیرین آغا موټروان ته دوه سلګونونه ونیول، ورته وې ویل: دا سیاه سره میکرویانو ته ورسوه.

زبیده د ۱۲ام بلاک د دویمې زینې مخې ته کوزه شوه. په مدار مدار په دهلېز ورننوته. په چپ لاس یې کټاره ټینګه کړه، کرار کرار په پوړیو وختله. دویم پوړ ته چې ورسېده، له کښته زینو د پښو ښکالو راغی خو دې شا ته ونه کتل. د شپږم پوړ د مخامخ کور پر زنګ یې ګوته ټینګه کړه. داسې یې احساس کړ چې څوک په لاندې زینه کې ولاړ دي، شا ته یې وکتل خو څوک نه و. بیا یې د چا ښکالو واورېد چې وار په وار سره تتېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبيدې په کور کې وويل چې امنيت والاو د غوث زلمي د قضيې په حساب نيولې وه، تر سهاره يې ځنې تحقيق وکړ، دا بې ګناهه وه، نو سهار يې بېرته راخوشې کړه. پخپله د خوب کوټې ته ولاړه. د تېرې شپې يادونو ځوروله. د شيرين آغا خبرې يې وريادې شوې چې د ډوډۍ په وخت کې يې خپور قوماندان سره خبرې کولې. هغه نېشه و، په دومره اوچت غږ يې خبرې کولې چې زبيدې صفا اورېدلې. شيرين آغا خپور ته ويل: ((جان بيادر، ميوند ته مې داسې لومه کېښوده چې اروا يې هم راباندې نه شوه شکي.))

په لوړ اواز يې وخندل، بيا يې وويل: ((ما يې کارتونه پټ کړل، بيا مې يوه خپلوان ته زر روپۍ ورکړې چې دا عمومي رياست ته يوسه، هلته ووايه چې د وزير اکبر خان په پارک کې مې يو نېشه سړی وليد، پر چوکۍ ناست و، سندره يې ويله، بيا راپاڅېد په چمن کې يې نڅا پيل کړه، په ځمکه رغړېده، نارې يې کولې، خلکو ته يې کنځلې کولې. بيا دغسې کوږ وږ روان شو، له پارکه ووت. زه لاړم په چمن کې کېناستم، هلته مې دغه کارتونه وموندل.))

بيا يې په زوره وخندل. د خپور په ورانه يې په څپېړه وواهه. هغه هم ورسره وخندل. سورج ورته د شاباسۍ په دود غټه ګوته پورته کړه. شيرين آغا وويل: ((اوس دې تحقيق ته ټينګ شي چې د مور شيدې يې د خولې نه ونه باسې کله به يې پرېږدي. دغه ارامونی ډېر پورته پورته غورځېده، آمر يې زه وم؛ خو سر و کار يې د رييس سره و. زما چوکۍ ته يې سودا وه، وايم والله که يې رانه واخلې.))

زبيده تر مازديګره کله ويښه کله ويده په همدې چورت کې وه چې څه وکړي.

ماښام ناوخته يې ورونه له دوکانه راغلي وو چې د وره زنګ وشرنګېده. ورور يې وره ته نژدې و، ور يې پرانيست، هېڅوک نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ازې د عکاسخانو کاغذي پاکټ د وره له چوکاټ سره پروت و. له لاندې د کوم چا د ګامونو اواز راته چې منډې وهي. دی په بېړه تر درېم پوړه کښته شو؛ خو له کړکۍ یې ولیدل چې سړی له زینې سړک ته راووت، د سپینې سراچې شاتنې سیټ ته یې ځان واچاوه او سراچه په تېزۍ سره روانه شوه. دی بېرته راوګرځېد، د وره له څنګه یې پاکټ پورته کړ. ور یې بند کړ. په تلو تلو کې یې عکسونه ترې راوایستل. په سر کې یې د خور نیم بربنډ عکس و، دویم عکس هم همدا شی و، ورپسې درې څلور نور هم عین شی و؛ خو له مختلفو زاویو څخه اخیستل شوي وو.

کوټې ته چې راورسېد، ستمې یې خوت. زبیدې ته یې په تریو تندي وکتل. ټولو ده وکتل؛ خو چا څه ونه ویل. هغه خپل مشر وږور ته د ښي لاس پینځه شپږ قطعې عکسونه ورکړل، له چپ لاسه یې چې بل عکس راپورته کړ، د عکس په لیدو یې یو دم سترګې پټې کړې، ځای په ځای کېناست. مشر وږور یې د سترګو په رپ کې د هغه له لاسه پاتې عکسونه راواخیستل. په عکس کې زبیده لوڅه لغړه پرته وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیبر په لغمان کې

دوه تنه فرانسوي ژورنالیستان او د هغوی ترجمان په لغمان کې تښتول شوي وو. څو میاشتې کېدې چې د رهواړه یرغمل وو.

«طالبان وايي دوی له موږ سره دي. هغوی تېره میاشت د فرانسې سفارت ته یو فلم ور استولی و. په فلم کې فرانسویان په یوه کوټه کې له دېوال سره پر بالښتونو ناست دي، مخې ته یې د مېز پر ځای او سپنیز بکس او د بکس پر سر میکروفون ایښی دی، دوی مخامخ کامرې ته ګوري او وايي: ((نن د ۲۰۱۰ ام کال د سپتمبر پینځمه ده، موږ روغ او ژوندي یو، زموږ د تښتوونکو غوښتنه ومنئ، موږ سره مرسته وکړئ، د فرانسې ولسمشر ته زموږ پیغام ورسوئ، هیله کوو موږ له دې ځایه وژغورئ، دوی ډېر ظالم خلک دي موږ به ووژني))

بله ورځ د فرانسې سفارت ته له ثریا ټېلفون څخه زنګ ورغلی و. هماغه خلک وو، ویل یې: خپل وګړي خو مو ولیدل، اوس نو زموږ د غوښتنو په باب څه وایئ؟

د سفارت کسانو ورته ویلي وو: موږ ډاډه نه یو چې زموږ وګړي په رښتیا ژوندي دي که نه؟

طالبانو ځواب ورکړی و: دوی خو په ویډیو کې نېټه یاده کړې ده.

سفارت والا ویلي وو: موږ ته ستاسې تکتیکونه رامعلوم دي، هغه بریتانوی چې مو نیولی و، په ویډیو کې یې د اګست شلمه یادوله، خو تاسو ان په جولای کې وژلی و. کېدای شي، دغه فلم مو پخوا ډک کړی وي او هسې مو په دوی باندې دغه تاریخ یاد کړی وي.

سپوږمکۍ د ثریا ټېلفون د استعمال ځای د لغمان په الیشنګ ولسوالۍ کې د کلا نجیل کلی ښییلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله اوونۍ بله وېډيو سفارت ته وررسېدلې وه. په دې کې بيا فرانسوي خبريال وايي: ((نن د ۲۰۱۰ کال د سپټمبر لسمه ده. بېګاه مې په خبرونو کې واورېدل چې سږ کال د احمدشاه مسعود تلين د نورو کلونو برخلاف په نسبتاً عادي غونډه کې ولمانځل شو، دا ځل ولسمشر کرزی ورته نه و ورغلی... ))

بله ورځ له بل ثريا ټېلفون څخه سفارت ته زنګ ورغی، سپوږمکۍ يې ځای معلوم کړ، دا وار د دولت شاه ولسوالۍ ډوکران کلی و. په دې کلي کې د امريکايانو بېز هم شته. ټېلفون له داسې ځايه شوی و چې بېز ته بيخي نژدې دی.»

رييس خيبر ته دغه معلومات ورکړل، بيا يې ورته وويل: دغه پروژه مې تا ته درو سپارله.

خيبر سهار پينځه بجې د مهترلام خوا ته روان شو. نيم ساعت وروسته په ماهيپر کې و. دوه مياشتې مخکې هم پر هم دې لار تللی و. په دې ورځو کې د ورېښم په تنګي او په سرخکانو کې د طالبانو حملې زياتې شوې وې. دوی اکثراً هغه ټانکرونه چې امريکايانو ته تېل رسوي، په راکټ ولي يا د سړک په غاړه يې دروي او اور ورته اچوي. دوی معمولاً د نهو او دريو بجو ترمنځ بريد ونه کوي، ځکه چې دوه نيم درې ساعته ورته په کار وي چې له خپلو ځالو تر سړکه راورسېږي او همدغو مره وخت يې بېرته ورتګ غواړي. ها بله مياشت کې د فوزيې کوفي په موټرو ورپېښ شوي وو. طالبان راغلي وو چې ټانکرونه وولي، خو ليدلي يې وو چې د جلال اباد له خوا لوکس موټر له تعقيبي موټرو او باډيګارډانو سره راروان دی. دوی به ګومان کړی و چې کوم لوی چارواکی يې په لاس ورغلی دی، نو بريد يې ورباندې کړی و.

تېر ځل چې خيبر له هغې خوا راته، په ماهيپر کې د تونل په منځ کې يو باري موټر چپه شوی و. د غرمې له دوولسو بجو د ماښام تر شپږو بجو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې لاره بنده وه، بیا له کابله کرښ ورغی او موټر یې راپورته کړ. دا ځل هم د خیبر مخې ته ډېرې لارې ورغلې، خو د ده دعا به قبوله شوې وه چې لاره نه وه بنده.

خیبر په سروبیو کې چای وڅښل، د موټر ټیرونه یې له نظره تېر کړل، شاتنې ټېرونه لږ پیت شوي وو. د هوټل مخې ته ولاړ پنچرمین ته یې وویل: دا ټیرونه خو ځلو ښت کړه. هغه ماشین چالان کړ، ټیرونو ته یې هوا ورکړه. خیبر چټک روان شو. د سرخکانو په لاره کې د پولیسو د قطعې له مخې په چټکۍ سره تېر شو، لس دقیقې نور مزل یې وکړ، له اکسلېټره یې پښه لرې کړه. موټر سوکه سوکه ورو شو. دوه میاشتې مخکې چې جلال اباد ته روان و، لږ وړاندې د خیروخېلو په سیمه کې یو پول نړېدلی و. په څو شېبو کې پله ته ورسېد، موټر یې نور هم کرار کړ. د پول نیمایي برخه لا هماغسې ویجاړه وه. ده موټر ودراوه. له هغې خوا راروان څلور موټرونه چې تېر شول، بیا یې حرکت وکړ. د پله پر روغه برخه چې تېرېده، لاندې یې وکتل، بیا یوه سره کورولا لاندې خطا شوې وه، موټر شپږ اووه متره لاندې په خوړ کې سر په څېړې ولاړ و، اوږې یې ماتې وې، یو مخ پرېس شوی و. د موټر څنګ ته ځمکه په وینو سره وه، داسې ښکارېدل چې پېښه به همدا تېره ورځ یا تېره شپه شوې وي. تېر ځل چې خیبر له دې ځایه تېرېده، هاغه مهال هم کوم نابلده موټروان نه موټر کښته لویدلی و، له پینځو کسانو نه یو هم نه و بچ شوی.

خیبر چې لغمان ته ورسېد، د اډې موټروانانو د سهار ناشتا کوله. خیبر خپله سپینه کورولا د جلال اباد په اډه کې په نمبر ودراوه. خپله د اډې د سماوار په چوتره کې کېناست، د شنو چایو چاینکه یې مخې ته کېښوده او د شاوخوا په تماشا لګیا شو. په اډه کې یو تش ډاینا باري موټر هم ولاړ و. موټروان یې لاس تر زنه جلو ته ناست و. لکه ډېر جالب

(c) ketabton.com: The Digital Library



شی چې یې لیدلی وي، هماغه یوې نقطې ته یې سترګې ښخې کړې وې. خیبر د ګېلاس وروستی غوړپ تېر کړ، په ډاینا والا باندې یې غږ وکړ: استاده ! راشه چې یو پیاله چای درباندې وڅښم.
هغه لویه ساه واخیسته، له موټره کښته شو، پکول خولی یې له سره ایسته کړه، په ببرو ویښتو کې یې ګوتې تېرې کړې، سر یې وګراوه. پکول یې بېرته په سر کړ. سر یې لږ ټیټ کړ، ښي لاس ته کوږ شو او نسوار یې تو کړ.
هغه لا چوترې ته نه و رسېدلی چې خیبر ورته پیاله ډکه کړه.
خیبر د کار و بار پوښتنه ځنې وکړه. ګلاب له بخته ګیله من و. ویل یې ټوله ورځ د الیشنګ په اډه کې تېروم. کله بار پیدا شي، کله نه. نن دې خوا ته راغلم، خو دلته هم بخت راسره یاري نه کوي.
خیبر ورته وویل: پخوا مې د کابل جلال اباد په لین کې ګېر واهه، خو اوس ماهیپر کې بیروبار ډېر وي، په تنګي کې بیا وخت نا وخته طالبان راکوزېږي، که سړی د امریکایانو له ټانکرونو سره برابر شي، نو له خپل سره دې تېر شي. له وچو سره لانده هم سوځېږي. ها بله ورځ د ماهیپر په تونل کې د ملي اردو موټر چپه شوی و، پوره اته ساعته ورته ولاړ وو، ایله چې لاره خوشې شوه، نو راغلم دې خوا ته، ما وې د لغمان ــ جلال اباد په لین کې به پېره ووهم.
ګلاب سر وښوراوه: مړه ! دلته بیا د سپرلیو خوند چنداني نه وي. لمبر به دې زر نه رسېږي.
خیبر وویل: که جلال اباد ته بار پیدا شي، نو یو به یې سې؟
ګلاب لکه نغده سودا چې یې کړې وي، شونډې یې وغوړېدې، ویې ویل: ځنګه به یې نه وړمه. څه جلال اباد، څه الیشنګ. ما ته یې پیسې په کار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غرمې تر ډوډۍ وروسته، خیبر په اډه کې شل پینځه ویشت سپک کارټنونه امبار کړي وو. ګلاب ته یې ټېلفون وکړ: که نور بار نه لرې، نو دلته راشه، جلال اباد ته مې یو بار درته پیدا کړی.

ګلاب په څو شېبو کې وررورسېد ، په منډه یې کارټنونه خپل موټر ته پورته کړل. خیبر ورته ادرس ورکړ چې په جلال اباد کې به د مخابراتو چوک سره د ګل نبي دوکان ته ورځې. کرایه به دې هماغلته ځنې واخلې. سړی اباد دی، کرایه دې ډېله وغواړه.

خیبر تر جمعې پورې څو وارې ګلاب ته سپک بارونه په غوړه کرایه پیدا کړل. پخپله یې له جلال اباده ورته یو څه چای او ګوړه راوړل. یو ځل یې ورته نوې ګنډلې جامې له واسکټ او څپلیو سره سوغات ورکړل.

د جمعې تر لمانځه وروسته، ګلاب اډې راغی، خیبر ته یې وویل: مړه ! زما خو دوه کورونه دي، شپږ اولادونه مې د یوې ښځې دي، پینځه یې د بلې. چې یوې ته اوړه اخلم، د بلې کره غوړي خلاصه شي چې د غوړو پیسې پیدا کړم، بیا د اولادونو کالي زاړه شي. د چا بوټ نه وي د چا خولۍ. یاره سخت سرګردانه یم، ډوډۍ مخکې ده زه ورپسې. والله خدای دې تا سره هم ښه وکړي، په سختو ورځو کې دې راسره لاس وکړ.

خیبر وویل: دا څه وایې؟ ما نو څه درسره کړي دي چې ته یې یادوې؟

ګلاب د ده پر اوږه لاس کېښود ، ویې ویل: ولې هغه بارونه چې دې راته پیدا کړل، هغه کم شی و؟ زموږ یو کلیوال دی، هغه هم څو پیرې دغسې ډېلې کرایې راکړې دي.

خیبر وویل: دا د قسمت کار دی، هر سړی یې له خپل تندي خوري. هسې خدای درته یو څوک سبب ګرځوي. هغه کلیوال دې دوکان مو کان لري که څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نه، بار د بل چا و، ده زه ورسره مخامخ کړم.
خیبر د چایو پیاله پورته کړه، د پیالې ګل ته یې سترګې ونیوې، ویې ویل: ها بله ورځ له جلال آباده خالي راتلم، په لاره کې دوو ږیرورو ودرولم. اوزبین ته تلل. داسې یو ځای ته یې بوتلم چې ما وې سړیه لاړې، د طالبانو مرکز و. خو کرایه یې دوچنده راکړه، رخصت یې کړم.
ګلاب غلی و، بیا یې له دې چې خیبر ورنه پوښتنه وکړي، خبره یې له سره شروع کړه: خبره دې تا سره وي.
غلی شو. دې خوا ها خوا ته یې وکتل، بیا یې په کرار غږ وویل: سړی په طالبانو کې دی. څو واري یې د مرمیو صندوقونه راباندې وړي دي.
خیبر د چایو له پیالې یو غړپ وکړ، په سړه سینه یې وویل: څه یې کوې، موږ او تاسې خپله غریبي کوو، که څوک مرمۍ راباندې وړي، که ګلونه.
خیبر له جیبه ګولۍ راوایستې. یوه دانه یې په خوله کې واچوله. ګلاب پوښتنه وکړه: مړه! دا د څه شي ګولۍ دي؟ له رنګه خو مریض نه ښکارې.
خیبر د هغه غوږ ته خوله ورنژدې کړه: له تا به یې څه پټوم، دا د مردانه طاقت دوایي ده. زه یو څه کمزوری یم، هره شپه چې کور ته ځم، نو بیا یوه دانه ګولۍ اچوم.
ګلاب پوښتنه وکړه: څنګه ګټه کوي که نه؟
-پوهېږې، یو انډیوال مې ډاکټر دی، داسې دوایي یې راکړې ده چې وایم مړی ژوندی کوي.
ګلاب د خیبر غوږ ته خوله ورنژدې کړه، له خولې یې د اوږې بوی لټېده، په کرار غږ یې وویل: انډیواله زما خوند هم ولله که وي.
ګلاب خپله خبره وغځوله: زما خو نو تا ته معلومه ده چې دوه دي. که تاوان نه کوي، نو یو دوه دانې ما له هم راکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیبر د ګولیو پوره پاکټ مخې ته ورواچاوه، ویې ویل: وایم بالکل تاوان نه لري، بې غمه یې خوره. خو هر وخت نه، هره شپه چې دې ورته نیت و، بس له کاره یــو ساعت مخــکې یــوه ګولۍ واچــوه بیا یې خوند وګوره.

سبا چې خیبر اډې ته راورسېد، لا له موټره نه و کوز شوی چې ګلاب ځان ورته راورساوه، په خندا یې ورته وویل: یاره منم دې، داسې شی دې راکړی و چې له سره یې ځوان کړمه. والله چې ان په نیمه شپه کې مې درله دعا کړې ده.

خیبر ورته کړه: که وزګار یې راځه موټر کې راسره کېنه چې یوه خبره درته کوم.

ګلاب موټر ته ورو خوت.

خیبر د موټر ښیښې پورته کړې، ویې ویل: انډیواله چورت مې خراب دی، زمـوږ یـو خپلـوان دی، فرانسـویانو سره ترجمـان و، طالبـانو لـه فرانسویانو سره یو ځای نیولی دی، دا یې دریمه میاشت ده چې مړی ژوندی یې ورک دی.

ګلاب په بیړه وویل: اې، هغه خو یې زموږ په ولسوالۍ کې نیولي وو.

ــ دا څه وایې؟

ــ قسم دی. څو شپې بیخي زموږ په خپل کلي کې وو.

خیبر وویل: ها بله ورځ تا راته وویل چې یو ملګری دې په طالبانو کې دی، څنګه د دغه سړي پوښتنه به ترې ونه کړې؟

ګلاب چونډۍ نسوار خولې ته واچول ویې ویـل: ولـې نه، مـړه ! ماښـام چې کور له لاړم، درک به یې درله ولګوم.

خیبر وویل: ګوره دا د نن پیسې دې زه درکوم، تـه همدا اوس لاړ شه. د ثواب کار دی. بېچاره، دوه میاشتې یې لـه واده کېـږي، مور یـې نژدې ده چې په ژړا وو ځان مړ کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلاب وویل: مړه ! د پیسو غم یې مه کوه، ته خو مې یار یې کنه.
خیبر یې خبره ونیوه: نه، دا سې نه کیږي، ته له کار و غریبۍ پاتې کیږي، اولادونه دې ډوډۍ غواړي، هه واخله دغه پیسې درواخله. که سړی پیدا شي، والله چې ښه ډېله شیریني به واخلې. پوهیږې، پلار یې ډېرې پیسې ورته منلې دي.
ګلاب د کلدارو دوه زرګونه په جیب کې کېښودل او له موټره کښته شو.
خیبر وربانديې غږ وکړ: واوره.
سړی بېرته موټر ته راوخوت.
- ګوره، پام چې ثوک درباندې خبر نه شي، دنیا کې سل رنګه خبرې دي، ته خو یې د خدای لپاره کوې چې خلک د بل څه ګومان درباندې ونه کي.
ګلاب نسوار تو کړ، ویې ویل: دومره ساده مې هم مه ګڼه. ما ته هم ګلاب وایي، ګلاب.
ګلاب کلي ته لاړ، دوه ورځې یې درک ونه لګېد، سه شنبه اډې ته راغی، په خیبر باندې یې زیری وکړ: انډیواله، سړی ژوندی دی. ځای یې را ته ونه ښود، خو همدومره یې وویل چې روغ رمټ دی.
پر سبا یې خیبر یو سپین ږیری ګلاب ته وروست، ویې ویل: دی د نوید پلار دی. په زوی پسې ډېر کریاب دی، که د نوید یوه ننښه مننښه ورته راوړې نو ثواب به دې شي.
سپین ږیري دوه زره کلدارې ګلاب ته ونیوې، ویې ویل: دا دې زیری.
ګلاب پیسې نه اخیستې، خو خیبر ورته ټینګ شو چې وایې خله.
سپین ږیري ورته وویل: زویه، خدای دې درسره ښه وکړي، زیری خو دې راباندې وکړ، اوس که د هغه یو عکس یا فلم راته راوړې، نو وایم ښه سمه شیریني به درکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلاب وموسېد: ولې نه بابا، څه چې زما د وسه پوره وي، خامخا به يې کړم. زه به مې خپل ملګري ته ووايم، خدای مهربان دی، ګوندې يو کار خو به راله وکي.

خيبر به هره ورځ په ټېلفون کې د کار پوښتنه کوله، ګلاب د نن و د سبا ورته ويل.

هفته چې پوره شوه، ګلاب وويل: سړی پيسې غواړي، وايي پينځه زره کلداري راکړه، زه به په موبايل کې د نويد فلم درله راوړم.

خيبر پيسې ورکړې. نويد ويلي وو: ((زه تر دې دمه روغ رمټ يم. دوی راسره ښه چلند کوي. زه يې دې ته ايسار کړی يم چې د فرانسويانو ترجماني وکړم. نور کار يې راسره نشته. که خدای کول خوشې به مې کړي. ))

خيبر کرار کرار له هغه طالب سره لاره پيدا کړه. څو واري يې پيسې ورته ولېږلې. د ټېلفون نمبر يې له ګلاب‌ه واخيست. ګلاب ته به يې هر وخت د طاقت له ګوليو سره پيسې هم ورکولې. طالب څو ځله د برغملو ځای هم ورته وښايه. ده چې له نورو منابعو پوښتنه وکړه، په هماغه وخت به رښتيا هم فرانسوايان په هماغه ځايونو کې وو چې طالب به ورته ښودلي وو.

خيبر ډاډه شو چې د طالب معلومات سم دي، بل وار چې دقيق ادرس يې ځنې واخيست، رييس ته يې وويل: «ښه به دا وي چې د ايساف کماندو ځواکونه پر هغه کور غلچکی برید وکړي.» خو د فرانسې سفارت اجازه ورنه کړه. دوی وېرېدل چې په برید کې به ژورناليستان تلف شي.

په تګاو کې وضعيت خراب شوی و. د حزب اسلامي او طالبانو جنګياليو په کې ځالې جوړې کړې وې. ايساف د عملياتو پلان ورته جوړ کړ. اول سر کې يې له هوا څخه بمباري ورباندې وکړه، خو طالبانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرانسوي پرغمل شوي کسان تګاو ته بوتلل، نور امریکایي، بریتانوي او د هر ملک وګړي یې چې نیولي وو، ټول یې تګاو ته بوتلل، بیا یې ایساف ته خبر داری ورکړ چې که بیا پر تګاو بمباري وکړي، نو دوی به ټول اسیران ووژني.
خیبر په دې دریو اوونیو کې شپه جلال اباد ته ورځ، هلته یې کله په یوه کله په بل هوټل کې شپه تېروله. درې اوونۍ چې پوره شوې د امنیت ریاست کابل ته وروغوښت، دی چې کابل ته روان شو، د خیرو خېل پول لا هماغسې رنګ پاتې و، چا نه و جوړ کړی.
خیبر چې په لغمان کې و، نو میوند به هر وخت د خپلو کارونو خبر ورته ورکاوه. خیبر دې ته حیران و چې ولې په دې څو ورځو کې د میوند ټېلفون کار نه کوي. اوس چې خبر شو، دا یې نه شو منلای چې میوند دې خپل کارت ورک کړی وي. د خیبر دا سې وخت نه یادېده چې میوند دې په چارو کې غفلت کړی وي، هغه به پخپله ویل چې د استخباراتو مامور که خپل کارت ونه شي ساتلای؛ نو د ادارې رازونه به څنګه وساتي؟
خو دا هر څه شوي وو. د دوی رییس هم په دې اړه څه نه شو کولای. دا کومه عادي ګناه نه وه چې عمومي رییس دې د ده سپارښتنه ومني. رییس د خیبر په غوښتنه یو ځل بیا د کادر و پرسونل رییس ته ورغی؛ خو بېرته تش لاس راغی.
خیبر په نه زړه د میوند دوی دفتر ته لاړ، شیرین آغا یې بد ابسېده؛ خو اوس مجبور و چې د میوند په خاطر ورشي. شیرین آغا په دفتر کې نه و. د موبایل زنګ پورته شو. خیبر د شیرین آغا مېز ته ورنژدې شو، موبایل یې هلته و، ورته پر له پسې زنګونه راتلل. زنګ چې خلاص شو، د موبایل پر سکرین د زبیدې نیم بربنډ عکس پروت و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیبر په خپل موبایل کې نومونه وپلټل، د زبیدې هغه نمبر یې پیدا کړ چې یوازې له ده او له میوند سره و. له دفتره ووت، زنګ یې ورته وواهه. چا ځواب ورنه کړ. بیا یې زنګ وواهه، په پینځم زنګ د زبیدې غږ لکه د ناروغ ژګیروي، ستومانه ((بلې)) وویل. خیبر ځنې پوښتنه وکړه چې له کوره خو به نه یې وتلې؟

هغې په ژګیرویو وویل: وتلې ومه، ډېره بده ورځ یې رابانده راوسته. خیر دی یو وار زموږ تر کوره راشه، ورونو ته مې حال ووایه. په دې یوه هفته کې یې په وهلو وهلو نژدې وژلې ومه.

خیبر ماښام مهال د زبیدې دوی په کور کې و. د هغې ورونو ته یې د زبیدې صفتونه وکړل، ورته ویې ویل چې زبیدې له دوی سره د خارجي جاسوسانو په ضد همکاري کوله. دا یې هم وویل چې د دې په مرسته یې د هندي، ایراني او روسي جاسوسانو لویه پروژه شنډه کړې ده؛ ځکه خو د جاسوسانو ملګرو تښتولې وه. د ماخوستن آذان وشو، د خیبر خبرې خلاصې شوې، د زبیدې مشر ورور، چې تر اوسه یې سترګې د غالۍ په ګلانو کې ښخې وې، سر راپورته کړ، اوږد اسویلی یې وکیښ، ویې ویل: نه پوهېږم څه ووایم. که د زبیدې عکسونه یې نورو ته ورکړي وي نو بیا به څه کوو. چا ته به کیسه تېره کړو چې رښتیا څه ده.

خیبر وویل: ته اند ېښنه مه کوه، دا کار ځکه نه کوي چې پخپله ورسره رسوا کېږي. تاسو ته یې چې عکسونه راوړي دي، مطلب یې همدومره و چې زبیده په تاسو وډبوي.

د زبیدې ورور په سرو سترګو ورته وکتل، ویې ویل: خدای دې وکړي چې همداسې وي.

غږ یې غریو نیولی و. خیبر یې لاس ټینګ کړ: ما هم لکه خپل ورور وګڼه، زه هم په دې کار درد ېدلی یم. خو بدل به یې اخلم. باور ولره، که

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبيدې ته اجازه ورکړې چې راسره همکاري وکړي، دغه ټول بې ناموسان به ونيسو.
د زبيدې د ورور له سترګو دوه څاڅکي اوښکې راووتې، مخ يې د پوا له خوا ته وګرځاوه.
خيبر زبيدې ته يې د ميوند وويل چې کارت يې ورک شوی او اوس تر تحقيق لاندې دی.
زبيدې بيا ورته د ميوند د کارتونو هغه کيسه وکړه چې شيرين آغا خپټور قوماندان ته کړې وه.
دې سره د خيبر څېره وغوړېده. د زبيدې له ورونو يې اجازه واخيسته چې سبا دې زبيده له ده سره لاړه شي چې د ميوند سپيناوی وکړي.
سهار د مامورينو موټرونه له رياسته ووتل چې خپله عمله راوړي، خيبر له زبيدې سره د رييس د دفتر مخې ته ولاړ و.
زبيدې په کرار غږ له خيبر سره خواله کوله: زه په خپلو کارونو پښېمانه نه يم. ميوند زما له مجبوريته استفاده وکړه خو بې ناموسي يې راسره ونه کړه. پلار مې د ډاکتر په نجيب په وخت کې ډګروال و، هغه د جلال آباد په جنګ کې شهيد شو. زه په ميوند کې د هغه خويونه وينم. پلار مې د ده غوندې په وطن مېين و.
د دهلېز په کوز سر کې رييس ښکاره شو، بکس يې د ډرېور په لاس کې و، دی مخکې ډرېور يې شا ته روان و.
چې دوی ته راورسېدل، ويې ويل: خدای خير کړي.
خيبر وويل: صاحب، د ميوند په باره کې يو خبر درته لرو.
ډرېور د دفتر ور پرانيست، د دفتر آمر له ځايه پاڅېد، تيارسئ ودرېد. رييس ورسره د لاس روغبړ وکړ، بيا يې د خپل دفتر ور خلاص کړ، خيبر ته يې کړه: راځئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زبیدې ټولې خبرې یې واورېدې. غوښتل یې چې سم له واره د شیرین آغا د نیولو امر وکړي؛ خو خیبر وویل: رییس صاحب، که داسې وکړو؛ نو د میوند ټوله پروژه به خرابه شي. تاسې له عمومي رییس سره وغږېږئ چې میوند په پټه خوشې کړي. پرېږده چې شیرین آغا او اندېوالان یې ګومان وکړي چې میوند په بند کې دی. شیرین آغا ته به وواېو چې عمومي ریاست هېڅوک میوند ته نه ورپرېږدي.
رییس وویل: ښه خبره دې وکړه؛ خو یوازې د دې نجلۍ په شهادت به ونه شي، نور څه هم په کار دي.
خیبر وویل: رییس صاحب، هغه چا چې د میوند کارتونه یې عمومي ریاست ته وړي، هغوی خو به څه معلومات ځنې اخیستي وي چې څوک دی، د کوم ځای دی، د ټېلفون نمبر، یو څه درک خو به یې معلوم کړی وي.
ـ ښه شي ته دې پام شوی. زه به یې پوښتنه وکړم.
خیبر زبیده تر کوره ورسوله، بېرته د رییس دفتر ته لاړ. رییس ورته د ټېلفون نمبر ورکړ.
خیبر هغه نمبر ته زنګ وواهه، سړی زلمی نومېده. خیبر ورته وویل چې د امنیت ریاست ورته انعام ورکوي، باید راشي.
غرمه نژدې وه چې خیبر ته د ریاست له دروازې زنګ راغی چې د زلمي په نامه سړی دې غواړي.
خیبر د رییس په موټر کې ووت، سړی یې ورسره واخیست، مخامخ د رییس شعبې ته یې وروست. سړي په اول سر کې انکار وکړ؛ خو چې څنګه یې یو دوه څپېړې وخوړې، د بلبل غوندې په خبرو سر شو، د شیرین آغا ټوله کیسه یې ورته وکړه.
رییس هغه د کادر و پرسونل ریاست ته یووړ. هلته یې اقرار ځنې واخیست. د میوند بې ګناهي ثابته شوه. د زلمي غوږونه یې ورخلاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل چې که شیرین آغا یا بل چا ته یې څه ویلي وو ؛ نو درې کاله بند ته دې تیار شي. سړي قسم وکړ چې تر قیامته به خوله بنده وساتي.

## منصور په ایران کې

له منصور سره د آغا سړی د لارې مل و. سهار یې له کابله حرکت کړی و ، مازدیګر قضا اسلام کلا ته ورسېدل. افغان سرحدي ساتونکو ته یې خپل پاسپورټونه ورښکاره کړل. هغوی په پاسپورټونو باندې خروجي ټاپې ووهلې او رخصت یې کړل.
ایراني پولیسو ته چې ورسېدل، د منصور ملګري په ایراني پارسي ورته وویل: «یه مهمون یه میزبون» یانې «یو مېلمه یو کوربه» هغوی ورنه کاغذ وغوښت. سړي د آغا خط ورښکاره کړ.
ایراني پولیسو سم له لاسه دوی ته موټر او دوه ساتونکي ورکړل. تر یو ساعت مزل وروسته کمپ ته ورسېدل. هلته منصور له سره تر پښو پورې تلاشي شو. ده هسې هم خپل موبایل نه و وړی، نور داسې شیان هم ورسره نه وو چې سپاه پاسداران والا دې یې ځنې واخلي. یو مسواک د واسکټ په پاسني جیب کې، تسبیح، ږمنځ او هنداره په چپ جیب کې، په ښي جیب کې خامکي دسمال ، په بغل جیب کې د کلدارو څو زرګون نوټونه، د ده ټوله شتمني وه. جیبي قران شریف یې هم په بغل جبب کې له کلدارو سره ایښی و.
منصور داسې ښکاره کړي وو چې ګوندې په ټکی پارسي نه پوهېږي. شپه یې په کمپ کې وه. کمپ له یو پوړیزو پخو بلاکونو جوړ و. د کمپ غولی او ټولې کوټې تر سهاره په برېښنا رڼې وې، هلته چا ته اجازه نه وه چې د خپلې کوټې څراغ دې مړ کړي. ده ته معلومه وه چې په کوټه کې یې پټه کمره او د غږ د ثبتولو اله لګېدلې ده؛ نو څو پورې چې ویښ و ، د قران شریف په تلاوت او لمونځونو لګیا و. هغه ایتونه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ښه په تجويد سره زده کړي وو، هغه به يې په لوړ اواز قرائت کړل چې کوربانه يې د حقيقي طالب ګومان پرې وکړي.
سهار وختي درې تنو سپاهيانو له منصور سره په «پيک اپ» موټر کې لمرخاته خواته حرکت وکړ. تر يو ساعت مزل وروسته غرونو ته ورسېدل. په يوه دره کې نيم ساعت وړاندې لاړل. هلته د غرونو په منځ يوه هوار ځای کې بل کمپ و. په دې کمپ کې هر څه داسې امانت ايښې وو لکه د کوچيانو بانډې، کوټې له کانټينرونو جوړې وې. د کمپ چارچاپېره د دېوالونو پر ځای هيسکوګانې ولاړې وې، له اوسپنيزو جالونو جوړې څلور کونجې بوجۍ چې منځ يې له خاورو ډک شوی و. باري موټرونه او کرېن، د کمپ په پارک کې ولاړ وو.
هلته د اخندانو درک نه و، ټول سپاه پاسداران والا وو، په ايرنيو دريشيو کې، د اکثرو ږيرې يوه سانتي يا نيمه سانتي وې، ځينې چټ پټ خرييلي مخونه ګرځېدل.
سپاهيانو چې هر څه وويل، منصور ځان ناګاره واچاوه. اخر مجبور شول چې ترجمان ورته پيدا کړي، داسې کس چې هم په پښتو وپوهېږي هم په ايراني. دوه ورځې وروسته همداسې سړی وروررسول شو. دلته بيا د منصور خواريو کار وکړ. دغه سړی چې په پښتو ګړېده، له منصوره يې د مدرسې په باب ډېرې پوښتنې کولې. هغه له پاکستانه ورغلی و. نوم يې امجد حسين و. منصور ته داسې ښکاره شو چې د ((آی اس آی)) سړی به وي. په دې دوو ورځو کې به منصور ډېری وخت په عبادتونو تېراوه. چې له کوټې به راووت، مخ د غره خوا ته به پر ډبرې کېناست، شا به يې هغو افغانانو ته شوه چې سپاهيانو د بم جوړولو او چاودنو ټرېنينګ ورکاوه. ده ځان په تسبو بوختاوه؛ خو غوږونه به يې د دوی خبرو ته ځک نيولي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ګومان کاوه چې دلته به هم د پاکستاني مدرسو په شان خلکو ته د جهاد او شهادت تبليغ کېږي؛ خو داسې نه وه. دلته خبرې نورې وې:
«په دې درې سوو کلونو کې پښتنو درباندې ظلمونه کړي، اوس يې وخت دى چې خپل حق ورنه وغواړئ.»
«موږ او تاسې مشترک فرهنګ لرو، ژبه مو يوه ده، تېر مو يو دی، دا بربري پښتانه بيا څوک دي چې پر تاسو حکومت کوي؟»
«موږ ته وګورئ، عربان مو هم پرې نه ښودل چې پر موږ باندې حکومت وکړي. دوی راغلي وو د اسلام په نامه؛ خو په اصل کې يې خپل فرهنګ او خپله ژبه راباندې منله. غوښتل يې چې دلته خپله امپراتوري جوړه کړي؛ خو زموږ مېړنيو پلرونو پسې واخيستل. اوس وګورئ عربستان کې اسلامي حکومت چلېږي که په ايران کې؟ هغوی تش په نامه اسلامي دولت لري، کړه وړه يې له اسلامه لرې دي. له صهيونيستانو سره يې دوستي ده، د امريکا غلامي کوي. اوس په ټوله دنيا کې يوازې ايران دی چې د فلسطين د مسلمانانو غم ورسره دی. نن سبا د درست اسلام مرکز ايران دی. يوازې موږ يو چې ستاسو غم راسره دی، ستاسو د حقونو دفاع کوو ځکه چې ستاسو سکني ورونه يو.»
يوه افغان ورته وويل: «د تا خبرې سمې دي؛ خو دلته خلک موږ بربريان بولي، ها بله ورځ مې دوکان نه سودا اخيسته، دوکاندار راته وويل: صبر وکه وحشي، افغاني پدرسوخته.»
روزونکي يې ژر خبره ورپرې کړه: «ګوره دا خو د عامو خلکو خبرې دي، جاهلان دي نو. موږ يې خولو ته برغولي نه شو نيولای. زموږ حکومت خو په دې سترګه درته نه ګوري. اسلامي نظام ستاسو ډېر قدر کوي. تاسې زموږ د سترګو تور يئ.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



امجد حسین چې راورسېد ، د منصور درسونه شروع شول. ده ته یې یوازې د امریکا پر ضد یوه نیمه خبره کوله، نور یې نو د ځانمرګي برید په اړه ورسره کار کاوه چې واسکټ څنګه تړل کېږي، فیوز یې چېرته وي، سویچ یې باید څنګه په تخرګ کې ټینګ شي او دی باید د پوځي کتار په کوم سر کې ځان والوځوي.
له درې ورځې نظري درسونو وروسته یې په منصور باندې عملي کار پیل کړ. تعلیمي واسکټ به یې ورواغوست. په دره کې به د موټرو کتار تېرېده. دی به کرار کرار ورغی د کتار منځوي موټر ته چې به ورسېد ، سویچ به یې په تخرګ کې داسې ټینګ کړ چې لاس به یې ونه خوځېد. دا کار یې باید داسې کړی وای چې د چا پام یې ځان ته نه وای اړولی. د دې لپاره یې کله د مېږو رمه په مخه کوله، کله په بوټو بار خره. دا یې هم ورزده کړي وو چې کتار ته د نژدې کېدو پر مهال دې موټرو ته ونه ګوري. منصور په وړوکوالي کې خپله رمه پېوله، د مېږو او خرو په چوبولو کې تکړه و خو د ایران مېږې یې په خبرو نه پوهېدې.
له منصور سره به تر ایراني روزونکو امجد حسین ډېر ګړېده. هره ورځ به یې د شهادت فضیلتونه ورته بیانول، ویل یې: «شهید چې څنګه بیا جوندی شي، په جنت کې به وي. له شهید نه سوک تپوس نه کوي چې څه دې کړي څه دې نه دي کړي؟ دی چې ستړګې خلاصې کي، نو دوه اویا حورې به یې ورله تیارې وي. مزې به وي، عیشونه به وي.»
دې خبرې سره منصور ته هغه کیسه ورپه زړه شوه چې د امریکایانو ترجمان ورته کړې وه. هغه ویلي وو: «یوه ورځ د بګرام په روغتون کې وم. په عاجل اتاق کې یو طالب په کوما حالت کې و. هغه غوښتل چې ځانمرګی برید وکړي؛ خو امریکایانو پېژندلی او سم له واره یې ویشتلی و. ما د روغتون په دهلېز کې امریکایي ډاکټر سره خبرې کولې چې له عاجل اتاقه دوه تنه سپینې ښکلې نرسانې په منډو

(c) ketabton.com: The Digital Library



راووتې. ډاکتر ته يې وويل «هله چې سړی ليونی شوی» ډاکتر په منډه عاجل اتاق ته ورغی، ما ته يې هم اشاره وکړه چې راشه. که ګورو چې ځانمرګی په سد شوی او شور يې جوړ کړی. درګرده يې ويل: «ما ته خو ملا صاحب ويلي وو چې په جنت کې به دوه اويا حورې درته ناستې وي، دلته خو دوې دانې وې، نورې يې چېرته دي؟»

منصور شونډه په غاښ وچيچله.

امجد حسين پوښتنه وکړه: مړه، سنګه خاندې؟

منصور ووېل: جنت خو وي د خوشحاليو ځای. تش يې په يادولو سړی خوشحالېږي. ريښتيا تا ته خو د شهادت اجرونه معلوم دي؛ نو ولې ته هم له ما سره نه ځې چې دواړه فدايان شو. دواړه به امريکايان مردار کړو او پخپله به شهيدان شو.

امجد حسين ووېل: مړه، ته خو ټيک خبره کې، خبره دا ده چې که زه شهيد شم؛ نو فدايانو له به سوک ټرېنينګ ورکوي؟ سه پوې شوې؟ د دې کار اجر د شهادت نه سه کم نه دې.

د منصور ټرېنينګ ډېر وخت ونه نيو. امجد سپاه پاسداران والاو ته وويل چې سړی بيخي تيار دی، نوره خواري ورباندې مه کوئ.

منصور په درېيمه اوونۍ ببرته د کابل په خوا روان شو. هماغه د آغا سړی ورپسې راغلی و.

کابل ته چې راورسېدل، نبغ ده سبز ته لاړل. هورې يې د حزب اسلامي د يوه پخواني قوماندان غلام نبي په کور کې واړول. ماخوستن تر جماعت وروسته کوربه د ملا امام په غوږ کې څه وويل. ملا منصور ته ټينګه غېږه ورکړه. ډېر يې ونازاوه. هره ګړۍ به يې ويل: «په ايمان دې برکت شه»

د آغا سړی سبا سهار په خپله مخه لاړ. منصور پاتې شو او ده سبز. په درېيمه ورځ د آغا کسانو په يوه امبولانس کې واسکټ وروړساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



واسکټ د بنداژونه په منځ کې په یوه لوی کارتن کې و. فیوز او مزي يې یوه عرب وروتړل. عرب د ده سبز په مدرسه کې د تفسیر استاد و. منصور به هره ورځ لس کیلو واسکټ په تن له څو مېږو او وزو سره د کابل بګرام سړک ته څېرمه ګرځېده. ده ته يې ویلي وو چې بله جمعه به د امریکایانو لوی کتار له بګرامه د کابل خوا ته روانېږي. دی باید هره ورځ ځکه هلته لاړ شي چې له سیمې سره بلد شي او لاروي هم دی وګوري چې شپون دی. ده ته يې کوچانۍ زړې جامې له شکېدلي خیرن واسکټ سره وراغوستي وو.

غلام نبي منصور ته وویل: په لاره کې د امریکایانو وطني جاسوسان ګرځي راګرځي، که په چا باندې شکي شي، نو امریکایانو ته يې راپور ورکوي.

منصور حیران و چې خیبر او میوند څنګه خبر کړي؟ ده د لوی ډاګ په داسې ځای کې خپله رمه پېوله چې سړک څو ځایه درې څلور متره ژور تللی و. دغه ځای کې سړک په خوړونو کې تېر شوی و. د سړک لمرخاته پلو ښایسته لرې یوه نیمه چارد بوالي جوړه وه. د ډبرو او خښتو موټرونه هماغه خوا ته تلل.

منصور یوې لارۍ ته لاس ونیو، په کوچانۍ ژبه يې ورته وویل: وروووره، دا موبایل خو دې یو وار راااکه، سیرلي مې رانه ورک دی، وروووور به مې راوبولم.

سړي ورته موبایل ورکړ، په ریشخند يې وویل: چې ډېر ونه غړېږې. خبرې به لنډې کوې، هسې هم تاسې کوچیان خبرو ته داسې کش ورکوئ لکه د کابل نانوایان چې د دومره کې اوړو نه دوه ګزي ډوډۍ جوړوي.

منصور په هماغسې کش کړو تورو وویل: بې غـــــمه اوسه، بس یوه خبره ورته کوم، نووور څه نه وایمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میوند خاص نمبر ته یې زنګ وواهه، له روغبړه پرته یې ورته وویل: منصووور یم، سیرلی مې ورک دی، وایم ژر راسه، اورې؟ شپږ څلوېښت، دوه ویشت.
موټروان خپل موبایل واخیست، ویې ویل: ما درسره ټوکې کولې، تا خو په رېښتیا خبره لنډه کړه.
منصور وویل: کووور دې ودان، د ما خبره همدووومره وه کنه.
موټروان وپوښت: دا شپږ څلوېښت یې بیا څه شی دی؟
منصور ځواب ورکړ: مېېېږې او ورۍ مې شپږ څلوېېېښت دي.
موټر لاړ. منصور د لوی خوړ خوا ته وخوځېد. رمه یې خوړ ته کوزه کړه. ساعت وروسته د خوړ په سر کې د خیبر سر ښکاره شو. یو نا اشنا رېیرور هم ورسره و. چې ښه ورنژدې شول، منصور هغه هم وپېژاند ، میوند و.

میوند لا بندي دی

شیرین آغا د میوند دوی کور ته ورغی. د میوند له ورور یې پوښتنه وکړه: د میوند حال لرې که نه؟ څنګه دی؟
هغه وویل: نه والله. وایي چې په عمومي ریاست کې دی. هره هفته په شپږمه ورځ پاک کالي ورته وړو. عسکر رانه کالي اخلي، له هغې خوا یې خیرن کالي راته راوړي؛ خو مخامخ مو نه پرېږدي چې ورسره وګورو. تېره جمعه یې یوه پرزه خط هم رالېږلی و، لیکلي یې وو چې زما غم مه کوئ، ما ته څه تکلیف نشته.
شیرین آغا وویل: په کور کې ووایه چې اند ېښنه دې نه کوي. زه کوښښ کوم چې راخوشې یې کړم. ها بله ورځ مې ورسره وکتل. خدای مهربان دی، راخوشې به شي؛ خو یو څه بې غوري یې کړې ده نو. کارتونه یې ورک کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میوند ورور وویل: بس قسمت به یې همدا سې و.

شیرین آغا په ټېر باندې لاس کېښود ، ویې ویل: که هر امر و خدمت وي، ما ته یې وایه. وایم خپل ورور غونډې مې وګڼه.

شیرین آغا ریاست ته لاړ، خیبر یې مخې ته ورغی، له هغه یې پوښتنه وکړه: جان بیادر، ښنګه دی، هغه جان جاني اشنا دې ښنګه دی؟

خیبر وویل: ښنګه به وي نو؟ هېڅوک یې لیدو ته نه ورپرېږدي. هر څوک چې وغواړي میوند وګوري، باید له عمومي رییسه اجازه واخلي.

## د میوند پلان

میوند خپل کور ته هم نه ته. د ۰۸۵ د ریاست یو پټ مېلمستون په کلا فتح الله کې و. میوند په بدله شپره هماغلته اوسېده. خیبر هم د پلانونو د جوړولو لپاره هملته ورته.

له میوند سره په هغه ورځ خیبر هم یو ځای و چې منصور ټېلفون وروکړ. دواړه شپږ، شلو بښت، دوه وېشت مربع کوردینات ته لاړل. د خوړ په پېچومي کې کېناستل، د منصور له تنه یې واسکټ په کراره سره راوایست. بیا یې سوکه سوکه فیوز ترېنه خلاص کړ. فیوز ته غځېدلې نرۍ مزی یې په پوښ کې د ننه داسې غوڅ کړ چې پوښ یې روغ پاتې شو. هغه داسې چې د مزي پوښ یې په مخصوص څراغ باندې ګرم کړ، بیا یې کرار کرار یوې خوا ته راټول کړ، مزی چې لوڅ شو، په منځ کې یې غوڅ کړ او پوښ یې بېرته تر بل سره پورې وښکاوه. پوښ یې د مزي په سر کې په سریښ باندې ټینګ کړ. دا د دې لپاره چې ایرانیانو واسکټ داسې نه وي جوړ کړی چې په ریموټ باندې هم والوځي او څوک یې له لرې والوځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



منصور میوند دوی ته د ایراني کمپ نقشه او کوردینات رسم کړل.
خیبر منصور ته موبایل ورړی و. منصور موبایل ته د خوړ په د بوالـه کې وړوکی ځای وکیند ، موبایل یې هلته کېښود او په بوټو باندې یې پټ کړ.
خیبر او میوند له امریکایانو سره خپل معلومات شریک کړل. هغوی سپوږمکۍ د ایران پر هماغه سیمه برابره کړه چې منصور یې ادرس ورکړی و ؛ خو هلته هیڅ شی نه تر سترګو کېده. لکه په نیمروز کې د شګو غونډۍ چې ماښام په یوه ځای کې ولاړه وي، بیا چې سبا هر څه پسې ګورې نه یې شې موندلای، سبا به باد څو کیلومتره لرې وړې وي. پخوا به د هلیکوپټرو پیلوټانو داسې قانون درلود چې د ناستې ځای ته نژدې به یې د ((نقطۀ نیرنګي)) په نامه یو شی په نښه کول چې د هغه په مرسته به یې بل وخت هماغه ځای پیدا کړي. د ډاکتر نجیب په حکومت کې یو نابلده پیلوټ په نیمروز کې همداسې د شګو غونډۍ د ((نقطۀ نیرنګي)) په توګه په نښه کړې وه. غونډۍ هغه کلي ته نژدې وه چې ده کوم قوماندان په کې کښته کړی و. سبا چې هر څه پسې وګرځېد ، د غونډۍ درک نه و. په هلیکوپټرو کې دوه پیلوټان وي، یو یې د عملي قوماندان وي بل یې د ښي لاس پیلوټ. قوماندان له ښي پیلوټه پوښتنه کړې وه چې تا خو به کومه بله ((نقطۀ نیرنګي)) نه وي په نښه کړې. پوهېږي چې هغه څه کړي وو؟ د شپنو رمه یې په نښه کړې وه. خدای خبر چې به همداسې پېښه شوې وه، که چا ورپورې ټوکه کړې ده؛ خو د سپاه پاسداران کمپ په ریښتیا سره ورک شوی و ، لس کیلو متره شمال خوا ته بل کمپ جوړ و.
د برید تر ورځې پورې میوند او خیبر په داسې نقشې کار کاوه چې د جمیل ورور راخوشې شي او د ترهګرو پلان شنډ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آغا د جمیل په غم کې

له هغې ورځې چې منصور ایران ته استول شوی و، جمیل به اول سر کې هره ورځ د آغا کره ته او د ورور پوښتنه یې ځنې کوله؛ خو آغا ورته یاده کړه چې د ده هره ورځ ورتګ ښه نه وي. په هفته کې دې یو وار خبر واخلي.

دریېمه اوونۍ په ختمېدو وه. جمیل بیا آغا ته راغلی و. آغا وربانديې وغربد: ته څومره شله یې، خو درته و مې ویل چې رابه شي.

جمیل وویل: تا پخپله ویلي وو چې بله اوونۍ به راخلاص شي.

- دومره آسانه درته ښکاري. رهبر بل کار نه لري، ستا د ورور د خوشې کولو امر به ورکوي. وه ځوانه لږ حوصله ولره، لوی کارونه ډېر وخت غواړي.

د جمیل شونډې ورپېدې، سترګې یې تنګې شوې، په سوک باندې یې مېز ووډباوه. ویې ویل: آغا صاحب، که مې ورور راخوشې نه کړې، ټوله کیسه به دې پولیسو ته وکړم.

آغا ورته وموسل: لکه چې زما د زور درک درته نه شو معلوم. یو سړی چې میدان ته بې تلاشۍ ننوتی شي، تا غوندې خلک هم ورک کولای شي.

جمیل وویل: که زه پوه شم چې ورور مې نه خوشې کېږي، بیا به د خپل سر پروا ونه کړم. مړ به مې کړې؛ خو تا به هم داسې روغ پرې نهږدم.

دې سره یې په موبایل کې د آغا اواز چالان کړ: «که یو څوک راته پیدا کړې چې ځانمرګی برید وکي؛ نو اجمل به راخوشې کړم.»

آغا د مېز پر سر سویچ ټینګ کړ. په دهلېز کې زنګ وکړنګېده. دوه وسله وال کوټې ته راننوتل. آغا د جمیل په لاس کې موبایل ته اشاره وکړه او ویې ویل: ځنې وایې خله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمیل موبایل دوه لاسي ورته ونیو. ویې ویل: آغا صاحب، دغه اواز زما په کمپیوټر کې هم شته. کمپیوټر مې په کور کې دی، که دې ورور راته راخوشې کړ، لوز درسره کړم چې هرڅه به درو سپارم، که نه نو د پولیسو لاس ته به ورسېږي.
آغا له موبایله خپل غږ ډیلیټ کړ. موبایل یې بېرته جمیل ته ورکړ.
جمیل لاړ خو آغا تر ماښامه په کوټه یوازې ناست و، پیره دار ته یې ویلي وو چې هېڅوک دې نه ورپرېږدي. ماښام باډیګارد ورته وویل: حاجي آغا، ډاکتر سورج راغلی.
سورج هماغه د جمیل خبره ورته وکړه.
آغا وویل: ایرانیان به یې کله راسره ومني.
- ته یې باید قانع کړې. دې ته دې پام دی چې جمیل پښتان دی؟
ـ نو څه؟
ـ ولې نو ته یې نه پېژنې؟ دوی چې چا سره بدي وکړي، بیا یې زور ته نه ګوري. ځان به دربانديې وژني؛ خو تا به هم روغ نه پرېږدي.
آغا چورتي شو.
سورج بیا وویل: پوهېږې، یوه ورځ یې له ما سره لانجه وشوه. د روغتون رییس چې هر څه ورته وویل، ده رانه معافي ونه غوښته. ښه پوهېده چې رییس کولای شي دی له کاره وباسي؛ خو دی یې په کیسه کې نه شو. زموږ وال خپل رییس ته بګوان وایي بګوان؛ خو دی په رییس باندې بیخي چورت نه وهي.
آغا ځمکې ته کتل.
سورج وویل: دې ته دې هم پام وي چې په منځ کې مو زما مسئله هم ده. جمیل تر اوسه پورې ما ته هم ستا راز نه دی ویلای؛ خو که ورسره دوکه وکو؛ نو له تا سره به ما هم په غمونو ککړ کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سورج چې ووت، آغا ایران ته زنګ وواهه. د اجمل د خوشې کولو خبره یې ورته وکړه. هغوی وویل: بس همدا چې منصور ځان والوځاوه، موږ به اجمل ختم کړو.

آغا ورته وویل: جمیل اخطار راکړی. وایي که یې ورور راخوشې نه کو؛ نو هر څه به پولیسو ته ووایي.

- که داسې وي نو د اجمل په خوشې کولو خو به هرو مرو دا کار کوي.

- نه داسې نه ده. منصور خو ده راوستی، که خبره افشا کړي، دی به هم بندي شي او بله دا چې که یې ورور خوشې شي، د افشا کولو ضرورت ورته نه پیدا کېږي.

ـ ته یې ولې هماغلته چاره نه کوې؟

آغا یوه شېبه غلی و بیا یې په ساړه انداز وویل: زما غږ یې په موبایل کې ثبت کړی.

ـ تا څه ویلي چې ده ثبت کړي دي؟

- هغه د ځانمرګي خبره چې مې ورته کړې وه.

ـ وه خدایه! ته څومره بېباکه وختې.

آغا څه ونه ویل.

ایراني وویل: موبایل به دې ځنې اخیستی و.

ـ سړی داسې خام نه دی. غږ یې په کمپیوټر کې هم سېف کړی دی.

- که مو راز افشا کړي؛ نو ټول پلانونه به مو شنډ شي.

آغا وویل: که هر خطر وي؛ نو ما ته به وي. هر څه دلته ما کړي دي. خو زه مطمین یم چې دوی به چا ته حال نه وایي.

ـ ته څنګه دومره اطمینان لرې؟

ـ که اجمل خوشې کړو؛ نو دوی به د خپل سر په خاطر چا ته غږ نه کوي. اجمل خو مو پوره وېرولی دی، ما جمیل ته خپل زور ښیيلی دی؛ خو که داسې ونه کړو، زه ډاډه یم چې جمیل به هرو مرو رسوایي جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایراني وویل: ګوره، ته ورته ووایه اجمل به په دې شرط خوشې کوو چې اول خپله کډه ایران ته راوړې. ورته ووایه چې موږ به ورته دایمي ویزه ورکړو.
ـ ګومان نه کوم چې وبه یې مني.
ـ ته خو ورته ووایه.
آغا جمیل ته زنګ وواهه، د ایران خبره یې ورته وکړه.
هغه وویل: بس دی، نوره توبه مې دې وي، د ایران خوند مو ولید.
آغا وویل: داسې نه ده، هلته به ازاد ژوند ولرئ. خرڅ خوراک به مو دولت درکوي. ګوره، دغه چانس هر چا ته په لاس نه ورځي. ته باید ډېر خوشحاله شي چې ایران درته دایمي ویزه درکوي. په دې دوړن وطن کې څه غواړې؟
ـ هر چا ته خپل وطن کشمیر دی.
ـ وه هلکه، ته لکه چې په خپل ښه هم نه پوهېږې، زه دې همدلته هم نیولی شم. دومره به دې وډبوم چې کمپیوټر دې پخپله راته راوړې.
ـ بې غمه اوسه، دومره ساده مې هم مه ګڼه. ستا غړا او عکسونه مې بل چا سره امانت ایښي دي. که زه یوه شپه هم کور ته لاړ نه شم، هغه به هر څه پولیسو ته وسپاري.
آغا له جمیله ناهیلی شو؛ خو ایرانیان یې قانع کړل چې اجمل ده ته حواله کړي. هغوی ته یې وویل چې اجمل ما ته راولېږه. ورور چې یې دی وګوري، پخپله به هر څه راته راوړي، بیا به یې د دواړو چاره زه پخپله وکړم.
ایرانیانو ورسره ومنله؛ خو دا یې هم ورته وویل چې تر هغې پورې چې منصور خپل کار نه وی کړی، دی دې اجمل پټ وساتي.
ده سبز ته د منصور د راتګ په دویمه ورځ اجمل هم د آغا د کور بندیوان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ده سبز کې ځانمرګی برید

د سهار لس بجې وې، حاجي آغا په کور کې دې خوا ها خوا ګرځېده،
د غلام نبي زنګ ورته راغی. ويې ويل: کار وشو، مبارک دې وي.
آغا ژر ټلويزيون چالان کړ. په یوه چېنل کې هم خبرونه نه وو. همداسې
يې چېنلونه سره بدلول رابدلول چې د شيرين آغا زنګ راغی. د برید
خبر يې ورکړ؛ خو هغه هم په جزياتو نه و خبر.
د لس نيمو بجو په خبرونو کې چا دا خبر ورنه کړ. يو ولس بجې وې چې
په یوه ټلويزيون کې د عاجل خبر انانس راغی. په خبر کې د شپږو
امريکايي سرتېرو د مړينې پخلی شوی و. په ويډيو کې يې يوازې له
لوی خوړ سره د سړک په غاړه کې يوه ژوره کنده ښکاره کړه، د موټرو
ټوټې يا سوځېدلي موټرونه په تصوير کې نه ښکارېدل.
آغا فکر وکړ چې سيمه له ښاره وتلې ده، خو پورې چې ژورناليستان
وررسېدل، امريکايانو به ټول شيان وړي وي. غلام نبي ته يې زنګ
وواهه چې وګوري هغه د پېښې ځای په خپلو سترګو ليدلی دی که نه؟
خو د غلام نبي ټيلفون بند و.
پر دوولسو بجو څو ټلويزيونونو د دفاع وزارت د خبرپاڼې په حواله
وويل چې ځانمرګی برید و او شپږ تنه امريکايان يې وژلي، لس نور
يې ټپيان کړي او درې موټرونه يې ويجاړ کړي دي.
حاجي آغا ايران ته زنګ وواهه. چې ټيلفون يې بند کړ، څېره يې
غوړېدلې وه.
وروسته يې جميل ته ټيلفون وکړ، ورته ويې ويل: راځه چې اجمل
دروسپارم. خو ګوره چې څه دې هېر نه شي. هر څه به راوړې.
حاجي آغا د مېز پر سر ايښې ټنې کېکښله، په دهلېز کې زنګ
وکړنګېد. د کانګفو په تورو جامو کې دنګ سړی مخ ته او دوه نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورپسې کوټې ننوتل، د حاجي آغا مخ ته ودرېدل، د کانګفویي احترام په طریقه یې له ملا څخه ځانونه کړوپ کړل او بېرته نېغ شول. د دوی سروال لاسونه د چلیپا غونډې پر ټټر ونیول او په لوړ اواز یې وویل:
قربان! بخښنه غواړم چې ځنډ مې وکړ، له هلکانو سره مې تمرین کاوه، امر وکړئ.
حاجي آغا وویل: فرامرزه! نن بیا یو ماموریت درته سپارم.
- قربان! هماغسې ماموریت؟
ـ هو، هماغسې. دلته به یو څوک راځي، جمیل نومېږي، د اجمل ورور دی. هر وخت چې ما درته وویل، دواړه به عزراییل ته سپارې.
ـ قربان! په کوم ځای کې؟
حاجي آغا وویل: دلته به یې بې سده کړې، بیا به یې په موټر کې دشت برچي ته وړې. هلته د خښتو په داش کې به یې اچوې.
فرامرز وویل: قربان! جسارت به مې راته معاف کړئ، نن خو به هره خوا تلاشي وي، د هغه ځانمرګي برید په خاطر.
- د «بنیاد» په امبولانس کې یې یوسه. امبولانس څوک نه تلاشي کوي.
دې سره حاجي آغا د لاس په اشاره هغوی وپوهول چې ووځي.
فرامرز او انډیوالانو یې بیا لک بوک شول او له کوټې ووتل.
جمیل په پینځه لسو دقیقو کې ځان ورورساوه. څنګه چې پر اجمل یې سترګې ولګېدې، لپ ټاپ کمپیوټر یې آغا ته ورکړ. ویې ویل: هر څه په همدې کې دي. یو فایل یې خلاص کړ. د آغا هغه پخوانۍ خبرې او نورې ټېلفوني مکالمې، ټولې په کې وې.
آغا د جمیل په سترګو کې سترګې ښخې کړې. ویې ویل: څنګه باور وکړم چې د دې کاپي درسره نشته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمیل وویل: ریښتیا درته وایم، بله کاپي یې په کور کې ده. ما ویل چې راسره چل ونه کړې. اوس چې مې اجمل ولید ؛ نو یو شی به هم ونه ساتم.
آغا وویل: زما نفر به درسره لاړ شي. ځو پورې چې بېرته راځئ، اجمل به همدلته وي.
آغا وسله والو ته وویل: هله، موټروان ته ووایه چې موټر چالان کې.
وسله وال چې ووتل، په انګړ کې دربې شو. آغا وارخطا پرده لرې کړه، له کړکۍ یې د باندې وکتل. په بېړه یې جمیل ته مخ راواړاوه، ویې ویل: د سپي زویه، کار دې وکړ؟
جمیل هم کړکۍ ته ورنږدې شو. انګړ له وسله والو ډک و. د وسله والو په لیدو یې له خولې څخه ووتل: اوه، دا نو څوک دي؟
حاجي آغا غوښتل چې څه ووايي؛ خو مجال یې ونه موند. ور په شدت سره خلاص شو او له دېواله سره ولګید ، د سترګو په رپ کې څلور تنه وسله وال چې پیکې شنې دریشۍ یې اغوستې وې، کوټې ته راننوتل. د آغا ، اجمل او جمیل لاسونه یې تر شا وتړل.
حاجي آغا په ۰۱۲ ریاست کې هغې کوټې ته وروستل شو چې غلام نبي، شیرین آغا ، ډاکتر سورج، جنرال امین او پینځه شپږ نور کسان وار له مخې په کې اچول شوي وو ؛ خو جمیل او اجمل ورسره نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ملګرو پلان

میوند او خیبر د منصور په واسکټ کې فیوز شنډ کړ، بیا یې داسې پلان ساز کړ چې د دفاع وزارت د استخباراتو ریاست به ورته د ملي اردو عسکر د امریکایانو په یونیفورم کې برابر کړي. له دوی سره به د امریکایانو زغره وال ګاډي او رېنجرونه هم وي. کتار به له بګرامه د کابل په لوري روانېږي. کتار به داسې وي چې هر څوک به د امریکایانو ګومان ورباندې وکړي.

خیبر به له خوړ سره د سړک په غاړه ریموټ والا ماین ښخوي. کتار چې خوړ ته راورسېد، منصور به ماین پټاو کړي. بیا به راډیو ګانو ته خبر ورکوي چې دلته ځانمرګی برید شوی دی.

پاو کم لس بجې کاروان له لرې ښکاره شو. منصور خپله رمه له خوړ سره خوشې کړې وه، په خپله سل ګامه پورته په بل خوړ کې پټ و. کاروان چې ورته نژدې شو، ده هغه نمبر ته زنګ وواهه چې میوند ورکړی و. تور شوورلیټ موټر له کاروانه بېل شو، د سړک څنډې ته ودرېد. منصور په بېړه وروخوت. نیم کاروان له لوی خوړ څخه تېر شوی او نیم نور یې د خوړ په بل سر کې و چې ماین وچاودېد، سرې لمبې او خړې دوړې پورته شوې. غلام نبي به له کلي څخه په دوربین کې دغه لمبې لیدلې وې چې آغا ته یې زنګ وواهه. چاودنه په خوړ کې شوې وه، هلته سړک څلور پینځه متره ژور و؛ نو د ورانۍ حال یې چا ته نه ښکارېده.

سیمه په بېړه کلابنده شوه او هېڅ څوک پرې نه ښودل شول چې د چاودنې سیمې ته ورنژدې شي. ژورنالیستان چې خبرېدل او سیمې ته رسېدل، دوی تللي وو.

ضرب علي د آغا د هغه ټېلفون شمېره پیدا کړې وه چې آغا به له ایرانیانو سره خبرې پرې کولې. دغه شمېره یو ازې امریکایانو ځارلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه. خیبر د هرې ورځې په ماښام د دې ټېلفون د مکالمو متن د امریکا له یوه کمپه رااخیست. په دې توګه دوی د آغا له هر پلانه خبرېدل.
د آغا د نیولو پلان ضرب علي برابر کړی و. څنګه چې جمیل د آغا کور ته راورسېد ، ضرب علي د امنیتي کامرو کمپیوټر داسې اعیار کړ چې د تېرې ورځې عکسونه وښیي. نو د ملي امنیت د عسکرو ورتګ هېڅ ته ښکاره نه شو.
دوی جمیل ناخبره پرې ایښی و خو دې ته یې پوره پام و چې هغه یا ورور ته یې زیان ونه رسېږي.
د میوند او خیبر ډلې اول غلام نبي، د جومات له امام او د ده سبز د مدرسې له استادانو سره ونیول. وروسته د شیرین آغا او جنرال لاسونه په خپلو دفترونو کې وتړل شول. ډاکتر سورج یې هغه وخت په روغتون کې ونیو چې جمیل د آغا د کور په نیت له روغتونه وتلی و.
وروستی کس آغا و چې ۰۱۲ ریاست ته وروستل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ولسمشر فرمان

د آغا او انډيوالانو تر نيولو وروسته، له ټولو څخه تحقيق پيل شو.
۰۱۲ رياست د عمومي رياست له لارې، د امنيت شورا ته خبر ورکړی و چې ايران، هند او روسيه په ګډه او د آی اس آی په همکارۍ زموږ د هېواد پر ضد ورانکاري فعاليتونه کوي.
ميوند ، خيبر، ضرب علي او منصور دې ته منتظر وو چې کله به خبري کنفرانس جوړېږي او دوی به د خپلو هڅو نتيجهويني. ضرب علي لا د وخته د ميوند او خيبر په ټينګار سره په ۰۱۲ رياست کې مقرر شوی و.
د دوی رييس دغه زيری هم ورباندې کړی و چې دوی ته به د ولسمشر په فرمان مډالونه ورکول کېږي. هغه ويلي وو چې ولسمشر ته يې په دې اړه د رياست غوښتنليک ورلېږلی دی.
د نيونې په دويمه اوونۍ په کابل کې بلوا جوړه شوه. په دارالامان کې د هزاره ګانو او کوچيانو تر منځ لانجه جوړه وه. هزاره ګانو ويل چې کوچيانو د دوی هديرې لاندې کړې دي؛ خو کوچيانو ويل چې هزاره ګانو يې پر کېږديو حمله کړې ده، خيمې يې ورسوځولې او څو تنه يې وژلي دي.
پوليس چې ورغی، ورباندې ډزې وشوې، دوی هم متقابلې ډزې وکړې، په منځ کې څو کسان په مرميو ولګېدل. همدا وه چې له دارالامانه تر کوټه سنګي پورې لارې کوڅې په قهرجنو مظاهره چيانو ډکې شوې. دوکانونه لوټ شول، هنداري ماتې شوې، د درمان روغتون ټول وسايل چور شول. مظاهره چيانو د پوليسو کوټې وسوځولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خلکو کې وېره پیدا شوه چې د تنظیمي جګړو دور بیا رانه شي.
پولیسو ته د ډزو اجازه نه وه، مظاهره چیان هم په بله نه پوهېدل، همداسې پر مخ روان وو.
هېڅوک نه پوهېدل چې دو مره وړه لانجه څنګه داسې غټه شوه.
میوند دوی د رییس په دفتر کې منتظر وو چې هغه راشي. هغه له عمومي رییس سره یو ځای ارګ ته تللی و چې د خپلو کارکوونکو د مېړالونو فرمان په خپله راوړي او دغه زېری په خپله ورباندې وکړي.
رییس تر ماښامه رانه غی. میوند دوی خپلو کورونو ته لاړل. سهار اته بجې بیا د رییس دفتر ته لاړل. رییس د دوی په لیدو داسې وموسل لکه وچ د زړه په زور چې وخاندي. میوند دوی ته یې د ناستې وویل.
پخپله په دفتر کې په ګرځېدو پیل وکړ. سر یې ټیټ نیولی و، ته وا په کومې مهمې موضوع باندې به فکر کوي. وروسته یې اسویلی وکېښ، لویه ساه یې واخیسته. بیا یې وویل: پوهېږئ، بېګاه ولسمشر تر سخت فشار لاندې و.
بیا غلی شو.
خیبر وویل: د پرونۍ مظاهرې په خاطر؟
رییس وویل: هو.
میوند وویل: داسې مظاهرې خو پخوا هم شوې دي، بېګاه خبره خلاصه شوه
رییس یې خبره ورپرې کړه: نه، دا ځل مسئله بل خېل ده.
میوند وویل: دا دومره د ډاډ او ډېډې آر کیسې نو څه شوې چې لا په کابل کې تنظیمي وسله وال پراته دي، په کابل کې چې داسې ده؛ نو د ولایاتو به څه حال وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرب علي وويل: په «بنیاد امام» کې به هر وخت تر ضرورت زیاتې وسلې پرتې وي. د سلاح کوټ کیلي به تل له آغا سره وه. څوک څه پوهېږي چې اوس یې له سره وسلې نه وي ویشلې؟
رییس وویل: پوهېږئ، ولسمشر ته یې ګوابښ کړی دی چې بلوا به ټول کابل ولړزوي. د ارګ تر دروازو به ورسېږي. تر مزار و تر بامیان و غزني و تر دایکندي پورې به یو ځای هم ارام پاتې نه شي.
منصور وویل: خبره خو دومره نه وه غټه. د کوچیانو او هزاره ګانو وړه لانجه وه، خلاصه شوه، نور نو څه غواړي؟
رییس ورته په چوپه خوله وکتل، بیا یې سر کښته واچاوه، په ارام غږ یې وویل: د بندیانو ازادي.
میوند په بېړه وپوښت: د کومو؟
د رییس پر شونډو داسې موسکا خوره شوه، لکه له غوسې چې وخاندي، ویې ویل: دغه چې تاسو نیولي دي.
د منصور له خولې په بېړه ووتل: دا څه وایې؟
ټولو هک پک یو بل ته وکتل. ضرب علي وپوښت: تاسې څه فکر کوئ؟ ولسمشر به یې خبره ومني؟
رییس د مېز له سره مکتوب پورته کړ. خیبر ته یې کړه: دا ولوله. د ولسمشر فرمان دی.
څلور واړو ملګرو په ګډه فرمان ولوست. په فرمان کې لیکلي وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملي امنيت عمومي رياست ته .

**د ملي مصالحو په خاطر امر کوم چې دغه کسان خوشې کړئ او د هغوی دوسيې د تل لپاره بندې کړئ:**

**۱. هندي تبعه ډاکتر سورج**

**۲. د «بنياد امام» عمومي مدير سيد علي اصغر توکليان**

**۳. جنرال امين الله اعتماد**

**۴. د ملي امنيت کارکوونکی شيرين آغا**

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت رييس
حامد کرزی

**پای**

**۱۳۸۹ د تلې شلمه**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**